Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل ښار

د پيړيو په اوږدو کې





لیکوال: پوهاند غلام جیلانی عارض

ژباړونکی: د سرخیړونکی مرستیال نصر الله ناصر

۱۳۸۱ لمریز کال - ۲۰۰۲ میلادي کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : کابل بنار د پېړیو په اوږدو کې

لیکوال : پوهاند غلام جیلانی عارض

ژباړن : د سرخپرونکی مرستیال نصر الله ناصر

د پښتی عکاسی: محمد رفیع فاروق

خپروونکی : د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره

پرله پسې نومره : ۹٤

لومړی چاپ : ۱۳۸۱هـ.ش کال، د خپروونکي له خوا، پیښور

چاپ شمېر : ۵۰۰ توکه

دمخونو شمیر : ۱٤۰

کچه : ۱۳,۵ × ۲۱ سانتی متره

د خپروونکي پته : دویم کور ، رحمان بابا روډ ،

پوسټ بکس: ۱۰۸٤ ، پوهنتون ټاون - پیښور

تیلفون: ۸۵۰۸۳۹ - ۵۷۰٤۳۹۲

۵۷۰۲۵۳۱ - ۵۷۰۲۹٦۲

۸٤۱۲۹٦

فکس: ۹۱-۸٤۰٤۷۱.

الکترونیکي پوسټ: aric@brain.net.pk

کمپوز او چاپ : احمد پرنټنګ پریس ، تیلیفون ۲۱۵۵٤۰

دویش او پلورنې ځای: داکبر دفتر (دافغانانو له پاره د مرستو د انسجام اداره)

د کتاب له مطالبو څخه اقتباس د مأخذ په ښودلو سره جایز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د اکبر د اطلاعاتی او نشراتي منابعو مرکز (اریک) له پنځوو کالو راهیسې د افغانستان ولایتونو ته د ګرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نیولي دي. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په یو خاص ځای کې ایښودل کیږي. د سیمې خلک ورځخه امانت کتابونه وړي، لولي یې او خپلو شاوخوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لیږدول کیږي او یا پرې یوشمیر نور نوي کتابونه ورزیات او هماغه ځای کې پاتې کیږي.

مونږ دا هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه راټول کړو چې دلیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځنۍ ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، بنووونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او... مسایلو کې مرسته وکړي.

مونږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم ترسره کوو چې خلک څه ډول آثارو او موادو ته اړتیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هیله من دي. مونږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بیلا بیلو منابعو (کتاب پلورنځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو. په نومورو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اریک هڅه کوي چې د اړتیاوړ آثارو په تألیف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

د دغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور څلور کاله

لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کار پیل شو اوله هغه وخت راهیسې تراوسه پورې داریک ګرځنده کتابتونونو اداره د محترمو همکارو مؤسسو په مرسته په دغه برخه کې پیاوړي ګامونه اخیستي او ګټور فعالیتونه یې ترسره کړي دي.

د بنه او سیستماتیک کار له پاره د اریک د اداري استازیو او یوشمیر ځیړونکو او لیکوالو یوګډ هیأت وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ کولو پراوونه چې د تکړه او مسلکي لیکوالو له خوا تألیف کیږي، په ګډه پر مخ بوځي.

دغه هیأت د افغانانو د صمیمې همکارې میرمن نانسي هـچ دوپري، سیدمحی الدین هاشمي، خواجه غلام جیلاني شبل، فیض محمد نایاب عطایی محمد شکیب افضلي او محمد رفیع فاروق څخه تشکیل شوی دی.

مونږ له خپلو ټولو درنولو ستونکو څخه چې د هیواد په بیلا بیلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې زمونږ له کتابتونونو څخه ګټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هیواد له لیکوالو او پوهانو څخه غواړو چې چه له مونږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لا ښه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره

دویم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

سرليکونه مـــخ

سريزه ..... ۱ - ۲

لومړی څپرکی

د کابل موقعيت، کابل د ښار په توګه، کابل د ولايت په توګه، کابل د يوې حوزې په توګه، د کابل اقـــليم، د کابل جيولوژيکي جوړښت، غرونه، غاښې، د کابل سيندونه، ويالې، په کابل کې د اوبو رسولو معاصرې شبکې، ..... ۳ - ۲۶

دويم څپرکی

د کابل د تسميې وجه او تاريخي لرليد، کابل له اسلام څخه مخکې، کابل د کوشانيانو په دوره کې، کابل د اسلام په وخت کې، کابل د مغلو په دوره کې، کابل د احمد شاه درانې او تيمـــور شاه په وخت کې، د کابل تاريخي ځايونه. ..... ۲۷ - ۴۹

دريیم څپرکی

د کابل د ښار لرغونی نقشه، د ځمکو جوړښت. ستراتيژيکي نقش، تجارتي نقـــش، مذهـــبي نقـــش، د کابل ښاری شبکه، د لرغـــونې کابـــل اجـــزاوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معاصر کابل نقشه. ۵۰-۷۰

څلورم څپرکی

د کابل ښار د سیاسي مرکز په توګه. ۷۱-۸۶

پنځم څپرکی

د کابل ښار د وګړو شمیر، په کابل کې تلګراف، د کابل په ښار کې تیلفون، مشهور ځایونه، زیارتونه، تفریح ځایونه، د کابل په ښار کې ډوډو نه او رواجونه، د کابل په ښار کې د ترافیکو دوران. ۸۷-۱۰۷

شپږم څپرکی

په کابل کې د صنایعو او تخنیک پرمختیا، چاپ او خپرونې، د کابل مشاهیر. ۱۰۸-۱۲۳

اووم څپرکی

د کابل نزولي حرکت او د ړنګیدو پړاو، د کابل د بیا رغونې لپاره څه باید وکړو؟ ۱۲۴-۱۳۱

- د ماخذونو لړلیک ۱۳۲

ســـريـــزه

کابل، دغه تاريخي، سياسي، ستراتېژيکي بنکلی بنار او د افغانستان پلازمېنه، د هيواد د ټولو اقتصادي او ټولنيزو فعاليتونو د ودې او بشپړتيا ځانګو ګڼل کيږي. کابل د زمانې په بيلا بيلو پراوونو کې د ډول ډول تاريخي پيښښو شاهد دی. د کابل شاهانو له لومړني مدنيت څخه بياتر نن ورځې يې زيات شمير پاچاهان د قدرت پر ګدۍ کښينولي، ډير متحارب او متعرض تيری کوونکی يې د دې سېيځلی خاورې په ګوټ ګوټ کې تر سخت فشار لاندې نيولي او له منځه يې وړي دي. کابل د بلخ او غزنی د مدنيت له سقوط اوړنګيدو وروسته د پوهانو، عالمانو او د تاريخ د نومياليو د روزنې لومړنۍ او پيژندل شوې ځانګوده. د هغه د پوهنې رنا او ځلاهرې خواته خپره او د معرفت محراق دی چې د غې رنا خپلې وړانګې له همدې بناره د افغانستان نورو بنارونو ته خپرې کړي دي. د لومړنيو بنوونو له پيل څخه بيا د پوهنتونونو او لوړوزده کړو تر پرمختګ پورې، کابل د زده کوونکو او څېړونکو او استادانو د لارې مشال دی. کابل د شمال، جنوب، ختيځ او لويديځ د لويو لارو د پيوستون او يو ځای کيدنې سيمه ګڼل کيږي چې د دغو فرهنګونو په يوځای کيدو کې د ختيځې او لويديځې نړۍ تمدنونو مهم رول درلودلی دی. د وريښمو د لارې کاروان، د اورګاډي لومړنۍ کربنه او لومړنی موټر له همدې بنار څخه د افغانستان نورو بنارونو ته خوځيدلي دي. کابل فعالې ترانسپورتي لارې او هوايي ډګرونه لري چې مثبتې اغيزې يې په ټولنيزو او اقتصادی فعاليتونو کې د نورو بنارونو مرستندويې ګڼل کيږي. کابل د زمانې په اوږدو او بيلا بيلو

عصرونو او پیړیو کې د خپل لرغونی تاریخ ژوندی شاهد دی چې د شیر دروازې او آسمایی غره پرسر د هغه مارپیچ او کوروړ د یوال د هغه د لرغونی اوروښانه لرلید بنکار ندوی دی.

«حـصار مارپیچـش اژدهـای گـنج راماند»

«که میارزد به گنج شایگان هرخشت د یوارش»

د چکړې، چهلستون او خورد کابل څلې هغه نور شاهدان دي چې هغه د تاریخ په بیلا بیلو ابعادو کې ځلوي. د هغه لرغونې او معاصرې ودانۍ د کابل تدریجي پراختیا ښیي. بالاخره دوروستیو دو ولسیزو ورانۍ او تخریبات د هر اوسیدونکي هیواد وال زړه ته ټکان ورکوي چې د بنسټ پالنې پرمبنا د هغه د ښاري بیرته پاتیوالی او انحطاط بنکار ندویي کوي. کابل لاتراوسه پورې د افغانستان د پلازمېنې او مرکز په توګه له خورا زیات اهمیت څخه برخمن دی چې د هغه د تولنیزې، تاریخي، اقتصادي او هراړخیزې ودې ښیګنې د دې اثر په بیلا بیلو برخو کې څیړل شوي دي. د کمیت او کیفیت له مخې په هره ارزښتمنه برخه باندې خبرې شوي چې د ګرانولو ستونکو د ګټورو او مفیدو نظریو پربنسټ د دې رسالې ګټورتیا او اغیزمنتیا لاپسې ښه کیدای شي.

زه د دې رسالې د لیکوال په توګه د اکبر د محترمې مؤسسې د اریک د ګرځنده کتابتون د پرله پسې زحمتونو او نه ستړې کیدونکو هڅو چې تل یې د افغانستان د ملي ویاړونو د راژوندي کولو په لارکې کوي، په ډیرې مننې سره یادونه کوم او د لازیاتو بریالیتوبونو هیله یې کوم.

پوهاند غلام جیلانی عارض

د کابل پوهنتون استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

د کابل موقعیت

د کابل جغرافیایي موقعیت د ښار، ولایت یا حوزې په توګه د اداري او سیاسي ځانګړو مفاهیمو له نظره هریو بیلا بیلې وجهې لري چې دلته به یې په جلا جلا توګه تر څېړنې لاندې ونیسو:

کابل د ښار په توګه:

د کابل ښار په خپل اوسني موقعیت غالباً (۳۵۰۰) کاله پخوا یو کلي واوبس. د هغه لومړنی کرنیز کلی د آسمایي غره د ختیځ په ځوړو کې د اوسنیو ده افغانانو او د کابل سیند ترمنځ له ختینو کورونو څخه آباد او جوړ شوی و. د وخت په تیریدو سره د کابلشاهانو د واکمنۍ په دوره کې د کابل بالاحصار د شیر دروازې او آسمایي غرونو د شاوخوا د یوالونو په اساس ډیر انکشاف وکړ او دیوه دفاعي، ستراتژیکي ښار په توګه د کابلشاهانو د حکومت یو سیاسي ښار شو (۹۰ ق م). له دې وروسته دغه تاریخي ښار د دفاعي، سیاسي او تجارتي ارزښت پر بنسټ د پیړیو او مهالونو په اوږدو کې اوسنۍ حالت ځانته غوره کړ. د هغه دقیق جغرافیایي موقعیت په دې ډول تر لاسه کولی شو:

دهغه وروستۍ شمالي برخه د شمالي عرض البلد ۳۴ درجې او ۳۵ دقیقې.

د هغه وروستی جنوبي برخه د شمالي عرض البلد ٣٤ درجې او ٢٦ دقيقې.

د هغه وروستی ختيځه برخه د ختيځ طول البلد ٦٩ درجې او ١٧ دقيقې.

د هغه وروستی لويديځه برخه د ختيځ طول البلد ٦٨ درجې او ٥٤ دقيقې.

د کابل بنار له مرکز څخه د شمالي عرض البلد ٣٤ درجې او ٣١ دقيقې او د ختيځ طول البلد ٦٩ درجې او ١٢ دقيقې تيريږي.

له شمال نه د جنوب پرلور د بنار پراختيا ١٣ کيلومتره اوله ختيځ نه لويديځ خواته ١١ کيلومتره ده، مجموعي مساحت يې ٢٨٦ کيلومترو ته رسيږي. د خيرخانې، هزاره ءبغل او خواجه رواش غرونه د هغه شمالي وروستی برخه، جنوب ته يې سرآسياب، ختيځ لورته يې څرخی پول او تنگی غارو او لويديځ ته يې د پغمان دوه لارې واقع دي. له سمندر څخه د کابل د سطحې لوړوالې (١٨٠٣) متره او د شير دروازې له څوکې څخه ٢٢١٨,٥ مترو ته رسيږي.

کابل د ولايت په توګه:

د کابل ولايت چې (٤٥٨٥) مربع کيلومتره مساحت لري د افغانستان په جنوب ختيځ کې پروت دی. شمال ته يې د پروان او کاپيسا ولايتونه او جنوب ته يې د لوګر ولايت، ختيځ ته يې د لغمان او ننګرهار ولايتونه او لويديځ ته يې د وردګو ولايت واقع دی. نفوس يې (٢,١٠٧,٧٦١) تنه او په هر مربع کيلومتر کې يې د اوسيدونکو شمير (٤٥٩) تنه دی. د کابل ولايت لاندينۍ اولسوالۍ او علاقه داري لري:

چهاردهي، پغمان، بګرامي، ده سبز، ميربچه کوټ، قره باغ، سروبی،

شکردره، استالف، خاک جبار، چارآسیاب او کلکان. د کابل ډیره لوړه نقطه د پغمان غر دی چې د سمندر له سطحې څخه ۴۷۰۰ متره لوړ والی لري.

کابل د یوې حوزې په توګه:

بابر پاچا په تزک بابری کې دغه موضوع داسې تشریح کړې ده چې په صراحت سره د کابل حوزه افاده کوي: «کابل له څلورم اقلیم څخه دي او د معمورې په منځ کې واقع دی ختیځ ته یې لغانات (لغمان)، پرشاور، کاشغر، لویدیځ ته یې هغه غرونه دي چې کرنو اوغور په همدغو غرنیو ځایونو کې دي، شمال ته یې د قندز ولایت او اندراب پراته دي، د هندوکش غر یې ترمنځ دی او جنوب ته یې فرمل او تغروبنو پراته دی.».

په دې ترتیب د کابل حوزه له هغو سیمه ییزو مفاهیمو څخه ده چې د کابل د سیند له سرچینې نه تر هغو چې شمالی او جنوبی مرستیالان ورسره یوځای کیږي، بلکې لاله هغه هم وړاندې د کابلستان پراختیا بیانوي.

د کابل اقلیم:

د کابل د ښار او ولایت اقلیم په یوه ورته او همشکله ردیف کې واقع دي، ځکه چې د کابل ښار په کابل ولایت کې د یو جزء په توګه موقعیت لري. د کابل په اقلیم کې اغیزمن عوامل تر ټولو لومړی د شیردروازې، آسمایي، د پغمان او د قوروغ د غرونو شته والی دی، چې د کابل پر آب و هوا د کتنې وړ اغیزه لري. د سمندر له سطحې څخه لوړ والی د هغه یوې لې عامل دی، کابل ۱۸۰۳ متره، د پغمان غر ۴۷۰۰ متره او د شیر دروازې غر ۲۲۱۸,۵ متره د

بحرله سطحې څخه لوړ پروت دی، چې د پسرلي او ژمي په لومړیو کې واورین وي، د هغه د پسرلي او یا د مني بارانونه د کابل په بنبار او ګاونډیو کلیوا ویاندو باندې د یادونې وړ اغیزه لري.

د ژمي د سړو بادونو لګیدل چې د شمالي صفحاتو له لوري د کابل په لورچلیږي، په تیره بیاد سایبریا ساړه بادونه یا د ژمي په مهال سړه جبهه دواورې او باران داورید و سبب ګرځي او د پسرلي په لومړیو کې د کسپین د سمندر ګي له لوري مرطوب جریانونه د حمل او ثور په میاشتو کې د وقفه یې اورښتونو سبب کیږي او په همدې توګه په اوړي کې د فارس د خلیج مرطوبه هوا د کابل په بنبار کې د مؤقتي اورښتونو سبب ګرځي. په پسرلي او اوړي کې د شمال له خوا د چاریکارو او ریګروان په استقامت د موسمي بادونو چلیدل د کابل په چاپیریال او د هغه په شاوخوا سیمو زیاته اغیزه لري، حتی تر دې چې د عمومي واټ په غاړه یې د توت ونې تریوې اندازې د کابل لور ته کیږې کړې وې. همدارنګه د پغمان د غره له خوا د کابل په لور سیمه ایز بادونه محسوس دي. په خاص ډول په ګذرګاه کې ډیر ساړه وي. چې د پامیر سینما او هارتن پله په برخه کې شدید او ځپونکي بادونه رامنځ ته کوي.

په اوړي کې له غرمو وروسته د شینې او بګرامیو د غرونو په استقامت له دوړو او خاورو سره یو ځای نور سیمه ییز بادونه د کابل پر خوا چلیږي چې چټکتیا یې په یوه ثانیه کې له (١٥) نه تر (٢٠) مترو پورې رسیږي. نسبي لنده بل په اوړي کې ډیر لږ او د تبخیر اندازه یې د اورښت په پرتله دوه درې ځله زیاته ده. په ١٩٧٨ کال کې د کابل د تبخیر تولې اندازه (١٦١٠) ملي مترو او په کاریز میر کی (١٤٢٠) ملي مترو وه، په داسي حال کی چې کابل کی د

اورښت د يره لوړه کالنی اندازه له (٤٩١) ملي مترو څخه تيری نه کوي. په کابل کې د کالنې اورښت تيه اندازه (١٩٠) ملي متره او په وروستيو چکاليو کی له (١٠٠) او (٢٠٠) ملي مترو څخه نه زياتيږي چی د ځمکې لاندې اوبو د ښکته کيدلو لامل گرځيدلی دي.

د کابل د تودوخي درجه هم د بدلون په حال کې ده. د تودوخې لوړه اندازه يې د سانتي گريډ له ٣٤ نه تر ٤٠ درجو او تيته اندازه يې ١٠ درجې او په ژمي کې د سانتی گريډ منفي ١٥ درجو ته رابښکته کيږي. د کابل په ښار کې د هوا پيژندنې ارقام څرگندوي چې د کال په څلورو فصلونو کې د تودوخې درجه په منځنی توگه لاندينې نوسانات طی کوي:

- د وري په مياشت کې د سانتي گريډ له ٢٣ درجو څخه تر ٤ , ١ درجو، د لمر د لگيدو زاويه ٥٥ درجې او ٥٧ دقيقې.

- د چنگاښ په مياشت کې د سانتي گريډ له ٧ , ٣٤ درجو څخه تر ١٤ درجو، د لمر د لگيدو زاويه ٧٧ درجې او ٥٧ دقيقې.

- د تلې په مياشت کې د سانتي گريډ له ٨ , ٣١ درجو څخه تر ٣ درجو، د لمر د لگيدو زاويه ٥٥ درجې او ٢٧ دقيقې.

- د مرغومي په مياشت کې د سانتي گريډ له ٢ , ١١ درجو څخه تر منفي ٧ درجو، د لمر د لگيدو زاويه ٣١ درجې او ٥٧ دقيقې.

د دې ارقامو او شميرنو له کتنې څخه څرگنديږي چې د کال په اوږدو کې د تودوخې درجه د څلورو فصلونو له نظره او هم د لمر دلگيدو د زاويې له نظره د بدلون او نوسان په حال کې وي.

د موضوع بل عامل د سيوري او لمر خواته د ځوړو او غرنيو سيمو موقعيت دی چې د کابل په اقليم باندې مستقيمه اغيزه لري؛ د بيلگې په توگه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آسمايي ځوړې سيورنې برخې چې نظر لمرنيو ځوړو برخوته سړې دي. په همدې توګه د قوروغ او شير دروازې د غرونو په شمالي او جنوبي ځوړو برخو کې دغه عامل خپله خاصه اغيز منتيالري. په شمالي عرض البلدونو کې د هغه موقعيت او له سمندر څخه لريوالې هم د کابـل او د کابل د بنارد اقليـم په ځانګړنو مستقيم اغيز بنندی ، پردې اساس د کابل اوړي وچ او ګرم او ژمي يې سوړ ، او يوځه بارانی وي چې دوچ تحت استوايی اقليم څرګندوی او بنودونکي دي.

محل: کابل

ګلني اوربنت	منځنی تودوخه د سانتی ګريد په حساب	۲-
مرغومی	۳۱	
سلواغه	۵۵	.
کب	٦۵	٦
وری	۹٤	۱۱
غويي	۲۸	۱٦
غبرګولی	۲	۲۲
چنګابن	۷	۲٤
زمری	۳	۲٤
وږی	۱	۱۹
تله	۳	۱۲
لړم	۱۸	۵
لينډی	۳۳	.
په ټول کال کې	۳٤۰	
ملی متره		

د کابل جیولوژیکی جوړښت:

د کابل جیولوژیکي وضع د کابل د بنار او ولایت په کچه په ورته او مشابه جوړښت ولاړه ده، ځکه جیولوژیکي اغیزې پراخې سیمې راچاپیروي چې لږ تر لږه په یوه نسبتاً لویه حوزه کې شاملې وي.

د کابل بنار په شمول د کابل ولایت یو ملیون کاله مخکې د تنګی غاروتر سیمې یولوی سمندرګی جوړاوه او د ګذرګاه په سیمه کې هم د پغمان او للندرد اوبو په وړاندې یولوی د یوال موجودو. د یخچالي دورې په پای کې چې نورې سیمې یخچالونو پوښلې وې، سخت اورښتونه رامنځ ته شول او دغه لوی سمندرګی له اوبو ډک شو. د هغه په ځمکه باندې له ۲۵ - ۲۰ مترو ډول ډول پریږو رسوبونو تراکم وکړ. دغه سمندرګي د تنګي غارو خواته ورو ورو خپله لارو موندله او په تدریجي توګه یې د ماهیپر پرلور په اوسني ژوروالي د یوې وړې درې د کیندلو په ترڅ کې د بنویدلو تخریبات عملي کړل. اوبو د تنګي غارو له لارې حرکت وکړ، په نتیجه کې هغه سمندرګی چې د کابل ولایت په سیمه کې و، ورو ورو بنکته شو، تر هغو چې د قاعدې د تل رسوبونه ورسید او دغه رسوبونه په بیلا بیلو سیمو کې د للندر اولو ګردسیند، د پغمان د کوچنی سیند (چمچمه مست) له تګلوري سره یوځای د اوبو د مجموعي جریان په واسطه پرې شوې، په هغو ځایو کې چې د اوبو د تګلوري رسوبونه نرم اوله منځه وړي دي، ځمکه اواره او یا یې د اوسنیو سیندونو آرام ځای (بستر) او د موسمی سیلاوونو مجرایې جوړوله. په کوموځایونو کې چې رسوبونه سخت وو د ځمکې له سطحې څخه لوړ پاتې شوی، بیلا بیلې غونډۍ یې رامنځته کړي، لکه د مرنجان غونډۍ، د شهرآرا (برکی) غونډۍ، د کلای بلند غونډۍ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلوله پشتې غونډۍ، د بې بې مهرو غونډۍ او څرخی پله ته څېرمه غونډۍ. که په ځیر سره وکتل شي، ددغو غونډیو څوکې ټولې یو ډول جګوالی لري او سیندی او یخچالی رسوبونه په ورته ډول درس له خاورد سیند او کنګل له کرېرونو څخه جوړې شوي موازي طبقی په هغو کې ورته بڼې لري، د زیږو کنګلی شګو طبقې او د کانګلو مراتونو کلکې کتلې چې له یو بل سره سمټ او سختې شوي وي، له شګو او کر یر سره یو ځای د یو بل له پاسه لیدل کیږي، خو د کابل سیمه په منځنۍ جیولوژیکي دوره کې ټوله د یوه ستر سمندر تیتس Tethys په نامه په اوبو پوښل شوې وه او د دوړې په پای کې د همالیا، الپ او هندوکش له لرې یو سره یو ځای د صعودی خوځښتونو په نتیجه کې یې اوسنۍ لړۍ رامنځته کړې، دالړۍ د صعودي خوځښتونو په نتیجه کې یې اوسنۍ لړۍ را منځته کړې، دا لړۍ د صعودی خوځښتونو په وخت کې په بیلا بیل لوړوالي سره ځای پر ځای شوي او د تخنیکي خوځښتونو د سختوالي له امله په دغو غرونو کې، پیچلتیا وي، انحناوي او ماتېدنې رامنځته شوې. ځینو غرنیو غاړو په بدلیدونکو ډبرو او د بیلا بیلو منرالونو په ترکیب سره تبارز وکړ. دهر غره د پریوتو لوری بیل او میلان یې په ځانګړو زاویو سره رامنځته شو د غرونو د غه لړۍ زیاتره له ختیځ څخه لویدیځ ته پرتې دي او ځینې کوچنۍ څانګې یې په استثنایي توګه شمال - جنوب لوري لري؛ لکه د پغمان غر، ددې غرونو ژورې او لوړې برخې بدلیدونکي ډبرې لري، په هره لړۍ کې زیاتی کوچنۍ او ستړې ماتیدنې لیدلې کیږي. د چمن سټره ماتیدنه چې له پامیر څخه پیل شوې او له کابل ولایت څخه تیریږي او د ماتیدنې یوه بله کرښه د پغمان د غره په اوږدوالي کې هم شته.

خو د کابل او نورافغانستان جیولوژیکي جوړښت پیچلي دي، ځکه د بیلا بیلو دورو ډبرې له یو بل سره یو ځای شوې دي، کله یو په بل کې تداخل لري چې تشخیص او تفکیک یې د ډې څانګې عالمان له زیات غور او ځیرتیا سره مخامخ کوي، نو په دغو څلورو دورو کې مطالعه کیږي:

۱- پري کامبرین:

د کابل شاوخوا خورالرغونی جیولوژیکي ډبرې چې د پري کامبرین په دورې پورې اړه لري، ابرک لرونکی شېست، زرغون شېستونه او د کرستالین او ګنېز آهکونه لري.

۲- پالیوزوییک:

د کابل په جنوب لویدیځ کې د پالیوزوییک ډبرې، شګلنی آهکی بدلیدونکی ډبرې دي، هغه آهکونه چې د پغمان غره د شمال ختیځ په وروستۍ برخه کې لیدل کیږي د منځنۍ دورې په دویمه پیړۍ کې رامنځته شوي دي، د خورد کابل په حوزه کې د کاربن په پیړۍ پورې مربوطې آهکي ډبرې دي. برسیره پردی په پای کې یې خاکستری آهکی ډبرې او نور رنګي آهکي ډبرې هم رامنځته کړې دي.

۳- مزوزوییک:

د معرفت الارضی په منځنۍ دوره کې بدلیدونکي ډبرې او رسوبونه د مرمر او تباشیر له نوعې څخه دي. خو د کابل په جنوب ختیځ د کابل او بتخاک

په حوزه کې خړ رنګه شفافې آهکي ډبرې لیدل کیږي چې بیلا بیل فوسیلونه لري. حیواني او نباتي متحجره پاتې شونې هم په هغو کې ترستر ګو کیږي، د کول حشمت خان په نامه چې د کابل په لویدیځ کې کوم کوچنۍ جهیل شته د پخوانۍ ستر سمندر پاتې شونې دي چې د هماليا د څارویو فوسیلونه په کې تشخیص شوي او بیلا بیل آهکونه پکې لیدل شوې دي.

٤ - سینوزوییک:

د هندوکش د غره زیاتره لړۍ او څانګې یې په دې پراوکې د خپل تشکل او بشپړتیاله حالت سره مخامخ شوی، د پغمان، شیر دروازې، اسمایی، قوروغ، بګرامیو، کوه صافی او د تنګي غارو شاوخوا غرونه را منځته شوي او د دغو غروونو په صعود یا پورته کیدو سره یخچالي دورې پیل شوې، د اوبو د جریاناتو له آثارو څخه رسوبات را منځته شول، د کابل د سیند په دوا ړو غارو کې سمندري شګلنې ډبرې او یخچالي رسوبات را منځته شول چې نښې نښانې یې د کابل په اوسنیو غونډیو کې په ډاګه لیدل کیږي.

د پغمان په غره کې د اوسپنې شته والی په دې سیمه کې د فلزاتو بډاینه وړاندې کوي. د امیر شېرعلي خان په زمانه کې یې د دغې سیمې له اوسپنې څخه د کابل په ماشینخانه کې وسلې او افزار برابرول. په ماهیپر کې د شاه مقصود، تلک او د ابرک د ډبرو کان او د نغلو په غرونو او لوګر کې د مسو کان د کابل په حوزه کې د زیاتو فلزاتو د شته والی مصداق دی چې په بیلا بیلو جیولوجیکي دورو کې را منځته شوي دي.

په چهلستون کې د ګارنټ مایکاشیست ډبرې او د للندر په دره کې د

چونې ډبرې آن د مرغګيرانو په دره (د قوروغ د غره په لويديځ) کې د بورانښمو په ترکيب سره ډير مهم جيولوژيکي ارزښتونه دي. په هزاره ء بغل کې د مرمر ډبرې چې دودانيو لپاره ضروري دي د مزو زويـيک د منځنۍ دورې د بدليدونکو ډبرو تعاملات څرګندوي.

د ماهيپر په سيمه کې ستر درز (فالت) ليدل کيږي چې آن د نغلو د بند د لويديځې رسوبي ساحې د طبقو په ميلان باندې يې اغيزه کړې ده. په هر حال په کابل او هندوکش کې جيولوژيکي خصوصيتونه پيچلي دي چې د علي آباد په غرونو او د سيلو په استقامت په لويديځو ځوړوکې دغه پيچلتيا وې او انحناګانې په هماغو پيچلتياو سره په ډاګه کيږي چې د دغې څانګې د څيړونکو لپاره د پاملرنې وړ دي.

غرونه:

د هغو غرونو لړۍ چې د کابل په ښار او ولايت کې شته او د غې سيمې ته يې ښکلې طبيعي او دفاعي منظرې وربښلي دي په دې ډول دي:

د آسمايي غر:

دغه غر د کابل د اوسنې ښار په نږدې مرکز کې پروت دی او په حقيقت کې د شيردروازې د غره لړۍ ده چې د ګذرګاه په سيمه کې په يخچالي دوره کې له يو بل سره نښتی او يوځای وو، خو د چهاردهي د حوزې د اوبو له املې چې کوچنۍ سمندرګی و د زمانې په تيريدو سره د ښويدنې په نتيجه کې د کابل او للندر د سيند تل ښکته شو او په نتيجه کې يې ګذرګاه را منځته کړه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسمايي او د سخي غر يې له شير دروازې څخه جلا کړ.

د آسمايي د غره لوړوالی (٢١١٠) متره او د هغه په شمال لويديځ کې د سخي غر (١٩٧٥) متره لوړوالي لري. د علی اباد غر ددغې لړۍ په لويديځ کې د (٢١٢٦) مترو په لوړوالي پروت دی. د سخي غاښې او د باغ بالا غاښې ښارته د خلکو د تگ راتگ لاره ده. گذرگاه د چهار دهي او پغمان سيمې او د جمال مينې، څلورمې کارتې او دريمې کارتې ناحيې د کابل له مرکز سره نښلوي، دغه مهمه لړۍ د سينو زوييک په دوره کې د اوبو له تل څخه را وتلي او په هغې کې د اوسپنې او کوارتز په ترکيب سره لوړې او سختې ډبرې شته. په دې غره کې د چونې ډبرې او د سره او روښانه کوارتز ډبرې شته. د انگلستان د سفارت په وړاندې د غره په لمن کې د چونې د ډبر و طبقه ليدل شوې او په باغ بالا کې هم د چونې ډبره ليدل شوې ده. د باغ بالا په ډډه کې د بيوتيت تورې ډبرې سليټ لرونکی ابرک، کوارتز او د گنايزوشيست تورې ډبرې هم څيړل شوې دي او د بادام باغ غر هم همدغه ترکيبات لري، دغه لړۍ د قرغې په استقامت دوام لري او د قرغې دغره په سيمه کې يوه بله څانگه يې يو کوچنی غرجوړوي چې په يوه برخه کې يې د خلکو ستر زيارت (خواجه جمع) دی.

د آسمايي د غرد تسمې وجه :

د کابل د هندو شاهانو په دوره کې په لومړۍ هجري پيړۍ کې د هندوانو يو اځنی عبادت ځای (درمسال) د کابل په ښار کې جوړ شوې و. د آسمايي د غره په ختيځه لمن کې و ء چې دغه عبادت ځای د آسمايي په نامه شهرت درلود خو هغه د اسلام لښکرو د برېدونو په وخت کې ويجاړ شو او کومه نښه نښانه يې

پاتې نشوه. وروسته وروسته د سېمې هندوانو د هغه موقعیت تثبیت کړ او په هماغه ځای کې یې بیا عبادت ځای جوړ کړ چې هغه هم د آسمایي درمسال په نامه شهرت لري. داسي یادونه هم شوې ده چې د آشامایي کلمه د هواد مور مانا لري او دغه نوم د کابل شاهانو په دوره کې په دغه غره اطلاق شوی دی او د زمانې په تیریدو سره په آسمایی بدل شوی دی. خو د کابلشاهانو په دوره کې په دغه ځای کې د بودیزم نفوذ ډیر زیات و او زیات شمیر لرغوني نومونه او ننبې ننبانې بودایي جړې لري. له آسمایي سره د هندوانو د لرغوني درمسال د نامه اړیکې زیات امکان لري.

د شېر دروازې غر:

دغه غر په حقیقت کې د چهلستون د غره امتداد دی، لوړوالی یې (۲۲۱۸,۵) مترو ته رسیږی چې دوارې څوکې یې سره نږدې دی او د دوارو څوکو ترمنځ او ارتخت شته چې د زنبورک شاه د تخت په نامه یادیږي. کاسه برج او بیني ګاه او د کابل زاړه دیوالونه د یو بل په امتداد تر اوسه پورې په دغه غره کې ولاړ دي. د شیر دروازې غر د ګنایز او کوارتزله ډبرو اوله کرستلي متبلورو ډبرو څخه جوړ شوی او په دې غره کې د مرمر، چونې، شاه مقصود او د ریشې ډبرې شته، د برج په برخه کې د غره په جنوبي لمن کې د سپین کوارتز او د ګنایز شنې رنګې ډبرې لیدل شوې دي. د چهلستون په غره کې ګارنت، مایکاشیست ډوله ډبرې شته او له هغو څخه د ژرندې د ډبرې د جوړولو په مقصد کار اخیستل کیږي. د کرستل ډبرې د تختې او یاد کوچنیو ستنو په بڼه لیدل کیږي چې له همدې امله دغه سیمه د چهلستون په نامه شهرت لري.

برسیره پردې د چهلستون په غره کې شګلن کوارتز او سلیت لرونکي ابرک ډیر لیدل کیږي. د چهلستون د غره په پوزه کې د مسو او د اوسپنې لرونکو ډبرو مرکبات هم شته.

د شیر دروازې د تسمیې وجه:

په لرغوني کابل کې عیاران او شیربچه ګان موجود وو چې ګذر شیربچه ها «د شیربچه ګانو ګذر» بالاحصار او د عاشقان او عارفان د لمنې په وروستۍ برخه کې او دغه راز د سید مرد علیه رحمه د زیارت د شمال په لمن کې یو ګذر موجود وو چې د جوان شیرها د کوڅې په نامه هم یادیده. برسره پردې د بالاحصار د غونډۍ او د اصلي غره ترمنځ یو معبر او ګذرګاه شته چې په دې برخه کې د بالاحصار تاریخي غرونو د اوسپنیزې دروازې په واسطه زوړ بنار له شهدای صالحین سره نښلاوه، دغې دروازې ته نږدې د کابل شیربچه ګان، جوان شیران او عیاران تل په سپورت او تفریح، غیږې نیولو، د لرګیو په لوبو او میلوبوخت وو چې دغه ساحه د خلکو ستر تفریح ځای بلل کیده، دغې دروازې کرار کرار په شیر دروازې شهرت پیدا کړ اوله هغې سره نښتې غره د شیر دروازې د غره په نامه شهرت پیدا کړ اوله هغې سره نښتې غره د شیر دروازې د غره په نامه شهرت پیدا کړ، یو وخت د زنبورک دغره په نامه هم یادیده، یعنې کله چې د کابلشاهانو پاچا زنبورک شاه په دې سیمه کې واکمن و ء.

د پغمان غر:

د پغمان د غره لړۍ د کابل د لویدیځ په استقامت د (۴۷۰۰) مترو په

لوړوالي د يوه ستر ديوال په توګه رامنځته شوې ده. د دغه غره په شمالي برخه کې استالف، ګلدره او شکردره واقع دي او دغره له پاسه ځانګړی ډنډ شته، د پغمان غر دارغنده په استقامت امتداد مومي او وروسته د تخت غابنې ته رسيږي چې له هغه وروسته د قوروغ غر پيل کيږي. د پغمان د غره په ختيځو برخو کې کوهدامن او کاريزميرته نيږدې د ګنايز، شيست او د پګماتبت (Pegmatit) ډبرې شته. د پغمان پګمتيت د نړۍ له ډيرې ښې اوسپنې څخه ګڼل کيږي چې په سلوکې نيږدې دوه او يا اوسپنه لري. د پغمان د غره په درې زره مترۍ لوړوالي کې خاورين سليت او کوارتز پيدا کيږي. په دې لړۍ کې د ابرک لرونکي سليت او ګرافيت ډبرې هم شته.

د پغمان په غره کې بيلا بيلې درې او جلا جلا ډګرونه شته او د ډبرو په ترکيب کې يې هماتيت هم ليدل شوي دي. په مجموع کې دغه غريوستر ديوال دی چې د هزاره جاتو لوړه سطحه له کابل څخه جلا کوي.

د قوروغ غر:

دغه غر د کابل په جنوب لويديځ کې پروت دی، له ختيځ څخه د لويديځ په لوريې امتداد موندلې دې او د تخت له غابنې څخه تر دارالامان او د افشارو تر غونډۍ پورې يې پراختيا موندلې ده. د هغه مخ په شمال ځورو کې د مرغګيرانو، قلعهء قاضی او د چهاردهي کلي او په جنوب کې يې د للندر دره موقعيت لري، اعظمي لوړوالې يې (۳۲۲۷) متره دی. د تخت غابنی هغه ځای چې د کابل - غزنی سرک ورځخه تيريږي (۲۲۳۰) متره لوړوالی لري

د قوروغ په غره کې په عمومي ډول د کوارتز په رنګونو سره د ګرافيت. امفيبوبوليت اوابرک لرونکی شيست ډبرې ليدل کيږي.

دغه راز د قلم لرونکی یا گرافیت چونې یوه پریږه طبقه چې د ختیځ لویدیځ استقامت تعقیبوي، شته. د ډبرو په منځ کې سلیت لرونکی کوارتز د نازکواو عمودي تختو په بڼه او دانه لرونکي کوارتز په سپین رنګ سره په دغه ځای کې لیدل کیږي. د قوروغ د غره د ختیځ په وچه دره کې د ډبرو په ترکیب کې د یورانیم مواد لیدل کیږي چې یوه زیاته اندازه یې د پخوانې شوروي دیرغل په دوران کې چرنوبیل ته ولیږدول شول.

د بیلا بیلو ډبرود غه ټول تشکیلات د پالیوزوییک په لرغونې دورې پورې اړه پیدا کوي، خود غره د بدنې اصل د مزو زوییک په وروستیو وختو او د سینو زوییک په لومړیوو وختو کې صعود کړې دې چې په ځینو برخو کې بدلیدونکې ډبرې او کانګومراتونه پیدا شوې دي.

د صافي غر (کوه صافی):

د صافي غر، د خواجه رواش غر، بابه قشقار او د خواجه چاشت غر د کابل د شمال ختیځ په استقامت او ده سبز ته نږدې موقعیت لري. د پغمان د غرونو په ردیف کې یې صعود کړی دی چې د خیرخانې په شمال کې د هزاره ء بغل غر د دغو غرونو د لړی له جملې څخه ګڼل کیږي.

د صافي دغره لوړوالی (۳۰۶۱) متره او هغه ته څیرمه لړی د کاوون غر د کابل ولایت په شمال ختیځ کې د (۳۳۱۲) متر و په لوړوالي لیدل کیږي. د صافي د غره د ډبرو په ترکیب کې دده سبز په برخه کې د چونې او مګنتیت لرونکو ختیو، کرستالین، ګنایز، کوارتز، په شنه آبي رنګ د شاه مقصود ډبرې، شنه بخن او نصواري ژیړ رنګی سلیت لرونکی ابرک، د ډبرو او د فلدسپار،

او سپنی او د مرمرو طبقي شته. د لمبه غر دده سبز په سیمه کي په سلوکي دوه او یا اوسپنه لري چې زیات اقتصادي ارزښت لري د صافي د غره د شمال لویدیځ په وروستی برخه کي یوه کوچنی لړی شته چې د تورغر په نامه یادیږي.

دلته بند، چکړیو، تنگی غارو او د سروبي لړی:

دغه لړی د کابل په ختیځ کي موقعیت لري. د خورد کابل په سیمه کي دلته بند دغره لوړوالي (۳۳٤۲) متره او دلته بند د کلي په جنوب کي یې لوړوالی (۳۰۲٤) متروته رسیږي، یوې څانګې یې د لوګر په استقامت پراختیا موندلې چې د ډبرو د ترکیب له پلوه د نورو غرنیو ګاونډیو لړیو په شان یو خیل دي، په دې لړی کي د ماهیپر په برخه (د دویم تونل په شمال) کي د شاه مقصود ډبرې، ابرک، تلک او دریشی ډبرې شته چې تر تولید او استحصال لاندې دي، برسیره پردې په دغو لړیو کي د کوارتز، پګماتیت او د ګرافیت ډبرې هم لیدل کیږي، ګزک غر او د شینوارو غر هم د همدغو لړیو په جمله کي تصنیف کیږي.

غابنی:

هغه غابنی چې د کابل بنار او د کابل ولایت له ګاونډیو سیمو سره نښلوي، په دې ډول دي:

د خیرخانې غابنې (کوتل خیرخانه):

د کابل په شمال لویدیځ کي د پنځلسو کیلومترو په واتن د سمندر له سطحې څخه (۱۹۲۲) متره لوړ دی او کابل له کوهدامن سره نښلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخت غابنې :

د کابل په لويديځ کې ميدان له کابل بنار سره نښلوي او د سمندر له سطحي څخه (۲۲۳۰) متره لوړوالی لري.

د کچين غابنې (کوتل کچين):

د (٤۰۰۰) مترو په لوړوالې غوربند د کابل له ولايت سره نښلوي.

دلته بند غابنې (کوتل لته بند):

د کابل په ختيځ کې د سه بابا او بتخاک ترمنځ د (۲٤۲۲) مترو په لوړوالي پروت دی.

د بغل غابنې (کوتل بغل):

د پغمان په شمال کې د (۲۷۵۰) مترو په لوړوالي کابل د هزاره جاتو او غوربند له لوړې سطحې سره يوځای کوي.

د سفيد خاک غابنې (کوتل سفيد خاک):

د (۲۵٦۳) مترو په لوړوالي د ارغنده په جنوب لويديځ کې پروت دی.

د خنګل غابنې:

د (۲۷۵۰) مترو په لوړوالي دده سبز په ختيځ کې پروت دی.

د پای منار غابنی:

د (۱۸۵۰) مترو په لوړوالي د کابل په شمال کې موقعيت لري.

د يک لنګه غابنی:

د سيدنور محمد شاه مينې د ختيځ په استقامت د (۱۸۳۵) مترو په لوړوالي د کابل او بګرامیو ترمنځ پروت دی.

برسیره پردې د کابل په بنار کې یو شمیر غونډې شته چې له رسوبي ډبرو، شګلنو طبقو او له کانګلو مراتو نو څخه جوړې شوي دي، لکه د رحمان مینۍ او د شاد شهید د کارتې په جنوب کې د مرنجان غونډۍ، د بي بي مهرو غونډۍ د شهرآرا غونډۍ، کلوله پشته، د تاج بیګ غونډۍ، د خاک بلغ غونډۍ او د قوالانو غونډۍ.

د کابل سیندونه:

هغه سیند ګوتې چې د کابل په بنـــاراو یا ولایت کـــې بهیږي عبارت دی له: چمـــچه مســـت سیند، د لـــلـــندر سیـــند او د لوګر سیند څخه چې د پسرلی په موسم کې تریوې اندازې پورې کافي اوبه لري، خو د دوبي په موسم کې یې اوبه بیخې کمیږي.

د چمچه مست سیند:

دغه سیند ګوتې د پغمان د غره له ختیځو ځوړو څخه سرچینه اخلي د پشه یي له درې او چند لبایی څخه تیریږي او وروسته د خواجه مسافر په استقامت بهیږي او د کشکک په برخه کې د پغمان له کوچنی سیند ګوتې سره یوځای کیږي چې له او ریاخیلو او خواجه لکن څخه تیریږي او زیاتې ساحې خړوبوي. دارغنده سیند دارغنده له درې څخه چې د پغمان په جنوب کې موقعیت لري سرچینه اخلي او د فاضل بیګ په برخه کې سره یوځای کیږي چې په مجموعي ډول دغه سیند ګوتې د چمچه مست سیند په نامه یادیږي، ځکه چې په کمواوبو او کم اوربنت سره سیلاوپکی بهیږي او د کرنی د ځمکو د

ویجاړتیا سبب ګرځي، په عادي حالت کې د پغمان، ارغنده او چهاردهي د ځمکو د خړوبولو سبب کیږي.

دغه سیـــند ګوتې له هغه وروسته چې له پل سوخته څخه تیریږي د دریمې کارتې په برخه کې له پل سرخ څخه تیریږي او وروسته د خواجه ملا په برخه کې د محمد غوث د پله په سیمه کې د دارلامان له سرک څخه تیریږي او د هارتن پله ته رسیږي او د هارتن پله ته له رسیدو مخکې د للندر له سیند ګوتې سره یو ځای کیږي.

د للندر سیند ګوتې:

د للندر سیند ګوتې د ریشخورو، سرآسیاب، چهلستون، ده دانا او دواصل آباد له ځمکو څخه تیریږي او د ګذرګاه، ریشخورو او د سرآسیاب په سیمو کې د کرنې د ځمکو د خړوبولو او سمسورتیا سبب کیږي. د کابل ژوبن د جنوب له استقامت څخه تیریږي او په همدې ځای کې مخکې له دې چې دهارتن پله ته ورسیږي د چمچه مست له سیند سره یو ځای کیږي او وروسته د ختیځ په لور بهیږي اوله پل باغ عمومي، پل خشتي، پل محمود خان د مکروریا نوله پله اوله څرخی پله څخه تیریږي او تنګی غارو ته له رسیدو مخکې د لوګر له سیند سره یو ځای کیږي.

د لوګر سیند:

د لوګر سیند د اونی له لوړو برخو څخه د (۳۵۰۰) مترو په لوړوالي سرچینه اخلي د میدان په لور حرکت کوي او په دغه ځای کې د میدان سیند په

نامه یادیږي د دغه سیند سور (عرض) د میدان په اواریو کې شلومترو ته رسیږي له لنډواتن وروسته د نرخ او سنګلاخ له سیند ګوتو سره یو ځای کیږي او تنګي سیدان ته رسیږي. دده یعقوب، بګرامیو او د شینې په برخو کې له دغه سیند څخه د اوبو لګو لوپه مقصد زیا ته استفاده کیږي جلا جلا سترې او کوچنۍ و یالې کیندل کیږي او وروسته د آدم خان کلاله لویدیځې برخې څخه تیریږي او د شمال په لور بهیږي او وروسته د صنعتي پارک په جنوب کې لویې لارې ته نږدې د الو خیلو په ختیځ کې له کابل سیند سره یوځای کیږي او په ګډه د تنګي غارو په لور بهیږي.

د تنګي غارو د غرونو اوبه هم له کابل سیند سره یو ځای کیږي او وروسته د نغلو په ستره زیرمه کې د پنجشیر او غوربند له سیند سره یوځای کیږي. مخکې له دې چې د نغلو زیرمې ته ورسیږي په ماهیپر کې بنکلی ځړوبی (آبشار) جوړوي او له هغه څخه د ماهیپر بریښنا هم تولیدیږي. له هغه وروسته چې د نغلو د اوبو له بند څخه د ختیځ په لور بهیږي، په سروبی کې هم د غوربند او پنجشیر له سیند سره یو ځای د اوبو بریښنا د تولید سبب کیږي چې له هغه څخه د صنعتي دستګاوو او د کابل بنار د روښانه کولو له پاره کار اخیستل کیږي او هغه هم په دې ترتیب:

د بریښنابند	د تولید قدرت	په ۱۳۴۸ کال کې د یوه ساعت تولید په کیلوواټ
د نغلو د بریښنا دستګاه	۹۷ زره کیلوواټه	۲۳۲,۶۲۳,۰۰۰
د سروبی د بریښنا دستګاه	۲۲ زره کیلوواټه	۵,۴۷۲,۲۵۵
د ماهیپر د بریښنا دستګاه	۶۰ زره کیلوواټه	۱۱,۷۴۵,۰۰۰

د دغو دريو دستگاو د اوبو بريښنا د انرژی تولـيد د بنارې کورونو پـه رو بنانولو برسيره د کابل د ټولو صنعتـی تأسيساتو، دوړيو اوبدلو په فابريکو، د جنګلک او د حجاری اوبتون د فابريکو، دولتي او شخصي مطابعو، نساجيو، د کار د قـواو او پـه صـنعـتی پـارکونـو کـې د نـورو صـنـاعـتـي دسـتـگاوو او د قيراچولو په فابريکه او په نورو برخو کې کارول کيږي چې اوس زياتره صناعتي دستگاوې ويجاړې او غير فعالې دي.

ويالې:

هغه فرعي ويالې چې د کابل په بنار او ولايت کې د اوبو لګولو په مقصد کارول کيږي، په دې ډول دي:

د چنغور ويالـه:

دغه ويالـه لـه ارغنده څخه چې د پغمان په جنوب لويديځ کې موقعيت لري، پيل کيږي او د قلای قاضي او چهاردهي د ځمکو د خړوبولو سبب کيږي.

بالا جوی:

د للندر له سيند ګوتې څخه جلا کيږي او واصل اباد او د توپ د غونډۍ له لمنې څخه تيريږي او د زاړه بنار په استقامت د باغ قاضي د سيمې د خړوبولو اوسمسور تياسبب کيږي.

دده دانا ويالـه:

د للنـــدر لـــه ســـيند څخه اخيـــستل شوې او د ده دانـــا او ده قلـــندر ځمکی خړوبوي.

د ریشخورو او سرآسیاب ویاله:

د للنـــدر له سیند څخه جلا کیږي او د اوبو لګولو له پاره ور څخه استفاده کیږي.

دده دانا او د پل محمود خان په برخو کې هم د کابل له سیند څخه جلا جلا و یالې اخیستل شوي چې د صنایعو د ښوونځی په برخه کې دده دانا د خلکو دا ډ تیاوو دلرې کولو او د اجمیر ویالې په نامه دیکه توت، قابلبای، هود خیلو او دده سبز د سیمو د خړوبولو سبب کیږي. د کابل د سیند په بیلا بیلو برخو کې یو لړ فرعي ویالې لیدل کیږي چې ترقلای جنګي، شیر پور او بي بي مهرو پورې یې اوبه د ځمکو د خړوبولو له پاره کارول کیږي.

په کابل کې د اوبو رسولو معاصري شبکې:

په ویالو، سیندونو او سیند ګوتو برسیره د څښاک روغتیایی اوبو ته د خلکو ډ تیا احساسیده هماغه وو چې د اعلیحضرت امان الله خان په دوران کې د پغمان اوبه کابل ته ولیږدول شوې او وروسته د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په زمانه کې جدي تدبیرونه ونیول شول. د روغتیایې اوبو زیرمې جوړې شوې او ژورې څاګانې وکیندل شوې چې له زیرمه کیدو او د روغتیا والی له بهیر وروسته د نلونو په واسطه په کابل ښاریانو باندې وویشل شوې او هغه هم په دې ترتیب سره:

۱ - د پغمان اوبه د کابل له لویدیځ څخه د سترو فلزی نلونو په واسطه دده افغانانو زیرمې ته لیږدول کیدی چې دغه زیرمه د زرو مکعب مترو اوبو ظرفیت لري او اوبه یې د کابل په مرکز، دوخت په شاهی مانۍ او په نورو اداري

څانګـــو بانـــدې ویشل کیدې. دغـــه راز د زاړه بنـــاریوې برخی هم له دغو اوبو څخه استفاده کوله.

۲- د آسمایی د اوبو زیرمه: چې د (۷۵۰۰) مکعب مترو اوبو ظرفیت لري، او به یې د علاوالدین له ژورو څاه ګانو څخه برابریږي او د (۲۵۰) او (۳۰۰) ملي متري نلونو په واسطه لیږدول کیږي او د جمال مینې، کابل پوهنتون، څلورمی کارتی، درییمې کارتې او د میرویس میدان د اوسیدونکو دارتیاو دلرې کولو له پاره کارول کیږي

۳- د پیر بلند او د باغ بالا زیرمی: چې هره یوه یې د لسوزرو مکعب مترو او د دولسو زرو مکعب مترو اوبو ظرفیت لري اوبه یې د افشار و او د قرغې له ژورو څاه ګانو څخه برابریږي او د درې سوه ملي متري نلونو په واسطه لومړی زیرمې ته لیږدول کیږي او وروسته د مامورینو کارتې، باغ بالا، پروان مینې، خیرخانې مینې او د تایمنیو د پروژې په سیمو کې یې اوبه ویشل کیږي. دغه اندازه اوبه دوګړو د شمیر د زیاتوالي له امله د کابل بنار له پاره کفایت نه کوي او د خلکو ارتیاوې لکه څنګه چې لازمه ده نه دی لرې شوي، برسیره پردې دوروستیو دوه نیمولسیزو جګړو هم د اوبو رسولو شبکې زیانمنې ککړې، د اوبو زیرمې ککړې شوي او د مامورینوو کارتې، شیرشاه مینې، درییمې کارتې او د کابل پوهنتون او د ده بوري په ګډون د جمال مینې په زیاترو ځایونو کې د اوبو شبکې ویجاړې شوي، له دې امله ځینو غیر دولتي مؤسسو د همکارۍ لاس اوږد کړ او د هرو پنځو سو او یا اتیاو کورونو له پاره یوه ژوره څاه وکیندل شوه او اوبه یې د لاسی پمپونو په واسطه راوایستل شوې او د استفادې وړ وګرځیدې، دغه لاسي پمپونه ساتنې او پاملرنې ته اړتیا لري، له دې پرته له زیاتو خندونو سره مخامخ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکی

د کابل د تسميې وجه او تاريخي لړليد

د کابل د تسميې وجه:

دغه تاريخي ښار ټوم ی ځل د ريګويدا په سرودونو کې د کوبها (Kubha) په نامه يادشوی چې لرغونتيا يې څلور زرو کالو ته رسيږي. دا روستا په پښتو کې کابل د (کاپل) په بڼه يادشوی دی چې د کابل ننني تلفظ ته نږدې دي. يوناني تاريخ ليکونکو کابل د کوفن په نامه يادکړې دي او سنديې د کوفس په نامه يادکړې دي. يوناني جغرافيه ليکونکي بطليموس په (۱٦۷) ميلادی کې کابل د (کابورا) او (کارورا) په نامه او خلک يې د کابوليتا (Kabulita) په نامه يادکړې دي. کوشاني پاچا کجولا کدفيزس دغه ښار د (گه اوفو) يا (که- او- فو) په نامه يادکړې دي. مشهور چيني زاير هيوان تسنګ (٦۳۲-٦٤۲م) د کابل حوزه د (فولی شی ستانګه) په نامه يادهکړی او پايتخت يې (هوفی نه) بللې دي. که چيرې نن په سمه توګه پاملرنه وشي د (کوبها -کوفن- کابورا او د که اوفو، وييونه (کلمې) ټول د ژب پوهنې له پلوه سره اړوند او ګډې جړې لري.

له بله پلوه کابل ښار د هغه سياسي، اقتصادي او د ستراتژيکی دفاع د ارزښت له امله په بيلا بيلو زمانو او القابو هم يادشوې دي. په اوستا کې

دآریانا له شپارس ګونو ولایتونو څخه د اووم ولایت په توګه د (وای کرته) یعني د بنکلي بنار په توګه یاد شوی دی.

اورتسپانا (ورتبانا) د لوړبنار مفهوم په کابل اطلاق شوی دی چې په سانسکرت کې (اورد هسپانا) راغلی دي، لکه څنګه چې له تاریخي سندونو څخه څرګندیږي، کابل بنار په هغه وخت کې په یوي لوړي غونډۍ باندې جوړ شوی و او د لوړ دیوال په بڼه یې دفاعي حیثیت درلود. د کابل بالاحصار د کابل اصلي ودانی وه او د بالاحصار په لمن کې د کابل پخوانی بنارو او ودانیویې د چکریو د منار ترڅنګ پورې دوام پیدا کاوه چې شپارس کیلومتره ساحه یې نیوله. کابل بنار یې روښانه، ځلانده او لمریز بنار هم یاد کړی دی چې د (دش سایک) له کلمې څخه اقتباس شوې دي. ځینو خټیځ پوهانو د کابل لرغونی نوم د کاپیلا په نامه یاد کړې دي چې د یوه کوشاني شهزاده او د کنشکا د یوه منسوب نوم وو.

یو شمیر نورو وایي چې د آدم (ع) د یوه زوی نوم قابیل و چې همدغه د قابیل، کاپیلا، کاپول او د کابل نوم په دغه بنار باندې ایښودل شوی دی. په دې باب فولکلوري داستان هم څرګند شوی دی. یو وخت د کابل بنار د اوبو ترمنځ د یوې کوچنۍ جزیرې په توګه پروت وو. یوه ورځ یوه شهزاده وغوښتل دغې جزیرې ته لاړ شي. دده په امر یې یوه زیاته اندازه و ابنه په اوبو کې واچول چې له وښو څخه یو پل جوړ شي. وروسته شهزاده له پله څخه تیر شو اوله هغه وخت وروسته عامه خلکو دغه ناحیه (کاه پل یا کاپل) بللی ده چې وروسته په کابل بدله شوه.

د کستګهم، کوبها په نظر د کابل نوم په پیل کې د کابل په سیند باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطلاق کیده. دده د تحلیل له مخې کو KU اشکاني منشأ لري او د اوبو په مانا ده چې د زیاتروسیندونو د نامه په پیل کې راغلی دي. د مثال په ډول کونړ (کنړ). کورم (کرم)، کومل (گومل) او دغه شان نور چې د یونان او دلاتین د لرغونو تاریخ لیکونکو په لیکنو کې هم په همدې معنا راغلې دي. دغه راز کوئیس، کوفیس، کوایس. کله نا کله هم د کابل کلمه د کاول بدلیدونکې بڼه بلل شوې ده چې له کاو، کو او کاوه سره گډې جړې لري چې تول یې د ستر او پر تمین مانا لري. او د کوی کواتا (کیقباد) او کیخسرو په کلمو کې هم لیدل کیږي او د پوه، مشر، سرور او دستر مفهوم افاده کوي.

په همـــدې ترتیب په ایرانـــي ژبو کې گاو او گاول دستر په مانا افاده شوي دي چـــې په ځینو جغرافیـوي نومونو کې لیدل کیږي له دي امله د (ال) به جزء سره زابل، چنداول، کاول د مشرانو، سرورانو، او لارښونکو مشرانو ځای او سیمه بلل شوې ده.

د پـــورتنیو څرگـــندونوو له پـه پام کې نیـــولو سره د کابل کلمه په مشخص ډول په دغـــه بڼکلي تاریخي بنار باانـــدې اینبـودل شوې او تر اوسه پورې په همدې نامه یادیږي.

د کابل تاریخي لرلید:

لومړنی کابل او د هغه لرغوني ودانی په لومړیو پیړیو کې هماغه د آسمایي غره ختیځ خواته په ځوړو واکمن ختین کورونـه وو چې کابل سیند ته نږدې او له طبیعي موقعیت او د اوبو له شته والی څخه په استفادې سره یې ډیر لومړني او زراعتي تاتوبي جوړاوه، خو د کومې ناحیې او یا ولایت د مرکز په

توګه نه یادیده. کابل د سکندر کبیر د راتګ په وخت کې کوم ستر بنار نه وو که نه مقدوني فاتح هر و مرو په دغه ځای کې توقف کاوه. او که چیرې ودانې یې هم لرله په هغه وخت کې د تګ راتګ له لارې څخه منحرف وو. د لرغوني کابل له موقعیت او د هغه له اســاسي نښونښانو څخه یوه هم د بودایي زمانې ودانۍ دي. بودایــي کابل د چکړیو په پای منار کې جوړ شوي وو او اوس هم د خورد کابل په نوم یادیږي.

د چکریو د بنار د ستوپو او عبادت ځایوو بقایاوې چې په حقیقت کې د بودایي قانون د عرادې څلي دي هر یویې په خپل ځای کې ښیي چې بودایي کابل د اوسني بنار د جنوب ختیځ په شپاړس کیلومتری واټن کې د یوه غره په لمن کې ودان شوی وو اوله بالا حصار څخه د چــکریو تر لمنې پورې بناري ودانۍ موجودې وې او د چــکړیو په څلــي برســیره په دغه ځای کې د سره منار په نامه یو بل څلي هم موجود وو چــې د زمانــې په تیریــدو سره دواړه څلي و یجار او له منځه لاړل.

د چینۍ زایر هیوان تسنګ د څرګندونو له مخې چې داوومی میلادی پیړۍ په لومړي نیمایي کې زمور هیواد ته راغلی دی، معلومیږي چې په دې وخت کې د کابل پر ځای د کاپیسې یا بګرام بنار د واکمن سلطنت مرکزو چې تر تکسیلا پورې یې پراختیا درلوده. دغه راز د هغو استحکاماتو له مخې چې لاتر اوسه پورې د ډیوال او برج په بڼه د آسمایي دغره او د شیر دروازې د پاسه شته، په ډاګه کیږي چې په هماغې اوومه میلادي پیړۍ کې د هیوان تسنګ د راتګ په وخت کې کابل یعنې د سیند ګوټۍ د دواړو غاړو او د شیر دروازې او آسمایي دغرونو ترمنځ هماغې یوې ټوټې ځمکې زیات سوق الجیشی ارزښت

درلود او دومره سياسي او دفاعي ارزښت يې درلود چې په شاو خوا کې يې په دفاعي برجونو سره پلن، کلک او لوړ ديوالونه جوړ شوي وو. د کابل وروستی پاچاهان چې عربو هغه درتبيل په نامه ياد کړي دي د کابل هماغه برهمن شاهان وو چې له عربو سره په جګړه کې وو اوله دير شمو هجري کلونو څخه د يعقوب ليث صفاري د سلطنت تر زمانې پورې څه د پاسه دوه پيړۍ له عربو سره جنګيدل او اووه ځلي يې د کابل دفاع وکړه او عربان يې د کابل له شاوخوا سيمو څخه وشړل. په همدې وخت کې وو چې د کابل د ساحې د تمدن بنسټ کيښودل شو. لومړی له زراعتي پلوه وروسته د سوداګري له مخې او بيا له بسوق الجيشي پلوه د سلطنت د مرکز په توګه په يو سياسي او تجارتي ښار بدل شو.

کابل له اسلام څخه مخکې:

د دغه ښار تاريخ د سکندر د راتګ تروخته پورې په ښه توګه روښانه نه دی اوله ميلاد څخه مخکې په پنځمه پيړۍ کې د سيروس د فتوحاتو په وخت کې دده په واکمنۍ د اريوش (۵۱۰ - ۵۰۰ ق.م) کې د هرات له لارې افغانستان ته راورسيد له کابل څخه تير شو او د خيبر درې له لارې هند ته لاړ او د هند لويديځې سيمې يې ونيولې. کابل په خپل دغه حالت دوام درلود تر دې چې سکندر به ۳۲۸ ميلادي کال کې له هندوکش څخه تير شو او ماورالنهر ته لاړ او له ستنيدو وروسته د کابل له لارې د خيبر درې په لور روان شو. پنجاب يې فتحه کړ او غوښتل يې چې د بلوچستان له لارې د بين النهرين په لور روان شي، خو په (۳۲۳ ق.م) کې مړ شو.

به کابل کې وروستي يوناني پاچا هيرومايوس وچې له (۳۰ - ۲۰ ق.م) پورې يې په کابل کې حکومت کړې او د کوشانيانو له خوا له منځه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل د کوشانیانو په دوره کې:

په (۹۰ق.م) کلونو کې کوشاني قبیله رامنځته شوه، باکتریایې ونیوله، ددغې قبیلې لومړنی پاچا کدفیزس (٤٠ یا ٥٠) میلادي کلونو کې سلطنت ته ورسید. باختر، پنجاب او کابل یې فتحه کړل. له هغه وروسته گاندوفرنس رامنځته شو. بیا دوهم کدفیزس پاچاهي ته ورسید او په (۱۱۰م) کال کې مړ شو. له هغه وروسته لومړی کانیشکا حکومت ته ورسید، ده په کندهار کې حکومت کاوه، کابل او باکتریایې هم په واک کې لرل، وروسته په (۱۲۰-۱۵۰ میلادی) کال کې دوهم کانیشکا او بیا اشوکا او ورپسې واسودیوا واکمن شول. کوشانیانو تر پنځمې میلادي پیړۍ پورې کابل په خپل واک کې درلود او همدغه کورنۍ وه چې د کابل بالاحصار او د شیر دروازې او آسمایې د غرونو د پاسه د یوالونه یې د عربو په وړاندې دیوه دفاعي د یوال په توگه جوړ کړل. کله چې کابل د هیاطله لاس ته ورغی، د شپږمې میلادي پیړۍ په منځنیو وختو کې د نوشیروان له خوا وشړل شو او کابل یې له اداري څخه ووت. له دغې پیښې وروسته د کوشاني دوهمه سلسله په کابل کې حکومت ته ورسیده چې تر (۸۸۰م) پورې چې له (۲٦۸ هجري لمریز کال) سره یې سمون درلود، د کابلستان د سلطنت د چارو واکي په لاس کې لرل. بالاحصار او بگرام یې دواړه د خپل حکومت د مرکز په توگه په لاس کې وو او په همدې وخت کې دی چې عربو په کابل باندې بریدونه پیل کړل.

کابل د اسلام په وخت کې:

د حضرت عثمان (رض) د خلافت په وخت کې (۲۸-۳۲هـ.ق) د

عبدالرحمن بن سموره بن حبیب قریشي په مشری د غزني له لارې په کابل برید وشو. په دې وخت کې کوشاني پاچا (اعراج) مقاومت ونشو کولی او تسلیم شو. ښځې او بچیان یې بندیان شول او په کال کې یې یو ملیون درهمه باج و مانه، فاتحان بیرته وګرځیدل او لږ شمیر په کابل کې پاتې شول. عبدالرحمن تمیم (رض) بن قیس او جبیر (رض) په کابل کې ؤ. په دې وخت کې جیپال حکومت ته ورسید، د باج له ورکولو څخه یې ډډه وکړه او حضرت تمیم او جبیر له یو شمیر اصحابو (رض) سره شهیدان شول.

بل ځل په (۶۹۸م) له (۷۹هـ) سره سم د عبدالملک مروان د خلافت په وخت کې د عبید الله بن ابوبکر صدیق (رض) په مشری په کابل برید وشو او هغه ته رتبیل شاه سخته ماتې ورکړه. ورپسې په (۸۱هـ) کال (۷۰۰م) عبدالملک د عبدالرحمن بن اشعب په مشری یو ستر لښکر کابل ته راولیږه. عبدالرحمن د غزني فتحې مشغول شو لیث بن قیس بن حضرت عباس (رض) یې کابل ته واستاوه. رتبیل خپل عسکر په شیر دروازه او آسمایی کې د لویو د یو الو تر شا، ځای په ځای کړل. هغوی د اسلام پر عسکر ویاندې برید وکړ، عبدالرحمن د غزني فتحې څخه وزګار شو او کابل ته راغی او دلیس له عکسرو سره یې یوځای په جګړه لاس پورې کړ، په نتیجه کې یې د د همزنګ په معبر کې د اوبو د تللو په برخه کې دیوال سوری کړ چې په پای کې کابل د عربو لاس ته ورغی. په دې جګړه کې حضرت لیث شهید شو او د عبدالرحمن له خوا په هغه ځای کې چې اوس یې شاه دوشمشیره (علیه الرحمه) بولي خاورو ته وسپارل شو.

عبدالرحمن د هندوانو تول بتان، عبادت ځایونه (درمسالونه) وران کړل

او یوازی یولوی درمسال یې چې د آسمایی دغره په لمن کې وه په خپل حال پریښوده. برسیره پردی یی د شاه دوشمشیره (علیه الرحمه) د مقبرې په څنګ کې یو جومات هم جوړ کړ چې د بابرشاه د زوی نصرالدین همایون له خوا بیاجوړ او وروسته بیا د امیرامان الله خان د مور له خوا په اوسنی حالت بیا جوړ شو او د شاه دوشمشیره (علیه الرحمه) د جومات په نامه یې شهرت پیدا کړ.

دا هغه لومړی جومات دی چې په کابل کې د عربو مسلمانانو له خوا جوړ شوې دي، کله چې عبدالرحمن کابل پریښود، رتبیل دوه ځلي کابل ونیو او دهشام اموی خلیفه تروخته په خپل حال پاتې شو. خو د هارون الرشید په وخت کې (۱۷۱هـ.ق) عباس له زیاتو لښکرو سره کابل فتحه کړ او په بیرته ګرځیدو کې بیا هم د کابل پاچا له اطاعت نه سرو غړاوه. په (۲۵۷هـ.ق) کال کې یعقوب لیث د عباسی پاچا په فرمان پـــه کابل یرغـــل وکـــړ او رتبیل شاه سخته ماتې وخـــوړه او مـــاورالنـــهر ته وتـــښتید او د صـــفاریانو له کمزورې وروسته کـابل د برهمـایـــیانو لاس ته ورغـی، تـــردې چې په ۳٦٦هـ.ق د سبکتګین حکومت واکمن شو.

کابل د مغلو په دور کې:

د صفاریانو له انحطاط وروسته کابل د برهمائیانو لاس ته ورغی، وروسته بیاد غزنی پاچا په کابل واکمن شو. د (٥٤٧هـ) په شاوخوا کې سبکتګین، محمود غزنوي او احغادو یې تر (٥٤٧هـ) پورې په کابل حکومت وکړ. علاوالدین غوري د غزنویانو لړی ماته کړه. وروسې غوریان په ٦١٢هـ.ق په کابل واکمن شول، بیا خوارزمشاهانو کابل ونیو او د خوارزمشاهانو په

ماتې سره د چنګیز لښکرو په دې خاوره کې د وینو سیلاو روان کړ او ټول ښارونه او کلي یې وران کړل آن تر دې چې امیر تیمور کورګاني کابل ونیو، وروسته بیا تیمور په (۸۰۰هـ.ق) د هند په لور لاړ او دتګ په وخت کې کابل ته راغی او په کابل کې تم شو. (۸۰۱هـ.ق) کې بیرته سمرقند ته لاړ او زوی یې مرزا غیاث الدین کابل اداره کاوه. وروسته بیا میرزا محمد او ورپسې شاهرخ د کابل اداره په لاس کې ونیوه تر څو چې له یوې مودې وروسته قدرت الغ بیګ ته ورسید او په ۹۰۷هـ.ق کال په کابل کې مړ شو. د الغ بیګ د بې کفایتۍ له امله د محمد مقیم امیر ذوالنون په نامه یوه شخص کابل ونیو.

ظهیرالدین بابر دغه پینبه ونه زغملای شوه او په ۹۱۰هـ.ق کال کې یې کابل ونیو او په دې ښار کې یې سکه هم ووهل شوه. کله چې بابر په کابل کې د بابر ښکلې بڼ یې جوړ کړ او له کابل سره یې خاصه مینه درلوده.

کله چې بابر هند ته لاړ، کابل دده د یوې حکومتي صوبې په توګه اداره کیده. په کابل کې د مغلو وروستی والي نصیرخان نومیده چې د نادرشاه افشار له خوا له منځه یوړل شو. نادرشاه افشار د هندوکش له لارې په کابل او د کابل په بالاحصار برید وکړ (۱۱۵۷هـ.ق) او یوه موده کابل د نادر افشار د والیانو ترلاس لاندې و.

کابل د احمد شاه درانې او تیمور شاه په وخت کې:

احمد شاه درانې په ۱۱۶۰هـ.ق کال چې له (۱۷۴۷م کال) سره سمون خوري، د خلکو له خوا په پاچاهي وګومارل شو، خو تر یوې مودې پورې یې د کابل ولایت نصیرخان ته پرېښود. ورپسې نصیرخان بغاوت وکړ او احمدشاه

بابا د (۱۱۶۰) کال په پای کې هغه ونیو او نصیرخان یې له هیواده وشاړه. احمدشاه بابا غوښتل کابل د حکومت مرکز کړي، له دې امله یې په ۱۱۶۶هـ.ق کال د کابل بنار په شاو خوایی د یوه لوی دیوال د جوړولو امر ورکړ چې دده د سپه سالار سردار جانخان په هڅو جوړ شو. دغه دیوال یو ولس پوری لرلې او د کابل په بنار کې په دې دولسو بیلا بیلې دروازې وي:

په د همزنګ کې د کندهار یانو دروازه

د سلام خانی په برخه کې سپینه دروازه

د عیدګاه د جومات ترشاد پیت دروازه

د ګذرګاه دروازه

د بالاحصار په برخه کې لاهوری دروازه

د احمد شاه بابا له وفات وروسته دده زوی تیمورشاه په (۱۱۸۶هـ-۱۷۷۳م) کال کې پاچاهي ته ورسید او په (۱۱۹۰هـ-۱۷۷۶م) کال کې یې کابل په رسمي ډول د سلطنت مرکز کړ چې تراوسه د افغانستان د پایتخت په توګه پیژندل کیږي. له تیمورشاه وروسته د هغه زوی زمانشاه په کابل کې پاچا شو. خود خپل ورور شاه محمود له خوا ړوند کړی شو. د تیمور شاه زامنو د بی اتفاقی له امله دابدالي تینګ سلطنت کمزورې کړ او انګلیسانو ته یې د لاس وهنې اوتیري زمینه برابره کړه. شاه شجاع له انګلیسانو سره په تماس کې و او په کندهار کې په تخت کښیناست. کله چې دوست محمد خان بامیانو ته لاړ، شاه شجاع په (۱۲۵۵هـ.ق) کابل ته راغی، خو د وزیر محمد اکبر خان له خوا له مینځه یوړل شو. د انګلیسانو چونې او هغه کلاګانی چې د بالاحصار او شیرپور ترمنځ وي، وزیر محمد اکبر خان ونیولی او

په هغې غونډه کې چې د مفاهمې له پاره جوړه شوې وه ، جنرال مکناتن او دوه نور انګریزان د وزیر محمد اکبرخان په لاس ووژل شول. په نتیجه کې انګلیسان له کابل او افغانستان څخه ووتل او د انګلیس له اووه لس زرو عسکرو څخه یوازې یو تن د داکتر برایډن په نامه خپل ځان روغ رمټ وویست او نور د جلال آباد دوریښمو په تنګۍ کې ووژل شول. له هغه وروسته د (۱۸۴۲م کال) په اپریل کې شاه شجاع هم ووژل شو او امیر دوست محمد خان په تخت کښیناست.

د انګلیسانو دویم یرغل د شیرعلیخان په وخت کې وشو ، شیرعلیخان د مزار په لوری لاړ چې له روسانو څخه مرسته وغواړي ، خو وفات شو او محمد یعقوب خان پاچاهي ته ورسید. له بده مرغه هغه هم د انګلیسانو تراغیزې او د هغوی ترپرله پسې فشار لاندې راغی او دانګلیسانو د ویستلو په خاطر یې د ګندمک کرغیړن ټرون ته غاړه کیښوده ، کیوناري یې دربارته ومانه تردې چې د (۱۸۷۹م کال) په اګست کې د کابل خلکو د کیوناري او یعقوب خان پرخلاف یوه عامه بلوا او لانجه جوړه کړه. په نتیجه کې یې کیوناري د کابل په بالاحصار کې ووژل شو او دفتر ته یې اور ورواچاوه. یعقوب خان چې د انګلیس د عسکرو هرکلي ته لاړ د رابرتس له خوابندي شو او هندوستان ته ولیږل شو. رابرتس کابل ونیو ، د کابل چارچته یې وسوزوله ، بالاحصار یې ړنګ کړ او یو شمیر افغاني افسران او عسکر یې شهیدان کړل.

دوهم ځل د کابل ، لوګر ، کوهدامن او وردګو خلک د انګلیسانو په مقابل کې یو موټي شول ، خوانګلیسانو د افغانانو په مقابل کې د بې اتفاقۍ اچولو له سیاست څخه کار واخیست ، هماغه ؤ چې عبدالرحمن (د روسیې له

قلمرو) له تاشکند څخه افغانستان ته راغی او د چاریکارو له لارې کابل ته راورسید او په (۱۲۹۷م کال) کې يې پاچاهي اعلان کړه، هغه تر زياتې اندازې د انګليسانو تراغيزې لاندې ؤ او په ۱۸۹۳ م کال د ډيورنډ تړون لاسليک کړ او انګليسي پوځ له کابل څخه ووت، له عبدالرحمن نه وروسته د هغه زوی حبيب الله خان پاچاهی ته ورسيد. هغه هم په (۱۹۱۹م کال) په کله ګوش کې ووژل شو. امير امان الله خان په تخت کښيناست او د افغانستان خپلواکي يې تر لاسه کړه او تر (۱۹۲۹م) کال پورې يې حکومت وکړ. د عبدالرحمن په وخت کې د کابل ارګ، باغ بالا مانۍ، د شهرارابن او د شهرارابرج جوړ شول، امير حبيب الله خان د مهتاب قلا بن او د حبيبې ښوونځی جوړ کړل.

د محمد زايانو په دوره کې (د حبيب الله کلکاني د دورې له يوه لنډ ځنډ وروسته) د پوهنې پرمختيا او ښاري ودانيو جوړول پيل شول چې لږ يې محمد نادرشاه او زيات يې د اعليحضرت محمد ظاهرشاه په وخت کې اوورپسې د محمد داؤد د جمهوريت په دوره کې ترسره شول، خو له (۱۳۵۷هـ.ش) کال وروسته او بيا له (۱۳۷۱هـ.ش) کال وروسته په کابل کې د عمراني او عرفاني کار ګډودي پيل کيږي. په دغو دوه نيمو وروستيو لسيزو کې په تيره بيا د طالبانو په دوره کې کابل په يوه غلي، ګوښه شوي (منزوي) او وران ښار بدل شو.

د کابل تاریخي ځایونه

که واقعیت ته وګورو د کابل په ښارکې هرګام د لرغونی تاریخ یوه نښه نښانه ده چې په لنډ ډول یې بیا نوو:

د کابل بالاحصار:

دغه تـــاریخي او دفاعي کلا د کابلشاهانو په وخت کې د زمردو د غونډۍ پرسر جوړه شـــوه او د هغې د دیوال په اوږدوکې د برج په ښه لوی استحکامونه جوړ شول.

د هارتن د پلـه په پنځه سوه متری کې همدا اوس له د یوال سره متصل یو دفاعي برج لیدل کیږي. بل برج د توپ له غونډۍ نه لږ پورته او د شیر دروازی د غـره پـه څوکه، بـل لوی برج چې د زنبورک شاه په تخت هم شهرت لري، د (۲۲۱۸۵) مترو په لوړوالي جوړ شوی دی. په همدې توګه د آسمایي په ختیځ ځوړي کې یو بل ټینګ برج موجود و چې یویې په کاسه برج مشهور دی او زیات پنډوالی (قطر) لري، خو د آسمایي پاسنی د یوالونه له منځته تللي، یوازي د تیږوبنستیونه (تهدابونه) یې په ځینو ځایوکې لیدل کیږي. ددې د یوالونو ختیه د آسمایي له جنوبي ګلکنې څخه اخیستل کیدله، لومړی د فیلانو په واسطه پخیدله، وروسته د بیګار او حشر په توګه خلک کارته مجبوریدل، خلک د دیوال په اوږدوالي دریدل او ختیه به یې له یوه لاسه بل ته اچوله چې د یوولس پسخو (مهرو) په لوړوالي او یو متر او (۲۰) سانتی په سوربې یو دیوال جوړ کړ. هغو کار ګرانو ته چې بې پروایی یې کوله سخته سزا ورکول کیده. په

برجونو کـــې ددې زو په خاطـــر تیرکنبـــونه موجود وه او د دیوالونو په هره برخه کې هم تیرکنبونـــه ایستل شوي وو، برجونو د ترصد د نقطې او د قوماندې د محل حیثیت درلود.

رتبیل شاه د کوشاني حکومت په دفاع کې له دې برجونو څخه اعظمي استفاده کوله، خو د هغه د حکومت په وروستیو وختو کې دا دیوال د ګذرګاه د معبر په برخه کې سوری شو. دغه دیوال اوسنی هارتن پله ته مخامخ پیل، د شیر دروازې د غره په ارتفاعاتو د هغه څوکې ته رسیږي. د نومورې څوکې له جنوب څخه له تیریدو وروسته له دویمې څوکې څخه اوړي او د ختیځ لورته ځان برابروي اوله ښکتنې او ختیځې څوکې سره چې د عاشقانو او عارفانو په استقامت پرته دد یوځای کیږي او په دې ترتیب د بالاحصار خواته غځیږي ترهغو چې د شیر دروازې د یوه کوچنی معبر څخه چې د شهدای صالحین خواته خلاصیږي بیرته د بالاحصار د غونډۍ په لور استقامت اختیاروي، چې بالاحصار ته یو بشپړ دفاعي حیثیت وربښي. بالاحصار چې لوړ او ټینګ برجونه پکې جوړشوي د کابلشاهانو لویه نظامي او دفاعي کلا وه.

د بالاحصار په جنوب کې یولوی خندق کیندل شوی و، چې له اویو د ک او د خلکو تګ راتګ یې له ستونزو سره مخامخ کړی و. متأسفانه د آسمایی دیوالونه د پیښولو امله له منځه تللي، یوازې د ده افغانانو سرته د هغه یوځه نښې نښانې ترسترګو کیږي. په دې ترتیب دې تاریخي دېوالونه چې د کابلشاهانو په زمانه کې آباد شوي وو، د کابل په دفاع کې ښکاره ونډه درلوده چې په هغه کې د کوشانیانو رول ډیر څرګند او ډیر ارزښمن دي.

دا دیوالونه باید د یوه لوی فرهنګي میراث په توګه وساتل شي او له

زیات تخریب او ورانیدو څخه یې سخت مخنیوی وشي، ځکه چې د توریزم په برخه کې د یوې تاریخي ودانۍ په توګه تاریخي او توریستیکي ارزښت لري. دګرځندوی ریاست او د لرغون پوهنې مرکز په دې برخه کې لویه فرهنګي دنده لري چې د هغې د ساتنې او زیاتې پیژندنې او شهرت په منظور پاملفتیونه او ځانګړي خپرونې ولري.

د بالاحصار او بګرام اړیکې:

د کابلشاهانو په وخت کې بالاحصار او بګرام دواړه د کوشانیانو د مرکز په حیث ګڼل کیدل. له بالاحصارنه د شمال خوا ته د بالاحصار له اوسنۍ سړک، محمودخان پله سره منطبق، د بی بی مهرو په استقامت اوله هغه ځایه د قلای حاجی او یا پایمنار د دښتې په استقامت او بیرته د بګرام په لوریو پراخه او مستقیم په ټیږو فرش سړک موجود و چې بالاحصار او بګرام کاپیسی یې سره یوځای کول. د سړک دواړو خوا ووته جګې ونې وې چې د کابلشاهانو نظامي سپرو به له بالاحصاره تر بګرامه د دغو ونو ترسیوري لاندې له یو نیم تر دوو ساعتونو مزل کاوه. دوخت په تیریدو دا سړک له منځه لاړ، خونښې نښانې یې پاتې دي چې د تاریخ په پانو کې د دغو سیمو د ښکلا، تازه ګي او نورو او صافو په باب په تفصیل سره خبرې شوې دي. بالاحصار چې د خپل دفاعي اهمیت له امله کوم عظمت او ښکلا درلوده، بګرام په اواره ځمکه کې د بود ایانو یوستر سیاسي او مذهبي مرکز ؤ، اصلاً د (بګ + رام) کلمې له هندي کلمو څخه مشتقې شوی چې د لوی او سپیڅلي مذهبی ښارمانا لري دغه وییونه (لغات) د بګرام په کلمه کې هم تطبیقولی شو، ځکه له بالاحصار تربګرامیو او د چکریو تر مناره تول بودایی معبدونه او د هغو زیارتځایونه موجود ووء.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بالاحصار کې دري مهمې تاريخي ودانۍ:

۱ - شاهي هستوګنځي چې امير دوست محمد خان هغه په (۱۸۳۵م) کې ودان کړ. په زړه پورې کاشي کاري او انځورګري يې درلوده او په (۱۸٤۰م) کې د انګليس سفير په هغه کې اوسيده.

۲ - د شاهي مسجد خرابه چې د عالمګير په زمانه کې جوړ شوی و ء.

۳ - شاهـي حرمسرای چې په (۱۸٤۰م) کې شاه شجاع په کې هستوګنه لرله.

دغه بنکلی، بنايسته اوله عظمته ډکې ودانۍ په وروستيو کورنيو جګړو کې بيخي ړنګې او له منځه لاړې. دا ودانۍ په بالاحصار کې د ننه د سلو مترو په واټن يوه له بلې څخه لرې پرتې وې.

٤ - دربارخانه: د بالاحصار په بنکتنۍ برخه کې د برتانيې د سفير د هستوګنځي ترڅنګ يوه چار ديوالي وه چې دربار خانه او حرمسرای پکې واقع وو. د بالاحصار د دروازې پورتنۍ برخه د شاهي موزيک د ډلې لپاره ځانګړی شوې وه او د سلطنتي تشريفاتو مهم جزګنېل کيده، له دې دروازې نه د عليمردان باغ ته لاره تللې وه چې بالاحصار يې له زاړه بنار سره نښلاوه.

د بلخ خاورينه غونډۍ:

دغه خاورينه غونډۍ اصلاً مصنوعي تپه ده چې د بالاحصار په ختيځ کې د شاه شهيد (عليه الرحمه) په سيمې پورې مربوطه ده او په شاوخوا کې يې بناري کورونه ودان شوي دي. وايي چې د بلخ د پاچا او د کابل د پاچا ترمنځ جګړه پيښه شوه په نتيجه کې بلخ فتحه شو او د کابل د شاه په امر لاربنوونه وشوه چې فاتح عسکر دې يوه يوه کڅوړه خاوره له بلخ څخه واخلي او له ځان

سره دې کابل ته راوړي او په همدې ځای کې دې ډیرې کړي، دې ځای ته دومره خاورې انتقال شـــوې چې یوه خـــاورینه غونډۍ ترې جوړه شوه او د بلخ د خاورې په غونډۍ یې شهـــرت و موند. دا غونډۍ په مستقیمه توګه د کابلشاهانو د عظمت څرګندویې کوي.

د مرنجان غونډۍ:

دغه غونډۍ د بالاحصار د ختیځ په درې کیلو متری کې د حضوري چمن او د رحمن مینې او سید نور محمد شاه مینې، یک لنګه کوتل اولو مړی مکروریان ترمنځ پرته ده. ددې غونډۍ په جنوب کې سیاه سنګ پروت دی چې په پخوانیو وختو کې د نوروز میله (جبه) په دې ځای کې کیدله. د هغې د تسمیې دوجهې په باره کې ویل شوي چې مرنجان یو جادوګرسړی و چې زیات ثروت او پیسې یې درلودې، څنګه چې د هغه طلسم مات شو، د هغه افسانوي شته (دارایې) د خاورو په غونډۍ بدل شول او دا غونډۍ د هغه په نام پاده شوه. لرغونپوهانو په دې غونډۍ کې زیاتې څېړنې او کیندنې وکړې، اوله دې غونډۍ څخه یې له سپینو زرو څخه د جوړو شوو سکوډ کې ختینې کتیې ترلاسه کړې، چې له دې سکو څخه د ځینو وزن له پنځو ګرامو څخه زیات و. په یوناني دورې پورې یې اړه درلوده چې د پنځمې او شپږمې میلادی پیړۍ په شاوخوا کې جوړې شوې دي. دسکې په یو مخ کې د کونګ څیره او په بل مخ کې یې د تفکر او اندیښنې درب النوع زوس دلور تصویر چې د آتن د بنارد ساتونکی په ډول تلقی کیده ایستل شوی و او کیدای شي چې د مقدونی سکندر په زمانه کې د مدیترانې له څنډو څخه کابل ته رارسیدلی وي.

د ۱۹۳۳م کال د جون په میاشت (د ۱۳۱۲ هـ ش جوزا) د مرنجان د

غونډی په دوو نقطو کې دوه یووالي عبارت ځایونه و موندل (کشف) شول، چې د کوشانیانو په وخت کې جوړ شوي وو. همدارنګه له همدې غونډی څخه د بودا ستره مجسمه (اتوا) هم کشف شوه چې د جسامت او هنر له مخې د کابل موزیم ستره مجسمه وه. برسیره پردې په سلګونو د سرو او سپینوزرو سکې هم له همدې غونډی څخه لاس ته راغلې وې چې د کابلشاهانو په عصر کې د بودیزم د ستر مرکز څرګندویي کوي.

خیرخانه:

د خیرخانې غاښې د کابل د شمال لویدیځ په ۱۶ کیلومتری کې پروت دی له اسلام څخه د مخه پیریو کې د ډډې کوتل په ګاونډ کې د سوریا یاد لمر د نمانځنې معبد موجودوو او د برهمنیانو لومړنی عبادت ځای وو. له دې سیمې څخه یوه ډیره ښکلی مجسمه چې د لمرر ب النوع ده د هغې له مصاحبانو سره تر لاسه شوې ده.

د لمر د رب النوع نوم (هوریاخور) ویدایې او اوستایي سندرو کې په مفصله توګه راغلي دي. د (خور) د کلمې په اړه ویلی شو چې ددې سیمې نوم اساساً (خورخانه) و او د وخت په تیریدو د خیر خانه په بڼه اوښتی دی، له دې امله زیات تاریخي ارزښت لري.

د بابر بڼ:

دا باغ د شیر دروازې د غره په لویدیځه لمن کې واقع دی او د مغول بابر شاه د آثارو له پاتې شونو څخه دی چې په (۱۵۱٤م) کې یې د کابل ښار له

فتحي وروسته دغه بنار خپل پايتخت کړ او وروسته يې ددغه باغ چې د چاردهی په توله حوزه يې حاکميت درلود بنسټ کيښود ، له لرې او نږدې سيمو څخه يې ډول ډول نيالګي دې ځای ته راوړل او نهال يې کړل. دغه باغ مغولي شاهي کورنۍ د غړو لپاره يوبنکلی تفريح ځای و. وروسته بابر هندونيو او کابل يې پريښود خود کابل بنکلې هوا او ميوې يې نه هيرولې. کله چې بابر مړشو د هغه له وصيت سره سم يې په همدې بڼ کې خاوروته وسپاره ، د هغه لمسي نورالدين محمد جهانګير په (١٦٠٧م) کې د هغه د قبر لپاسه يوه بنکلې مانۍ جوړه کړه او له هغه را بنکته په (١٦٤٦م) کال کې د هغه لمسی نورجهاني د بلـــخ او بدخـــشان د فتحې په مناسبت يو جومات جوړ کړ چې ددې باغ اهمـــيت او لوړتيا يې لا پسی زياته کړه. متأسفانه د وروستيو دوه نيمو لسيزو په جګړو کـــې دغه باغ خپله بنکلا او تازه ګي له لاسه ورکړې ده او بيا رغونې ته اړتيا لري.

شير پور:

ددې لپاره چې په بنار کې د دولت عسکر او لښکرې د خلکو د مزاحمت او ځورونې سبب نشي ، امير شير عليخان پريکړه وکړه چې د بي بي مهرو د غونډۍ په شاوخوا د شير پور په نامه يو تينګ پوځي بنار ودان کړي.

نو ځکه يې په (١٨٧٠م) کې د مهندسانو په واسطه ددې بنار نقشه برابره او د عمل ډګرته يې وړاندې کړه. دغه بنار د بی بی مهرو د غونډۍ په شاو خوا کې په (٢٠٠٠) جريبه ځمکه کې طرحريزي شو ، د ديوالونو لوړوالی يې ٢٠ فوټه او سوريې ددې استعداد لري چې توپ پرې ګرځيدای شي. ختيه يې

د فيلانـو په واسطه پخيـدلـه. په دې بنار کې يوه پـوځی قشلـه چې د کـتنې ورګنجايش ولري په نظر کې نيول شوې ده.

له پنځو کالو څخه د زياتې مودې لپاره دورځې (٦٠٠٠) کارګران او نږدې يو زر معماران او ترکانان په دې ودانۍ کې په کار بوخت وو. عسکرو ته پر اصلي معاش برسيره د مياشتې پنځه روپۍ هم ورکول کيدې، څو خپلو ورځنيو چارو ته پاملرنه ولري، خو د معمارانو اجوره هره ورځ په نقده توګه د دولت له خزانې څخه ورکول کيده. په داسې حال کې چې پخوا د سړکونو، لارو او ودانيو جوړول جبري وو او د بيګار به ډول په يې خلک راتولول او دغه کار به زياتره په عامو خلکو او بزګرانو کيده او تحميلي بڼه يې درلوده.

تراوسه لا بنارنه و ودان شوې او ختيځ او لويديځ د يوالونه يې لا نه وو بشپړ شوي چې د افغان او انګليس دويم جنګ پيل شو او د غه پوځي بنار نيمګړې پاتې شو، چې وروسته دوخت په تيريدو رنګ شو.

دا پوځي بنار په يوه ګونبه کې جنګي کلا (قعلۀ جنګي) آباده شوه، وروسته د اعليحضرت محمدظاهرشاه د حکومت په دوران کې د شير پور دلويې عسکري قشلې په منځ کې ودانۍ جوړې شوې چې تريوې اندازې د عسکرو د ځای په ځای کولو محل ګنل کيده او همدارنګه عسکري لوژستيک او دارد و روغتون هم په کې ځای په ځای شول.

شهر آرا:

د شهـــر آرا برج او د شـــهر آرا بن د بـــرکي پر غونډۍ چې اوس د شهـــر آرا غـــونډۍ په نـــامه يادېـــږي، واقع دي. دغه غونډۍ پخوا د تپۀ ماران په نامه يادېدله.

کلـه چې عبـدالرحمـن خان کابـل تـه راغـی ددې غونـډی پرسـریې پـه (۱۸۹۳م) کې لـه انـگریزانـو سره د ډیورنډ تړون لاسلیـک کړ چې د هغـه پـه اساس انـگریزان لـه افغـانسـتان څخـه ووتـل. وروسـتـه عبـدالرحمـن خان ددې غونډی لپاسه د یوه تعـمیر بنسټ کیښود چې پـه خواکې یې د شهر آرا د برج پـه نامه د یوه برج بنسټ هم کیښود او پـه شاوخوا کې یې یولوی بـاغ جوړ شو. چې د یوڅه وخت لپاره د امان اللّه خان د وخت حربي ښوونځی هم په شهر آرا کې ځای په ځای شوی و. د وخـــت پـه تیریدو ســـره وروړو د شهر آرا باغ د خـلکو تفریح ځای و ګرځیـد او د مـحمد ظاهـــر شاه د حکومت پـه وخـــت کې ددې باغ یوه برخـه پـه (بـاغ زنـانـه) بدلـه شوه چې متأسفانـه اوس متـروک او خپـل لومړنی اهمیت یې لـه لاسـه ورکړی دی.

باغ بالا:

هغـه باغ دی چې د اوسني پولي تـخنیک او پـروان مینې ترمنځ غـونډی بـاندې واقـع او لـویـدیځ تـه یې انـتیرکـانـتیـنـنـتیل هـوټل پـروت دی او د امیـر عبدالرحمـن خان پـه زمـانه کې د یـوه بـاغ پـه بـنه رامنځـته شو (۱۸۸٤م) او د بـاغ بالا پـه نامه ونومول شو.

پـه دې غـونډی بـاندې یـوه کـوچنی ښکلې مانۍ او یـو د لمبلو ډنډ هم جوړ شو. نـومورې ودانۍ د امیـر عبدالرحمن خـان د دربـار ځای و. د بـاغ بالا لـه قصر نه د انګلستان سفارت ته هم ترځمکې لانـــدې یوه لار ایستل شوې وه چې د اړتیا پـه صورت کـــې یې د انـــګلستان د ســفارت او د بـاغ بـالا مانۍ ترمنځ تګ راتګ شونې کاوه. د بـاغ بـالا پـه جنوبي برخه کې د پیر بلند پـه نامه یو مزار شتـه چې څنګ تـه یې یوه زړه کلا موجوده وه او د کافر قلا پـه نـامه یادیدله. ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلا په شمال کې د ترصد یوه برج بنسټ هم اینبسودل شوی و چې د چهاردهي، خیرخانې او وزیر آباد د سیمو، کلای جنګي او بی بی مهرو پرلاروباندې یوه حاکمه او څارنیزه (کنټرولي) نقطه وه او همداوس هم په خپل حال پاتې ده.

باغ بالا د پرله پسې پینبو له امله خپل لومړنی اهمیت له لاسه ورکړې. وروسته د محمد ظاهر شاه د حکومت په دوران کې دغه باغ بیا سمسور کړای شو او پریمانه او به ورته برابرې شوې، زیات تاکونه پکې کینول شول او مانۍ یې هم ترمیم شوه خو په وروستیو دوه نیمو لسیزو کې یې بیرته خپله تازه ګی او سمسور تیا له لاس ورکړه، زیاتره تاکونه یې وچ شول او د سړک د غاړو زیاتره ونې یې له منځه تللې دي.

د چهلستون مانۍ:

د چهلستون مانۍ د دارالامان په ختیځ او د چهلستون د غره په لویدیځو لمنو کې د شاد زمان په دوره کې ودانه شوه چې د چهار دهی بهترینه سیمه یې چې خاصه بنکلا لري په دې منظور انتخاب کړې ده. لږ پورته د چهلستون د غره په لمن کې یو وړو کی ځلی هم شته چې په پخوانیو وختو کې ودان شوی و، اما د شاد زمان له خوا دوباره ترمیم شو. امکان لري چې دغه سیمه او څلی د کابلشاهانو پر وخت د بودیزم یونامتو کلی وو.

د چهلستون مانۍ د یوه بنکلی اوشنه باغ په منځ کې واقع ود چې دوروستیو جګړو په نتیجه کې په بشپړه توګه ویجاړ شوي دی.

د دارالامان مانۍ:

د دارالامان مانۍ د چهاردهي په یوه بنیرازه سیمه کې د قوروغ د غره

ختيځ لورته له (١٩٢٢م) را په ديخوا ، د اميرامان الله خان له خوا جوړه شوې
ده چې سرمهندس يې مستر هارتن نومیده . د دارالامان د مانۍ په جوړولو کې
د هغه د ښوخدمتونو درناوي په منظور دګذرګاه پول د ده په نامه (دهارتن
پول) یاد شو. امان الله خان د پارلمان په خاطر د دارالامان د مانۍ بنسټ کیښود
چې په بیضوی خونه کې یې له (٤٠٠) څخه زیات کسان ځایيدل.

دې مانۍ څلور تینګ اوکلک برجونه درلودل او په څو پوړیز ډول جوړه
شوه چې تعمیراتي مواد یې پخې خښتې، ګچ اوسمټ وو ، د تعمیراتی موادو او
کارګرانو د لیږدولو په منظور له د همزنګ نه تر دارالامانه د ریل کرښه تر کار
لاندې ونیول شوه. ددې مانۍ بام د مسو په واسطه پوښل شوې ؤ. او په مناسبو
ځایو کې دالوتونکو تصویرونه هم انځور شوی وو. د دارالامان وات ډیر پلن او
دواړو خاووته یې پراخې پلې لارې هم درلودې، د سړک دواړو خواووته په دوه
کتاره توګه ونې کرل شوې وې چې تول پلې لارویان د لمرله وړانګو څخه خوندي
پاتې کیدل متأسفانه چې هغه توله ښکلا او تازه ګي د جګړو له امله په بشپړه
توګه له منځه تللي دي.

د تاج بیګ د غونډۍ مانۍ:

دغه ښکلې مانۍ د دارالامان په لویدیځ کې د قوروغ د غره په شمالي
ځوړو کې ودانه شوې ده ، چې په ډیر عالی ډیزاین او ساختمان په دوه پوړیزه
توګه یې د دارالامان له قصر سره په یوه مهال بنسټ ایښودل شوی او آباده شوې
ده . دا دواړه محلونه د کابل د خلکو تفریح ځایونه وو او امان الله خان په دې
ځای کې یونوی ښار په پام کې درلود ، خو د اهیله یې ترسره نشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درميم څپرکی

د کابل د ښار لرغونی نقشه

د نړۍ په ټولو ښارونو کې د ښار پلان او نقشه د ځمکو (اراضی) د جوړښت له مخې ترتیب او اوډل کیږي. په همدې اساس د کابل ښار لرغونې او اوسنۍ نقشې په شکل او ډیزاین کې د شیر دروازی د غره، د آسمایې غره او د کابل سیند رول تاکونکی دی. (۳۵۰۰) کاله پخوا هم همدغه عوامل د کابل د زاړه ښار له اغیزمنو فکتورونو څخه ګڼل کیدل. د آسمایی غره مخ په لمر ځوړې د لاندینیو پڼیدو په ملتیاد لرغوني کابل منشأ جوړوي:

د ځمکو (اراضی) جوړښت:

یونانیانو د ښار د دفاع په منظور جګې غونډۍ (اکروپل) کارولې. کابل د یوې لوړې سیمې (دور دهستانا) یا جګ ښار (اورسپانا) په توګه په همدې منظور د کابلشاهانو ښاري مرکزو، چې له همدې امله له خورد کابل څخه بالاحصار ته ولیږدول شو، په دې اساس په لومړۍ اسلامي پیړۍ کې کابل هغه ښارو چې ټینګه او مستحکمه کلایی درلوده او هغه یې د (گرزندښن) په نامه یادوله او دې جګې کلا ته رسیدل ستونزمن کاروو، د حاکمو نقطو موجودیت او له لوړو نقطو څخه ترصد، پردې (ښار) تسلط ناممکن کړی و.

د هايدروګرافي عامل:

د کابل سيند چې (کوفن) يې يادونه کړې ددې سيمې د ښيرازې او سمسورتيا سبب وو، دللندر له سيند څخه وروسته له نهر درسن څخه استفاده کيدله، جوی شير بله ويالـه وه چې د سيمې په ښيرازې کې يې سيده اغيزه درلوده چې په هغه وخت کې يې د خلکو دارتياوو د پوره کولو او خړوبولو لپاره په ښه توګه کفايت کاوه.

ستراتيژيکی نقش:

کابل د موقعيت له مخې د دښمن د بريدونو په وړاندې د يوه ټينګ او مقاوم سپر په توګه پيژندل کيده، نو ځکه په دفاعي لحاظ د ښار شا او خواته د ديوالونو د شته والی او د غرونو د لوړو څوکو يادونې په تفصيل سره شوي دي. په اکبر نامه او تزک جهانګيري کې دا موضوع په دې توګه توضيح شوې ده: «هغه غر چې پر هغه باندې د بالاحصار د ارګ بنسټ ايښودل شوي، هغه ته د شاه کابل وايی، چې پرسريی عقابان وو او د کابل ښار دوه ختيزې کلا ګانې درلودې او د بالاحصار ارګ يوه ځانګړې کلا وه.» ددې ښار کلا د بابر زوی ميرزا کامران ترميم کړه. جهانګير د (۱۰۳۷-۱۰۴۷هـ.ق) په حدود و کې د هغه په ودانيو کې د پام وړ بدلونونه راوستل او ځان ته يې ځانګړی ځای جوړ کړ، د بالاحصار کلا چې له خامو مواد و څخه جوړه شوې وه د شاه جهان په امر (۱۰۵۴هـ.ق) له ګچ او چونې څخه جوړه شوه او متعددې دروازې يې درلودې، چې د کابل د ديوالونو په برخه کې يې يادونه شوې ده.

تجارتي نقش:

کابل د ختيځ ، لويديځ، شمال او جنوب په يوه تجارتي څلور لاري کې پروت دی. اچ اچ ويلسن په اريانا انتيکا نومی کتاب کې داسې ليکي:

«اورتهسپانم درې ترافيکي لارې لري چې له لويديځ، ختيځ او جنوب څخه راغلی او په اورتهسپانم کې سره يوځای کيږي. » خو سترابن ليکي: « دا سړکونه دری نه بلکی لويه تجارتي څلور لاري ده چې د باکتريا ، او اراکوزيا او د هند خواته ځي او د آسيا له لويو تجارتي لارو څخه ګټه کيږي. بابر داسې ليکلي دي: « د هندوستان او خراسان ترمنځ د وچې له لارې دوه بندرونه دي: يو کابل او بل کندهار. کاروانونه له فرغاني او ترکستان، سمرقند او بخارا ، بلخ او له حصار بدخشان څخه کابل ته راځي. د خراسان او هندوستان ترمنځ همدغه ولايت واسطه دی. سوداګران روم او ختاتـه ځي او هر کال اووه اته زره آسونه کابل ته راځي. له هندوستان څخه له پنځلس نه تر شل زرو کورونو په کاروان کې کابل ته راځي. د خراسان، روم او چين مالونه په کابل کې پيدا کيږي. » ځکه چې کابل له ډيرو پخوانيو وختو څخه د وريښمو له لارې سره د ارتباط پر اساس عالی تجارتی ماهيت درلود.

مذهبی نقش:

د عربو له راتګ او د اسلام د سپيڅلی دين له خپريدو سره سم په کابل کې اسلامي او مذهبي سپيڅلي مرکزونه او زيات شمير جوماتونه جوړ شول. کابل ته د يوه مرکزيت دور په برخه کولو په لار کې د شاه دوشمشيره (علبه

الرحمه) ، عاشقان او عارفان (علیه الرحمه) او شهدای صالحین (علیه الرحمه) زیارتونو مهم اوتاکونکی رول درلود. خو له اسلام څخه د مخه د بودایی دین له نقطه نظره په کابل کې دیر بودایی عبادت ځایونه موجود وو. د کابل په بالاحصار کې د زمرد پرغونډی یو کوچنی بودایي معبد موجود ؤ. په شیوه کیو، بگرامیو، دامان شاخ برنتئ، د مرنجان په غونډی، په تپۀ سلام او د خیرخانې په کوتل کې یو شمیر بودایي عبادت ځایونه او زیارتونه وجود درلود.

د حدود العالم مؤلف داسې لیکي: «کابل هغه ښار گوتی دی چې تینگه او مضبوطه کلا لري، مسلمانان او هندوان پکې دي، بتخانې پکې دي، او رای قنوج تر هغو بشپړواک ته نه شي رسیدای ،څو چې د دغو بتخانو زیارت ونه کړي او د ملک بیرغ یې همدلته زړوي.»

دا موضوع د ملیونونو هندي زیارت کوونکو د تگ راتگ سبب گرځید له او د کابل مذهبي نقش یې روښانه او ښکاره کاوه.

د کابل ښاري شبکه:

که چیری د لرغوی کابل جوړښت (ساختمان) ته وکتل شي، د هغه وخت کابل غیر منظم پلان درلود، گذرونو او سیمو جگ ختین دیوالونه درلودل، تعمیراتي مصالح یې ډیرې لومړنی او خامې وې. واټونه کوچني او تنگ، نامنظم او کاږه واږه (مارپیچ) وو چې یوازی پلیو کسانو او ډیرو لومړنیو (ابتدایی) لیږدوونکو وسایلو په کې د تگ راتگ امکانات درلودل. د شپې له خوا دهرې سیمې د کوڅې لویې دروازی تړل کیدلې او زیاتره یې دفاعي بڼه درلوده. په هره سیمه کې د یوی قبیلې او یو ملیت کورنی اوسیدلې او د قومي

اړیکو پربنسټ یې ژوند کاوه چې د منځنیو پیړیو د بنارونو وضعه راپیژني. په هره سیمه او محله کې قبیلوي دودونه موجود وو، دریڅه لرونکی خونې مخ په شمال او د تعمیر مخه به د لمر له لګیدو سره برابره او موافقه وه. بنځو د کور په څلورو دیوالونو کې ژوند کاوه. د نخاس، توارچی نغاره خانی او د بازار دورځې موجودیت ددې لرغونی بنار له ځانګړتیا وو څخه ؤ. بنارې شبکې عبارت دی له مختلفو ګذرونو او سیمو څخه هغه هم په لاندې ډول:

١- د دیوان بیګی ګذر:

د دیوان بیګی ګذر د شترخانې له سیمې سره نږدې واقع و.

٢- د سردار جان خان ګذر:

دغه سیمه د زاړه بنار په منځ کې له بالاحصار څخه لږ لرې پرته وه.

٣- د قاضي ګذر:

دا ګذر اوسنی شوربازار دی چې د تیمورشاه د زمانې د قاضي القضات قاضي فیض محمد په نوم نومول شوې دی.

٤- مُراد خاني ګذر:

دا ګذر د احمد شاه بابا او تیمور شاه د دورې له بانفوذ نو میا لیو څخه د سردار مراد خان په نامه یاد شوی چې همدا اوس هم په همدې نامه موجود دی.

٥- دا څکزیانو ګذر:

دا ګذر دا څکزیانو د قبیلې او د هغو د مشر په نوم نومول شوی او اوس هم په همدې نامه یادیږي.

بر سیره پردې کولی شود زاړه بنار د نورو محلونو او سیمو نومونه هم یاد کړو لکه:

بارانه	چنداول	خیابان	قرتای چنداول	اندرابی
قصاب کوڅـه				
علیمردان گذر		کوچهٔ سکه بچه ها	درخت شنگ	جوان شیرها
تنور سازی	شترخانه	د خرابات کوڅه	خافی ها	سید جعفر
سرآسیاب بالاکوه		قول آبچکان	ئغاره خانه	کوتوالي
موچی پرک	د مرده شویانو کوڅه	کهنه فروشی	پایان چوک	د علیمردان کوڅه
خرابگاه	شانه سازي	چُقرک کوڅه	غازی خان جنده	سردار جان خان
بالاجوی	کلای هزاره ها	کله خورها	سه دوکان	سرگندنا

٦- د کابل چارچته:

دا بازار چې سریې په لرګیو پوښل شوی و د ٦٠٠ فوټو په اوږدوالي او ۳۰ فوټو په سور د پل خشتی د جومات له دروازی سره متصل د کتاب پلورنځي او د میوند د آبدي او پل خشتی ترمنځ په اوولسمه میلادی پیړی کې د علیمردان خان له خوا ودان شوی و چې په شا او خوا کې یې اتلس تجارتي سرایونه موجودو. چارچته په (۱۸٤۲م) کال د انګلیسس جنرال پالک له خوا چور او چپاول شوه. خو ژربیرته ترمیم شوه. اما په (۱۳۲۸هـ.ش) کال کې د کابل بنارد عصري کولو په منظور دغه بازار په بشپړ توګه وران شو او دغه تاریخي ودانی له منځه لاړه.

رسته (اتحادیه):

په لرغوني کابل کې دول دول تجارتي رستې (اتحادیي) موجودې وې د بیلګې په ډول، د بزازی رسته: د آهنګری رسته، د مسګري رسته، د زرګری

رسته او داسې نورې چې هرې یوې د صنعتي او تولیدي اتحادیې په توګه خپل کارونه سرته رسول. په هره سیمه کې مشخص او ابتدایي حمامونه موجود وو لکه: د کاه فروشی حمام، د کجاوې حمام، د شترخانې حمام، چند اول حمام، د عاشور بیګ حمام، د غلام رضا حمام او داسی نور.

د لرغوني کابل اجزاوې:

۱- ده افغانان:

عبارت وله: جوی شیر، نخاس، شاه دوشمشیره، اندرابي کوڅه، اندرابی، د ګادی خانی سرای، د غوریوو سرای، د مرغاویو حوض، د قالینو سرای، د سکهـ بچه ها کوڅه، د سید جعفر کوڅه، سرآسیاب، بالاکوه او قول آبچکان.

۲- خیابان:

د خیابان کوڅه، کشمش فروشی، د عبدالرحمن خان سرای، نغاره خانه او کوتوالي.

۳- مراد خاني:

د حضرت عباس زیارت، د مرده شویانو کوڅه، یو پیسه ګی پول او موچی پرک.

٤- سرچوک:

چارچته، کهنه فروشی، پایان چوک، رکاخانه، کتابفروشي، سراجي، کاه فروشي، بوریا فروشي، د محمد قومي سرای، د اعلیحضرت باغ، د علیمردان خان کوڅه، د شعبې سرای، خوابګاه، دمستان پول او شانه سازي.

۵- شوربازار:

بالاحصار، صدر بازار، لاهوری دروازه، تخته پل، هندوگذر، پیښزار دوزي، د چقرک کوڅه، آهنگری، تنورسازي، بارانه، شترخانه، انار فروشي، د رکاخانې بازار، د سراجي بازار، د علي رضا خان کوڅه، بابای خودی، د نواب باغ، خرابات، درخت شنګ، د ډاکتر قاسم کوڅه، د کجاوې حمام، د شترخانې حمام، سپورت سوار، چوب فروشي، د غازي خان جنډه، د سردار جانجان جنډه.

۶- چنداول:

د جهان آرا باغ، سرکاریز، بالاجوی، د هزاره ګانو کلا، خافی ها، قرتا، کله خورها، سه دوکان، د قاضي باغ، پخته فروشي، د نواب باغ او سرګندنا.

د زاړه بنار ستونزې:

د کابل زوړ بنار یو ګډ او مزدحم تجارتي مرکز و. د کانالیزیشن سیستم وجود نه درلود، د ترافیکو بهیر د مناسبو لارودنه موجودیت له امله له ستونزو سره مخامخ و، شین کمر بند نه و، بریښنا، تیلفون، مخابرات او د اوبو رسولو شبکې له زیاتو مشکلاتو سره مواجه وي. د کوڅو او کورونو دقیقه پته څرګندیدای نشوه، تاکلي مارکیټونه او ورکتونونه موجود نه و، بنار له تاکلي نقشې او ماستر پلان څخه پرته پراخیده.

د معاصر کابل نقشه:

د کابل بنار د پنځه ویشت کلن پلان د په پام کې نیولو له مخې په بنار او بناري ودانیو کې ستر بدلونونه رامنځته شول. د کابل بنار د بالاحصار له څلورو

دیوالونو څخه ووت او په منظمه او غیر منظمه توګه د بناری شبکو بنسټ د کابل د سیند او د شیردروازې او آسمایي غره په لمنو او د هغو پرګاوندیو غونډیو کیښودل شو.

نـــو:

د نوی بنار پروژه په ۱۳۱٤هـ. ش کال کې

د شیر شاه مینې پروژه په ۱۳۲۱ هـ. ش کال کې

د میرویس میدان پروژه په ۱۳۲۷ هـ. ش کال کې

د ولي کارتي پروژه په ۱۳۲۹هـ. ش کال

د جمال مینې پروژه په ۱۳۲۹هـ. ش کال کې

د پل سوخته د سیند د غاړې پروژه په ۱۳۲۷هـ. ش کال کې

د شاه شهید پروژه په ۱۳۳۱هـ. ش کال کې

د شیر پور پروژه په ۱۳۳٤ هـ. ش کال کې

د دریمی کارتی پروژه په ۱۳۳۷ هـ. ش کال کې

د باغ بالا پروژه په ۱۳۳۹ هـ. ش کال کې

د مامورینو د کارتې پروژه په ۱۳۳۹ هـ. ش کال کې

د ده افغانانو پروژه په ۱۳۳۷ هـ. ش کال کې

د خیرخانې مینې پروژه په ۱۳۵۱ هـ. ش کال کې او د تایمنی واټ پروژه په ۱۳۵۲ هـ. ش کال کې ترلاس لاندې ونیول شوې.

د لومړي ځل لپاره په (۱۳٤۵هـ. ش) کال کې د کابل بنار ماستر پلان طرح شو چې د کابل بنار د اوسیدونکو لپاره (۲۳۷۸۰) هکتاره ځمکه په پام کې نیول شوې وه چې په هغې کې د (۸۰۰) زرو تنو لپاره د اوسیدنې کورونه

برابريدل. خو دويم ماستر پلان (۱۳۴۹) کال د (۱۴۱۶۰۰) تنو لپاره په (۲۹۹۰۰) هکتياره ځمکه کې په پام کې نيول شوې و. وروسته په (۱۳۵۷) کال کې د بنار جوړولو کار پوهانو (۳۲۳۴) هکتياره يا (۱۶۵۰۰) جريبه ځمکه د دوه ملیونو بناريانو لپاره په پام کې ونيوله. له ځمکې نه د استفادې ډلبندي يا تصنيف يې په دې ډول دي:

د کابل بنار د ځمکې د استفادې طرز:

۱- په سلو کې ۲۵ د اوسيدنې سيمه (ساحه).

۲- په سلوکې (۵۴۳) صنعتي، عامه مرکزونه، شني ساحې او سړکونه.

۳- په سلوکی (۸) د زيرمه تونونو (گدامونو) او عمومي پارکنگونو ساحه.

۴- په سلو کې (۵، ۹) کلتوري او د حلقوي سړکونو سيمې.

۵- کرنيزې (زراعتي) ساحې (۷۶۵۰) هکتياره ځمکه.

۶- په سلوکې (۱، ۴) د (۴۰۰) هکتيارو معادل د مړستونو (قبرستانونو) لپاره ټوله (۳۲۳۴۰) هکتياره.

د کابل ماستر پلان په لاندينيو څلورو سيمو چې هره يوه يې ځانګړې مرکزونه لري، ويشل شوی دی:

۱- شمال لويديځه سيمه: چې ۴۹۶۰ هکتياره ځمکه او ۶۳۰ زره نفوس لري لويديځ ته يې د افشار غر، جنوب ته يې د آسمايي غر او کابل سيند، شمال ته يې حلقوي سړک او ختيځ ته يې د کابل سيند واقع دي.

۲- شمال ختيځه سيمه: دا سيمه ۱۶۷۰ هکتياره ځمکه او ۲۱۰ زره تنه نفوس لري چې لويديځ ته يې د جشن سيمه، حضوري چمن او کابل سيند، شمال ته يې د کابل سيند، ختيځ ته يې حلقوي سړک او جنوب ته يې د مرنجان غونډۍ پرته ده.

٣- جنوب ختيځه سيمه: ځمکه يې ٢٨٠٠ هکتاره او نفوس يې ٣٢٠ زروته رسيږي. ددې سيمې لويديځ ته د شير دروازې غر، شمال ته يې کابل سيند او د مرنجان غونډۍ ختيځ او جنوب يې حلقوي سړک احاطه کړې دې.


٤- جنوب لويديځه سيمه: نفوس يې ٨٤٠ زره او ځمکه يې ٧٤٠٠ هکتاره ده چې د لويديځ او جنـــوب له لـــوري له حلقـــوي سړک، د شمال او ختيځ له خوا د افشـــار له غـــره، علی آباد، آسمـــايي غره او شير دروازی له غره سره نښتې ده، خو د کابـــل بنار مرکزي هسته په درې پلاتي سيمو الف، ب، ج تصيف شوې ده.

پـخوالـه دې چې دغه ماستر پلان عملي بڼه اختيار کړي، دبنار په مختلفو ناحيو کې لږ پورې ودانۍ اويو پورې يزې پروژې په لاندنۍ توګه ودانې شوي دي چې د نوي ماستر پلان تطبيق بطی کوي:

- د مرنجان د غـونډۍ په شمـال او د بـي بـي مـهـرو پـه خـتـيـځ کې (١، ٢، ٣، ٤،) مکررويان بلاکونه.
- په خيرخانه مينه کې، پنځه سوه فاميلي او د سړې مينې بلاکونه.
- پـه خيرخانـه مـينـه کې د کور برابرولو (تـهـيـه مـسـکـن) بلاکـونـه او دپوليسو بلاکونه.
- پـه خـيـر خـانـه مـيـنـه کې د بنارواليِ بلاکـونـه، (٩٠) نـوي فـاميـلـيِ د بلاکونه، کلوله پشتې ته ځيرمه د بنارواليِ بلاکونه.
- په خيرخانه مينه کې د کارګري قصبې بلاکونه.
- د بی بی مهرو د غونډۍ په شمال ختيځ کې هوايي بلاکونه.
- د خيرخانې مينې په دويمه برخه کې د خيرخانې د پروژې بلاکونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د پلازمېنې نقشه



ددې ماستر پلان له مخې تولې اداري، کارخانې، د استوګنې او تجارتې مرکزونه په لاندې توګه ډلبندي کیدای شي:

الف: تجارتي او خدماتي مرکزونه:

- په خیرخانې مینې، نوی بنار او سرای شمالي کې پنځه ستر تجارتي مرکزونه او یو مرکز د هو دخیلو سیمې ته مخامخ.

- د کمپنۍ، چاردهې، خوشحال مینې، قلای شهاده، باغ رئیس، دارالامان او په واصل آباد کې شپږ تجارتي مرکزونه.

- د لوګر د سیند په شمال لویدیځه برخه او قلای زمانخان کې درې تجارتی مرکزونه.

- د ارزان قیمت پروژې په جنوب ختیځه برخه او د شاه شهید (علیه الرحمه) په سیمه کې درې ستر تجارتي مرکزونه.

- د بنار په مرکز کې د شاه دوشمشیره (علیه الرحمه) او پل خشتي ترمنځ تر پل محمود خان او د میوند واټ په دوو استقامتونو له ابن سینا روغتون څخه د اتفاق ترجوماته او لاهوری دروازې پورې تولې پراخه تجارتي سیمه ده.

ب- اداري او روزنیزې مؤسسې:

په جنوب لویدیځ او لویدیځه سیمه کې:

د پولي تخنیک، کابل پوهنتون، د دارالامان په جنوب، د ده دانا او چهلستون په سیمه کې پنځه ستر تجارتي مرکزونه.

-په شمال لویدیځ کې:

- په خیر خانه مینه کې دوه ستر مرکزونه، په وزیر محمد اکبرخان مینه

کې يو مرکز اوله آريانا هوتل نه د هوايي ډګر د سړک په ختيځ امتداد مجتمع اداري په پام کې نيول شوي دي.

- په شمال ختيځه برخه کې د کابل سيند په جنوبي څنډو کې دوه ستر مرکزونه په پام کې نيول شوي دي.

- په جنوب ختيځه برخه کې د سيد نور محمد شاه مينې (نوې کارتې) په جنوب کې يو اداري او کلتوري مرکز پلان شوي دي.

- د ښار په مرکز کې د نوي ښار او پل باغ عمومي په منځ کې تر پل محمود خانه د کابل د سيند په شمالي څنډو کې اداري او فرهنګي مرکزونه پلان شوي چې موجود هم دي.

ج- کارخانې او کارګايونه:

- په شمال ختيځه برخه کې له صنعتي پارک څخه د سړک په دواړو خواووکې تر هود خيلو پورې اوله هغه ځايه د هوايی ډګر تر جنوبه او يوه برخه هم د کابل د هوايی ډګر شمال ته د خواجه رواش د غرد په ځوړو کې.

- د رحمان مينې او سيد نور محمد شاه مينې د سړک په امتداد د لوګر سيند له څنډو تر سيد نور محمد شاه مينې. (کارته نو) پورې.

- د لوګر د سيند په جنوبي څنډه کې د ارزان قيمت پروژې په جنوبي استقامت کې د کارخانو لپاره پراخه سيمه په پام کې نيول شوې ده.

- د او سيدنې او مسکوني سيمې د ماستر پلان په شاملو برخو کې په افقي کرښو په نښه شوي دي.

هـ- شنه سيمه په تيکو ښودل شوې ده. عمومي کرښې، د ويالو روانې اوبه او عمومي سړکونه د حلقوي سړکونو په شمول د ماستر پلان په نقشه کې په

څرګنده توګه بنسودل شوي دي. په دې ماستر پلان کې مکروريان، ۲٤۰ وړکتونونه ۲۵۰ لومړني بنوونځی، ۱۰۰ ثانوی بنوونځي، ۵۰ د نجونو بنوونځي، طبي تأسيسات، عاجل او سيمه ايزکلينيکونه، درملتونونه، طبي لابراتوارونه، ۳۰ عاجل روغتونونه، ۲۵ عصري حمامونه، ۳۵ بناري کتابتونونه، ۲۰۰ جوماتونه، ۲۰ د فاتحې اخيستلو سالونونه، ۲۰۰۰ نانوايي ګانې او د اطفايې ۲۲۵ مرکزونه په پام کې نيول شوي دي.

د سړکونو سوريا پلنوالی له ۲۰ نه تر ۱۱۰ مترو پورې تاکل شوی دی. او په ماستر پلان کې د شاملو سړکونو ټول اوږدوالی ٤۸۰ کيلومتره او مساحت يې په مجموعي ډول ۳۳۰۲ هکتارونه رسيږي.

د هوايي ډګر په سړک جکپوړی ودانۍ او کلتوري مرکزونه په پام کې نيول شوي وو. د بنار په ختيځه برخه کې کلتوري او روزنيز مرکزونه او په مرکز کې تجارتي تأسيسات په پام کې نيول شوی وو چې متأسفانه تر اوسه عملي شوي نه دي. کابل بناروالي دغه څلور سيمې په شپاړسو بناري ناحيو ويشلي دي. هغه هم په لاندې ډول:

لومړی ناحيه:

په دې ناحيه کې د هازتن پل، د خواجه صفا د غره شمالی برخه تر بالاحصاره، پل محمودخان، د کابل سيند جنوب، باغبان کوڅه، پامير سينما، باغ عليمردان او ميوند واټ شامل دی. «د لومړی ناحيې ټيلفون ۲۳۵۷۷».

دويمه ناحيه:

په دې ناحيه کې ماشينخانه، دهارتن پول، سره مياشت، د کابل د سيند غاړه، د آسمايي غره شمالي برخه، د سالنګ واټ جنوبي برخه، د پروان مينې په استقامت د باغ بالا تر ګردنې پورې «ټيلفون ۳۱۲۰۵».

دریمه ناحیه:

له هارتن پله څخه د سیلو تر سړکه، د چمچه مست سیند شمالی خوا تر پل سوخته پورې، د دارالامان سړک، کوز علاؤالدین، دریمه کارته، سرای غزني، شیرشاه مینه، میرویس میدان، نهر درسن، د همزنګ او جمال مینه. «تیلفون ٤٢٩٤٠».

څلورمه ناحیه:

په دې ناحیه کې د سالنګ واټ شمالي برخه، د باغ بالا تر ګردنې، پروان مینه، ده کیپک، بادام باغ، د انصاری څلور لارې، د صدارت څلور لارې د شیر پور تر څلور لارې پورې، د تایمني دُسړک په استقامت کلوله پشته، دوزیر آباد پروژه او دریم پروان. «تیلفون ٣١٨٦٠).

پنځمه ناحیه:

له خوشحال مینې څخه تر قرغې، قلعه ء جواد، افشار، قلای وزیر، نو آباد، سپین کلی، نیاز بیګ، د فاضل بیګ نوآباد، قلعهء کاشف، د قمبر څلور لارې، قلای واحد، د چمچه مست سیند غاړه، د سیلو د سړک له څنډې د باغ بالا ترګردنې او مامورینو تر کارتی، د پولی تخنیک په شمول. «تیلفون: ٤٢٧٢٩».

شپږمه ناحیه:

د دارالامان د سړک لویدیځه برخه، قلعه ء قاضی، د برچی د بنته، قلعهء شهاده، قلعه وزیر، د چارده‌ی چار قلعه، کلای بختیار، قلعهء بهادر خان، د چمچه مست سیند جنوبي برخه تر قلعهء قاضي پورې، ګل خانه او دریمه کارته. «تیلفون ٤٤١٦٢».

اوومه ناحیه:

د چمچه مست سیند د غاړې جنوبی برخه، گذرگاه ، بریښنا کوټ، واصل آباد ، قلای غیبي ، موسهی چهاردهی ، اقا علی شمس ، چهلستون ، د تاج بیگ غوندی ، ده دانا ، ده مراد خان ، ایوب خان مینه ، د دارالامان دسړک ختیځه برخه تر دوغ آباده ، قلای اسفندیار ، گلباغ ، قلای فتوح ، ترتنې کوټ پورې. تیلفون : ٤٢١٥٦ ».

اتمه ناحیه:

د حضوری چمـــن سیمه ، شاه شهـــید ، رحمان مینه ، سید نور محمد شـــاه مینه ، د بگرامیـــونساجـــی ، قلای صـــاحب زاده ، قلعچه ، باغ سید ، قلای حشـــمت خـــان ، بینی حصار ، شـــهدای صالحین ، تریک لنگه کوتل پورې. تیلفون ٢٦١٠٦ »

نهمه ناحیه:

مکروریان ، شش درک ، هودخیل ، پلخرخي ، « فعلاً قلعه زمان خان او ده خدایداد ، د « ١٣٧٥هـ.ش کال پر اساس ». (١)

لسمه ناحیه:

نوی بنار ، له زینب نندارې څخه د وزیر آباد تر پروژې ، د تایـــمنی د سړک د شمال په استقامت ، وزیر آباد ، وزیر محمد اکبـــر خان مینه ،

---

(١) په نهمه ناحیه کې دویم ، درییم او څلورم مکروریان ، محمد عمر خان قلعه ، د میرعباس قلعه ، دقلعه وکیل یوډ (د هوایي ډګر د سړک ختیځ کورونه) ، تر هوا پیژندنې پورې سیمې هم شامل دي. (ژباړن)

شـيرپـــور ، قلعهء فتح الله خان، قلعهء مـــوسی، قلـعهء جنگـــی، د بـــی بـــی مهـــرو قلعهء خاطر. « تيلفون ۳۳۹٤۰ ». (۱)

پروليسمه ناحيه:

په دې ناحيه کې د ده کيپک ،د پوستين دوزانو کوڅه، د اريانا پروژه، د نورستان سړک، دکوهستان سړک، د ۳۱۵ لوا شاته ، هزاره ء بغل، د نجارانو قلعه لومړی برخه، او د خشت هوختيف دويمه برخه شامل دي.

د وولسمه ناحيه:

د ارزان قيمت پروژې ساحه، زن آباد او د پوليسو د مأموريت ساحه په برکی نيسی چې د کابل بنار ختيځ ته په اوولس کيلومتری کې موقعيت لري.

ديارلسمه ناحيه:

ډده سيز سيمه او ګاونډي کلی او باندې دي چې د يوې ناحيې عملي جنبه يی نه ده ترلاسه کړې.

څوارلسمه ناجيه:

تاکل شوې ود چې د پغمان ولسوالی د يوی ناحيې په توګه وپيژندل شي چې تراوسه يی عملي بڼه نه ده غوره کړې.

پنځلسمه ناحيه:

د قلعهء نجاران لومړی برخه، د تايمنی يود برخه، لب جر، د خيرخانې مينې دريمه برخه، پنځه سوه فاميلي، سرد مينه، پروژۀ جديد، د پارک ګولايی،

---

(۱) په لسمه ناحيه کې د هوايي ډګر د سړک په استقامت لويديځ پورته د بي بي مهرو (ع) تپوله سيمه د هوايی ډګر تر دوسر کې (قلعۀ وکيل ، قلعۀ چمن، هوايي بلاکونه) او کارګري قصبه د هوايي ډګر په شمول هم شامل دي (ژباړن).

د جمهوريت ګـــولايی، خواجـــــه بغرا، د خواجه بغرا غونډی او «پوسته ٔکچالو» په کې شامل دی.

شپارسمه ناحيه:

لومړی مکروريان، د چمن سيمه، سمنټ خانه، قلعهء زمانخان، ده خدايداد، پل پادشاه او د قابل بای سيمه په برکی نيسی (۱) اوس د تيلفونونو زياتره نومړي فعالي نه دي او يا يې نومړي بدلي شوي دي.

په دې ترتيب د پغمان له لمنې تر بګرامـيو اوله خواجه بغرا نه تر سرآسياب او د دارالامان په جنوب کې دوغ آباد، ريشخور د «ستر کابل» بناري ناحيې شاملې دي.

يوازې د کابل په لويديځ کې د ارغنده باندې او دشيوه کيو، بګرامـيو، ده يعقوب کلي او باندې د کابل په وروستی ختيځه برخه کې د بنار د اطراف په توګه پيژندل کيږي او دوارد ساحې د بنار په لرې احاطه کې د اطراف د مهاجرت محورونه جوړوي چې په کرنه او مالداري بوخت دي.

د لوړ پوړيزو ودانيو ددې پروژې په څنګ کې د تولنيزو او روغتيايی خدمتونو تأسيسات، د جمهوريت روغتون، نادرشاه روغتون، د طبي علومو د

---

(۱) «۱۲-۱۳-۱٤-۱۵-۱٦» ناحيه له ۱۳۷۵ کال څخه وروسته په کابل بنار والی کې مطرح شوې دي. که نه نو تر ۱۳۷۵ کاله پورې د کابل بناري ناحيې هماغه يوولس ناحيې دي او ارزان قيمت پروژه هم خپل ځانګړی ناحيوي تشکيلات لري، امکان لري د لنډمهالې اداري او انتقالي حکومت په دوران کې دغه موضوعګانې په اساسي توګه روښانه شي. «د ۱۳۷۵ کال سر شميرنه، د ۱۹۹٦-۱۹۹۷) مطابق» د افغانستان د مرکزی احصايې اداره.

اکادمی روغتون (چهارصدبستر) ، وزیر اکبرخان، ابن سینا ، د اندراگاندي دماشوم د روغتیا روغتون (صحت طفل) د مرکزي قواو روغتون، ملالی زیږنتون، د نور روغتون، سناتوریم، د پولیسو روغتون د اهریو په خپل وارد کابل د خلکو د روغتیا او روغتیایي خدمتونو په لاره کې خپلې خپلی هڅې کوي او ددې ترڅنګ په هره ناحیه کې زیات بناری کلینیکونه، کتنځایونه او شخصي کتنځی او کلینیکونه، له پنځو سوو زیات درملتونونه او زیات شمیر معالج ډاکتران د خلکو په اختیار کې ورکړل شول. زده کړې د مدرسې له سطحې نه لورو زده کړو پوهنتونونو اوله هیواد نه بهر زده کړو ته انکشاف ورکړ. ورځپاڼو، جریدو او ډله ایزارتباط وسایلو، د انټرنټ او سپوږمکیو د تیلفونونو په سطحه پراختیاو موندله. کورونه څوپوړیز، د بنار سرکونه په معاصره طریقه پلن رو بنانه په ترافیکي څراغونو او یا د ترافیکي وسایطو په دوران مجهز شول.

په ټولو برخو کې تلفون، تلګراف، رادیو، تلویزیون، ډول ډول رسمی او خصوصي خپرونې مختلفې مطبعې، د بنځینه طبقې د زده کړې د کار حق او په دموکراسي شکل اداره ،دولتي اداري، کابینه، جمهور رئیس، په پادشاهانو او جمهوري ریاست پورې اړوندې مانې، معاصر عسکري او اداري نظام رامنځته شو. د بنار تصنیف په بیلا بیلو ناحیو، بناري ماستر پلان او د بناري ځمکو تصنیف، سرشمیرنې او بناري احصایې په بیلا بیلو برخو کې په ځانګړو اهدافو په بنار کې ترلاس لاندې ونیول شول.

د کابل د (۱۳۷۵هـ.ش) کال وروستي ماستر پلان ته د (۳۲,۳٤۰) هکتاره ځمکي په ساحه کې پراختیا ورکړه شوه او د کابل د بنار نفوس دوه

ملیونو تنه اټکل شو. په دې ماستر پلان کې د استو ګنې ودانۍ په دې ډول په نظر کې نیول شوې وې:

په سلوکې له ۱۰ تر ۱۵ ودانۍ ۹ پوړیزه یا تر دې زیاتې.

په سلوکې له ۶۵ تر ۷۰ ودانۍ ٤ او پنځه پوړیزه.

په سلوکې له ۲۰ تر ۲۵ ودانۍ ۲ او ۳ پوړیزه.

داسې پلان ترتیب شوی و چې بنار باید په خپل عمودي بعد کې پراختیا ومومي او د بنار له افقي پراختیا څخه مخنیوی وشي. د بنار بیلا بیلې اجزاوې لکه څنګه چې مو دروپیژندی له پرونۍ کابل سره هیڅ سمون نه لري. د ناحیو په هر یوجز کې ټول فرهنګي، اقتصادي، صناعتي او اداري تسهیلات په نظر کې نیول شوي دي چې پرونۍ کابل ورڅخه برخمن نه وو.

او سیدونکو ته تریوې اندازې د څښلو اوبه، بریښنا، په بنار کې سالمه اوروغتیایی فضا برابره شوی دد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

د کابل ښار
د افغانستان د سیاسي مرکز په توګه

د کابل ښار د تیمور شاه د سلطنت پر مهال بیا سیاسي مرکز شو، په دې ترڅ کې د کابل په زاړه ښار کې بدلونونه او پراختیا وې رامنځته شوې، کله چې په (۱۸۸۸م) کال اوسنی ارګ چې عبدالرحمن خان یې بنسټ ایښی و تکمیل شو، دولتي اداره له بالاحصار څخه ارګ ته ولیږدیده له او د وزارتونو اداري د یوې ټولنې (مجتمع) په بڼه سره راټولې شوې. د دولت ریاست شاهی وی که جمهوری په ارګ کې مستقروي، عظمي صدارت ته د ارګ ترڅنګ ځای ورکړل شو او نورې اداري د ارګ د شاوخوا په لرې اونزدې سیمو کې ځای پرځای شوې او د ښار له پراختیا سره سم د دې وزارتونو په ساختماني بڼه کې مثبت بدلونونه څرګند شول. د مخابراتو د وزارت ښکلی او مجللې (۱۸) پوړیزې ودانی کابل ته نوې بڼه ورکړه. د ملي دفاع وزارت، د عدلیې وزارت، د کانو او صنایعو وزارت، د پښتونستان په څلور لارې کې د ارګ په ګاونډ کې واقع دي. د پوهنې، اطلاعاتو او کلتور وزارتونه د ښار په مرکز (د افغانانو) کې موقعیت لري. د صدارت قصر، د پلان وزارت، د کلیو د پراختیا وزارت، امنیت او د کورنیو چارو وزارت په لږ واټن د ارګ په لویدیځه خواکې موقعیت لري. د

بهرينو چارواو سرحدونو د چارو وزارتونه د ارګ لويدیځ خواته پراته دي. په همدې توګه د مرکزي بانک (د افغانستان بانک)، ملی بانک او پنبتني تجارتي بانک، کابل بنار والي او د کابل ولايت بنسټ هم د بنار په مرکز کې اينبودل شوی دي. يو شمير وزارتونه په علاؤ الدين کې د دارالامان د سړک په امتداد او يـــا په شيرشاه مـــينه کې مـــوقعيت لري. د بيلګې په توګه د سوداګرۍ وزارت د علاؤ الـــدين په سيـــمه او د لـــوړو زده کړو وزارت په شيرشاه مينه کې، همدارنګه مقننه قوی (پارلمان) ته هم د علاؤ الدين په سيمه کې ځای ورکړل شوی دی.

د هوايي ډګر د سړک پـه امتـداد د عـامې روغتيـا وزارت، مـلـکي هوانور دی او ستره محکمه ځای لري. د برينبنا د انرژی وزارت د خيرخانی په بادام باغ کې او د فوايد عامې وزارت پـه لومړي مکرويان کې خپلی ورځنې چارې پرمخ بيايی. په همدې ډول د متحابه دولتونو ټول سفارتونه او د ملګرو ملتو اداري او غير دولتي مؤسسې خپلې ودانۍ او مستقلې اداري په خپل واک کې لري. له دې جملې څخه د روسيی سفارت د دارالامان په سړک او د امريکا د متحدو ايالتونو سفارت د هوايي ډګر د سړک پـه امتداد په وزير اکبرخان مينه کې مجللې او ښکلې ودانۍ لري.

د ارګ په داخل کې ښکلی او پـه زړه پورې ودانۍ لکه د ګلخانی مانۍ، د دلکشاه مانۍ، د سلامخانې مانۍ او لومړی لمبر مانۍ وجود لري. د بهرنيو چارو وزارت د ستوري مانۍ او د صدارت مانۍ له مهمو او ټينګو ودانيو څخه دي چې په ښکلی معماری جوړی شوی دي. د کابل په جنوب کې د چهلستون مانۍ د کابل له ښکلو مانيو څخه ده چې د زمانشاه د حکومت په دوره کې ودانه

شوې ده، وروسته د هغې په ساختمان کې زیات بدلونونه رامنځته شول، د قوروغ د غره په شمال ختیځه لمن کې د دارالامان مانۍ او د تاج بیګ د غونډۍ مانۍ د امان الله خان له شاهکاریو څخه دي چې په دې ښکلا سره په کابل کې لا تر ستر ګو کیږي. د ښوونې او روزنې وزارت او د کابل ولایت په لویدیځ کې د ملی آرشیف ودانۍ د کابل ښار له ستروا او وتلو تاریخي و دانیو څخه ګڼل کیږي چې د هیواد زیاد تره رسمي او تاریخي اسناد په کې خوندي دي.

په کابل کې مهمې اداري:

کابل د افغانستان د پلازمینې او سیاسي مرکز په توګه د یوه مستقل هیواد ټول اداري، ټولنیز، اقتصادي او پوځي تشکیلات لري چې دلته یې په لنډه توګه یادونه کوو:

د جمهوري ریاست مقام:

مقریې د ګلخاني، دلکشاه، سلام خاني مانۍ او لومړی لمبر قصر کې دی.

د صدارت مقام:

صدراعظم په بیلا بیلو برخو کې له څلورو څخه ترپنځو پورې مرستیالان لرل. د وزیرانو شورۍ د چارو اداره د دولت د سیاسي، اقتصادي، علمي او پوځي چارو په اړه پراخ تشکیلات لري. مهم وزارتونه یې دادي:

- د بهرنیو چارو وزارت
- د ملي دفاع وزارت
- د امنیت وزارت (اوس ریاست)
- د مخابراتو وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اطلاعاتو او کلتور وزارت
- د ترانسپورت وزارت
- د ملکی هوا نوردی وزارت
- د بیا رغاونی وزارت
- د سپکو صنایعو او خوراکی موادو وزارت
- د مالیې وزارت
- د ساختماني چارو وزارت
- د سرحدونو د چارو وزارت
- د پوهنې وزارت
- د لوړو او مسلکي زده کړو وزارت
- د عامې روغتیا وزارت
- د بریښنا انرژی وزارت
- د اوبو لګولو وزارت
- د عدلیې وزارت
- د کرنې او مالداری وزارت
د اسلامي شؤنو وزارت
- د پلان وزارت
- د سوداګری وزارت
- د کلیو د رغاونی او پراختیا وزارت
- د راستنیدونکو د چارو وزارت
-مرکزي بانکونه(د افغانستان بانک، ملي بانک، پښتني تجارتي بانک)

- د کابل بنار والی ریاست

- د کابل ولایت

د کابل بنارواالی ریاست چې د بنار او بنارواالی اړوندې چارې سمبالوي څلور مرستیالان او په مرکزي اداره کې مختلف ریاستونه او د ناحیو (۱۶) ریاستونه لري چې د بنار په بـــیلا بیلو ســیـــمو کې موقعیت لري د بیو د کنترول، د بنار تنظیف، بناري مالیـــې او ساختماني چارې د کابل بنارواالي د مختلفو څانګو له خوا تر ســـره کیږي، لاندینی تصدي ګانې هم له کابل بنارواالی سره ګډې هڅې کوي:

- د کلتوري خدمتونو د تصدی لوی ریاست

- د جوماتونه، جماعت خاني، تکیه خانې، سینما ګانې او درمسالونه.

- د هوټلونو د تصدی ریاست.

- د مهندسي او پلان جوړولو لوی ریاست

- د مکروریانو د ساتنې او څارنې د تصدی لوی ریاست.

- د اوبو رسولو او کانالیزاسیون د تصدی لوی ریاست.

- د کابل بنارواالی د ودانو لود چارود تصدی لوی ریاست.

- د کورجوړولو د فابریکی د تصدی لوی ریاست.

- د افغاني سرې میاشتی د تولنی لوی ریاست.

په کابل کې اتلس سینما ګانې فعالې وې، لکه: د آریانا سینما، آریوب سینما، اقبال سینما، باختر سینما، بریکوټ سینما، بهارستان سینما، بهزاد سینما، پارک سینما، پامیر سینما، تیمور شاهی سینما، د خیرخانی سینما، زینب سینما، فرخی سینما، کابل نندارې، ملی سینما، میرویس سینما او

میوند سینما خو یو شمیر یې پخوا او رانې اوتخریب شوې دي. برسیره پردی په کابل کې پنځه درمسالونه (آسمایی، بابا منسا سنگهـ، پیراتن ناب، خالصه او هراري دله) هم موجود دي.

بانکونه او تجارتي مرکزونه:

د تجارتي چارو د چلند د اسانتیا وو په منظور په کابل بنار کې لاندینې بانکونه فعالیت کوي:

- د افغانستان بانک، د افغانستان د مرکزي بانک په توګه چې په اداره او دولتی حسابونو پوري اړوندد ی.

- ملي بانک د افغانستان دویم بانک دی چې ملي او تجارتي پانګوته ځای ورکوی او ساتي یې.

- پښتنـي تجـارتي بانـک پـه مـطلـق دول د خـلکو او ســوداگرو په خدمت کې دي.

- د صنـعتي پراختیا بانک، په هیواد کې د صنایعو د پراختیا په منظور فعالیت کوي.

- رهـنی او تعمیراتي بـانـک، د آبـادي او تعمیـراتی پروژو پـه چارو مصروف دی.

- د صـادراتو د پراختـیا بانک، د تجارتی مالونو په صادرولو او تجارت کې هڅه کوي.

- د کـرنې د پراختـیا بانک، پـه کرنیـزو پروژو کې له ځمکه والو سره مرسته کوي.

- د دې بانکونو ترڅنګ په کابل بنار کې تجارت او تجارتی بازار تریوی اندازې پراختیا موندلې ده چې د پانګوالو د فعال تجارت پایلی (نتایج) د بنار په تجارتی مرکزونو، د هغه په شاوخوا سیمو او یا د بنار په مرکز کې په لاندې دول لیدلی شو:

۱- د بنار په مرکز کې تجارتي سیمې:

د شاه دوشمشیرد له پله څخه د کابل سیند په دو واستقامتونو د دواړو واټونو په څنډو کې تر پل باغ عمومي، پل خشتی، مراد خانی، نادر پښتون واټ پورې، د مترو پول هوټل او پلازا هوټل په استقامت او هلته د آسمایی واټ په دوه خواوو د آسمایی تر درمسال پورې ټول تجارتي او سوداګري مرکزونه دی چې په څو پوړیزو ودانیو کې ځای لري.

د کابل سیند په جنوبي څنډو کې له پل باغ عمومي نه تر پل خشتي او له هغه ځایه د نادر پښتون واټ په امتداد د سپاهي ګمنام (نوم ورکی سرتیری) په استقامت، د میوندواټ په دوو خواوو تر حضوری چمنه، همدارنګه د تیمور شاهی ګنبدی نه د چنداول ترسه دوکانه، منډوی او د بنار مرکزی بازار موقعیت لری چې له څلویښتو زیات سرایونه او یو شمیر زیات تجارتی دوکانونه پکې شته دي. له تجارتي پلوه د بزازی، میوې، غوړیو، اوړو، وریجو، سګرټو، بایسکلونو، قرطاسیې، چای او بورې یو زیات شمیر سرایونه او دوکانونه او همدارنګه د بنجاره او ممیزو سرایونه او داسې نورهم موجود دي.

په همدې ترتیب د کابل ولایت په شمال کې د صدارت له څلور لارې څخه د کورنیو چارو تر وزارت پورې زیات تجارتي دوکانونه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کورنیو چارو وزارت په ختیځ کې د تورہ بازخان ترڅلور لاړې پورې د گلسازی او انتیک پلورنې په یوه اوږده کوڅه کې په بشپړه توگه تجارتي دوکانونه وجود لري. باغ قاضي او د چنداولو دسه دوکان شاوخوا د لومړیو موادو پلورنځي او د شیریني جوړولو سیمې دي.

د نوی بنار د پارک په جنوبي خواکې د حاجی یعقوب له جوماتـه او د حاجی یعقوب له څلور لاړې څخه د مرکزی قواوو تر روغتونه او د انصاري له څلور لاړې څخه تر کلوله پشتې او د بنار والی تر بلاکونو پورې تولـه تجارتي سیمه او د پلورنې مارکیټونه دی.

۲ - د سالنگ واټ په امتداد د باغ بالا په استقامت تر آریانا کارتې او پروان مینې او همدارنگه د سرای شمالي په استقامت تولې تجارتې، تخنیکي او صناعتي سیمې دي.

۳ - د کابل په لویدیځ کې د کمپنی بازار، د میـــرویـــس میدان بازار، د قمبر د څلور لاړې بازار، د پـــل سوخـــتـه بازار، قلای شهاده، د دشـــت برچـــي بازار او د مهتاب قلا بازار دیا دولـــو وړدي. په دریمه کارتـه کې د پل سرخ بازار، د دارالامـــان بازار، د ده دانـــا بـــازار، د گـــذرگاه بـــازار د تجارتي گنې گونې سیمې دي.

٤ - د مرکزي قواوو (قوای مرکز) د سړک په امتداد د آقمراد د بلاک په استقامت یاد شوی واټ په بشپړه توگه د موټرو د پرزو او دعراده جاتو د تخنیکي اړتیاوو د پیرودنې او پلورنې سیمه ده.

د بنار په مرکز کې د شهزاده سرای، آریانا کارتـه او سرای شمالي د اسعارو دراکړې ورکړې (تبادلې) لوی مرکزونه ګڼل کیږي.

۵- د کابل په ختیځ لوري کې د مکرویانونو بازار، د اقبال سینما ته څېرمه بازار او د رحمن مینې وروستی برخه د یادولو وړدي. د شاه شهید د څلور لارې په بازار کې هم یو شمیر تجارتي دوکانونه موجود دي.

٦- په خیرخانه مینه کې د مریمی د لیسې دواټ بازار، د خشت هوختیف د څلور لارې بازار، سرای شمالی تر یوو نسمی حوزې او له برکی نه تر دریم پروانه پورې تولې لویې تجارتي سیمی دی. د کور برابرولو (تهیه مسکن) او د تایمنی د څلور لارې د تیلو پلورنځي د کلوله پشتې له څلور لارې نه د تایمنیو تر څلور لارې، له تایمني نه تر لب جرپورې دودانیو د لرګیو پلورنځی او د خواجه بغراله دري لارې څخه د نجارانو کلاتر څلور لارې پورې د خیرخانې په داخل کې د موټرو پلورنځي لیدل کیږي.

۷- له دویم پروان نه د کلوله پشتې تر څلور لارې د موټرو د پلورنې سیمه ده. همدارنګه د انصاري په څلور لارې کې یولوی موټر پلورنځی فعال دی.

په هر حال له (۱۳۵۷) کال څخه د مخه په کابل کې د احصایی له مخی (۱٦,۵۳٦) دوکانونه او (۲۳۱) سرایونه ثبت شوي دي. چې متأسفانه زیات شمیریی په وروستیو دوه نیمو لسیزو کې د جګړو له امله ویجاړ اوله منځه تللی دی. برسیره پردی د بنار په مختلفو برخو کې د (۳,۳٤۵) خونو په لرلو سره (٤۵) کاروانسرایونه ثبت او راجستر شوی وو.

د کابل پر تاریخي مرکزونو د نویو ودانیو اغیزه:

په (۱۳۲۸) کال کې د کابل بنار د عصري کولو د لومړي پړاو په عملي

کولو سره د کابل تاریخی سیمو په لاندینی توګه خپل ځایونه معاصرو بناري ودانیو او ځایونو ته پرېښودل:

- د بالاحصار د ننه ودانی له زیاتو بدلونونو سره مخامخ شوې، په ځانګړې توګه کله چې د محمد ظاهرشاه د سلطنت په لومړیو کې د حربیې ښوونځی هلته ولیږدول شو.

د لاهوری دروازې او د هغې د صدر د بازار چې د چمن د مخامخ واټ په امتداد پروت و د ماهیپر د لارې په پرانیستلو سره خپلې پخوانی ځانګړتیاوې (اوصاف) له لاسه ورکړې. او صدر بازار د دویمې درجې دوکانونو ردیف ته تغیر شکل وکړ ځکه چې نورو مارکیټونو د تیمورشاهي او نوي منډوي ګاونډ ته لیږدیدنې (نقل مکان) وکړې.

د کوتوالي ګنبذ او نغاره خانه چې یوه د بلې بشپړونکي وه د خپلواکی واټ او د دفاع وزارت د جنوبی خوا مقابل پارک په برخه کې بې موقعیت تصادف کاوه، دوباره ویجاړ شول او د ارګ ختیځه منظره په شنې ساحې او پراخه واټ بدله شوه. همدارنګه د محمود خان پله په وړاندې د ساعت برج د کابل په وروستیو جګړو کې په بشپړ توګه ویجاړ شوی دی، چې دا هم یو بنکلی تاریخی برج و.

د کابل چارچته:

له بنکلو اوو یادمنو تاریخی پاتې شونو ځخه وه چې د سپاهی ګمنام (نوم ورکی سرتیری) ځخه پیل کیده او په پل خشتی کې پای ته رسیده چې د زاړه بنار د راکړې ورکړې د ګڼ میشتې سیمې له لویو تجارتي سیمو ځخه ګڼل

کیده او په (۱۳۲۸) کال ویجاړه شوه په هغې کې د بنکلی لرګین صنعت څخه کار اخیستل شوی وو چې تولـه لـه منځـه یوړل شول.

په هغې کې بیلا بیلې تجارتي او صنعتي رستې موجودې وې او په شاوخوا کې یې له (۱٤) څخه زیاتو تجارتي سرایونو شتـه والی درلود. له ویجاړید وروسته یې خپل ځای لوړ پوړو ودانیو، تجارتي سرایونو او د کتابونو د پلورلو دوکانونو ته پرېښود، د نادر پښتون واټ لارې او د پل خشتي جومات ته د ننوتلو لارې پراختیا وموندله.

- عمومی باغ، د لطیف باغ، د جهان آرا ء باغ، د قاضي باغ، د نواب باغ او د اعلیحضرت باغ چې په زاړه بنار کې بنکلی اوتاریخی باغونه وو، ځای یې د زاړه بنار اجزاوو ونیو. او د قاضي باغ فعلاً د غذایي موادو د یوه مارکیټ په توګه د باغ بڼه له لاسه ورکړي ده.

د علم ګنج باغ ځای ماشینخانې او مرستون نیولی او د شهرآرا باغ ځای د قصابی مارکیټ، سرې میاشتې، ځینو عسکری ودانیو، او د شهرآرا د برکی شخصی کورونو نیولی دی. البته مخکې له دې کابل د یوه تازه او بنکلی د بڼې په څیر دخلکو د ساعتیری ځای وو او بابر د باغونو د جوړولو چارې هند ته اقتباس کړې.

په کابل کې پوهنه (معارف):

پوهنه د یوې ټولنې د تولنیز، اقتصادي او سیاسي ودې د پرمختیا او نهضتونو بنسټ ګڼل کیږي، په کابل کې د لومړی ځل لپاره امیر شیر علیخان دې کارته اوږده ورکړه (۱۲۵۹ هـ.ش) او د حربیې د ښوونځي، د ديني علومو د

مدرسې او يوه ملکي ښوونځي په بنسټ ايسښودلو سره يې د پوهنې اساس کيښود. وروسته امير حبيب الله خان (۱۲۸۲هـ ش) دغه نهضت پياوړی کړ او د حبيبې ښوونځی يې پرانيست ، د حربيه فنونو ښوونځی ته يې انکشاف ورکړ چې د تولو شاګردانو شمير يې (۴۰۰۰) ته رسيده .د امان الله خان په وخت کې د کابل په ښار او ولايت کې (۲۲) ښوونځي منځ ته راغلل او د هغو ترڅنګ په کابل کې مسلکي او لوړ (عالي) ښوونځي هم پرانيستل شول.

لکه: د نفيسه صنايعو ښوونځی، د دفتر داری اصول، دارالمعلمين، حکام، قضاء او مساحت. په (۱۳۰۱-۱۳۰۶) کال کې امانيه ښوونځی (استقلال ليسه)، امانی ښوونځی (نجات ليسه)، د غازي ښوونځی (د غازی ليسه) په ۱۳۰۲ کال کې د مستوراتو او عصمت ښوونځی په تدريس پيل وکړ.

د محمد نادرشاه په دوره کې لومړنی ښوونځی (ابتدايی)، رشديی، اعداديې او د پوهنتون د لوړو زده کړو په سطحه يعنی د طب پوهنځی د لومړي ځل لپاره د کابل په ښار کې پيل او پرانيستل شو.

د اعليحضرت محمد ظاهرشاه په دوره کې په عرفاني ساحه کې په پراخه اندازه ريفورم او انکشاف رامنځ ته شو. په (۱۳۱۴هـ.ش) کال، لومړنی دوره اجباري شوه او په (۱۳۲۹) کال ښځينه ښوونځی پرانيستل شول. له بيسوادی سره مبارزه پيل شوه او لوړو زده کړو د پوهنتون او پوهنځيو په سطحه پراختيا وموندله.

په (۱۳۵۰) کال کې د کابل په ښار کې د پوهنی د زده کوونکو شمير په دې ډول وو:

بنارى لومړنى بنوونځى ۲۵۳ , ۳۸ هلکان او ۸۳۵ , ۳۲ نجونې.

بناري منځنى بنوونځي ۷۵۸ , ۱۲ هلکان او ٤٤۱ , ٦ نجونى.

بنارى ليسې ۳٦٤ , ٦ هلکان او ۷٤٦ , ۲ نجونى.

بناري بنوونکى ۲٦۰ , ۱ نارينه ٦٥٦ , ۱ بنځې.

د کابل ولايـــت د لومـــړنيو بنـــوونځـــيو زده کوونـــکى ۷۵۳ , ۲ هلکان او ۵۰۸ نجونې

مستقل لومړنى بنوونځي ٤۵۵ , ۲۱ هلکان او ٦۸۰ , ۳ نجونې.

اړوند لومړنى منځني بنوونځي ۲۹۱ , ٤هلکان او ۱٤۱ نجونې.

د ليسو لومړنى بنوونځي ۹۸۷ هلکان.

د کابل ولايت د بنوونکو شمير ۸۵۱ نارينه او ۱٤۰ بنځينه بنوونکې.

همدارنګه د کابل په بنار کې د صنعت د اداري انستيتوت، د محاسبې انستيتوت، بدني روزنې، د افغان سيد جمال الدين د بنوونکو د روزنې مؤسسه، د بنوونکو د روزنې اکاډمى، د کرنې عالي انستيتوت، دروبنان دارالمعلمين، د صنايع ليسه، ميخانيکى ليسه، د تجارت ليسه، ثانوى تخنيک، د ميرمنو ټولنې ليسه، د موزيک ليسه، جمهوريت ليسه، د هوټلدارى ليسه، لابراتوارونه، د عايشې درانې ليسه، د ملالى ليسه، د زرغونې ليسه او داسې نور يې بيلګې يې منځ ته راغلې.

د دولت د هڅو او سعى په نتيجه کې د کابل په بنـــار کـــې د لوړو زده کړو زمينه برابره شوه، په (۱۳۱۱) کال د طـــب پوهنـــځى پرانيـــستل شو، حربي پوهنتون او د پوليســـو اکاډمـــي په فعاله توګه خپل تدريس ته دوام ورکړ، د کابل پوهنتون، د پـــولى تخنيک انستـــيتوت او پيـــداګـــوژي

پراختيا ومونډله او د کابل پوهنتـــون پـــه (١٣٢٦) کال په يوه علمي واحد بدل شو چې ځانګړی او بيلا بيل پوهنځي لري.

د طب پوهنځي په (١٣١١هـ.ش) کال تأسيس او په (١٣٦٠) کال کې د کابل د طب په دولتي انستيتوت بدل شو:

د کابل پوهنتون دغه لاندينې پوهنځي لري.

- د حقـــوقو او سياسي علومو پوهنځـــی، په (١٣١٧) کال کې تأسيس شوی دی.
- د علومو (ساينس) پوهنځی، په (١٣٢٢) کال کې تأسيس شوی دی.
- د شرعياتو پوهنځي، په (١٣٢٠) کال کې تأسيس شوی دی.
- د انجنيری پوهنځي، په ١٣٣٧ کال کې تأسيس شوی دی.
- د کرنې پوهنځی په (١٣٣٥) کال کې تأسيس شوی دی.
- د اقتصاد پوهنځي، په (١٣٣٦) کال کې تأسيس شوی دی.
- د ښوونې او روزنې مؤسسه، په (١٣٣٣) کال کې تأسيس شوی دد. چې وروسته په (١٣٤١) کال د ښوونې او روزنې پوهنځی شو.
- د فارمسي پوهنځي، په (١٣٣٨) کال کې تأسيس شوی دی.
- د وترنری پوهنځي، په (١٣٣٦) کال کې تأسيس شوی دی.
- د ځمکپوهنې پوهنځي، په (١٣٥٩) کال کې تأسيس شوی دی.
- د ژورنالیزم پوهنځي، د تأسيس کال (١٣٥٩).
- د تولنيزو علومو پوهنځی، د تأسيس کال (١٣٥٩).
- د هنرونو پوهنځی، د تأسيس کال (١٣٥٩).
- د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، د تأسيس کال (١٣٢٢).

د پيداګوژي انستيتوت هم بيل بيل پوهنځي درلودل: د بهرنيو ژبو، ادبياتو، تاريخ او جغرافيې پوهنځي، په پوهنتون کې د شپې پوهنځي هم موجودو و چې په دې وروستيو وختو کې شاګردان نه لري.

د کابل پوهنتون محصلين په (۱۳۵۶) کال کې (۸۷۰۰) تنه او په (۱۳۵۷) کال کې (۱۰۰۵۲) تنه وو.

- په (۱۳۵۸) کال (۱۲٤۲۲) تنه محصلان او په سلوکې ۵۰ نجونې.

- د کابل پوهنتون استادان په (۱۳۵۶) کال کې (۸٦۰) تنه او په (۱۳۵۷) کال کې (۹۰۹) تنه.

- په (۱۳۵۸) کال کې (۸٤٤) استادان.

خو په راتلونکو کلونو کې دغه کميت بدلون ومونډ.

په (۱۳٦۸) کال کې د روزنيزو مؤسسو محصلان:

- کابل پوهنتون ۸۷۵٤ محصلان په سلوکې ٤۰ نجونې.

- د شپې پوهنځي ۷۳۵ محصلان په سلوکې ۲۰ نجونې.

- اسلامي پوهنتون ۳۹۷ محصلان، (۱۳٦٦) کال.

- د پولي تخنيک انستيتوت (۲۰۲٤) محصلان، په سلوکې ۲۰ نجونې.

- د طب دولتي انستيتوت ۲۸۸۷ محصلان، په سلوکې ۲۵ نجونې.

- د پيداګوژي انستيتوت ۲۳۰۹ محصلان، په سلوکې ۲۵ نجونې.

اوس د کابل پوهنتون د استادانو شمير (۳۹۰) تنو ته رسيږي او په همدې ترتيب په نورو علمي مؤسسو کې د شاګردانو ښوونکو او استادانو په شمير کې د کتنې ور کمښت ترستر ګو کيږي. او په تشکيلاتي لحاظ هم اسلامي پوهنتون د شرعياتو په پخواني پوهنځي تبديل شو.

له ۱۳۶۹ کاله را په دیخوا د کابل پوهنتون کله بیرته (خلاص) او کله ترلی و، ځکه چې د کابل داخلي جګړې د هغه د مزاحمت سبب وې. د ۱۳۷۵ - ۱۳۸۰ کلونو ترمنځ د بنځو روزنه او د بنځینه و کار طالبانو تحریم کړ او پوهنتون له خپل اکاډمیک حیثیت څخه ووت. . هیله ده چې د غه ټولې نیمګړتیا وې او ویجاړتیا وي جبیره شي، د کابل او افغانستان اداري خپل مدني او معاصر حالت بیا ترلاسه کړي. له نیکه مرغه د ۱۳۸۰ کال له جدی نه را په دیخوا د دولت د اعلان له مخې ټول هغه نارینه او بنځینه کارکوونکې چې د طالبانو په وخت کې له دندو (وظیفو) څخه ګوښه کړای شوي وې، بیرته یې خپلو دندو ته دوام ورکړ او بنځینه ښوونځي بیا راژوندي شول او بنځینه طبقې بیرته د پخوا په شان پرتدریس، ښوونې او روزنې او خپلو اداري چارو پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

د کابل ښار دوګرو شمیر

د کابل ښار دوګرو شمیر په بیلا بیلو پیړیو کې د یادونې وړ بدلونونو او زیاتوالي سره مخامخ شوی دی. د کابل شاهانو له حکومت څخه مخکې د اوسنیو ده افغانانو په برخه کې یوه ستر زراعتي کلي ته ورته (مشابه) له پنځه سوه تنو څخه زیات اوسیدونکی نه لرل، خو د کابل شاهانو په وخت کې یې دیوه سیاسي او نظامي مرکز په توګه څه د پاسه پنځوس زره تنه وګړي لرل. د بابر او تیمور شاه دواکمنۍ په کلونو کې یې هم له سلو زرو تنو څخه زیات وګړي نه لرل. د محمد ظاهرشاه د حکومت په زمانه کې ښار پراختیا وموندله او د ښاري وګړو شمیر د ښار په پرتله زیاتوالی وموند او خلکو له کلیو او باندو څخه ښار ته مخه وکړه د ښاري ماستر پلان له مخې په ۱۳٤۳ هجري لمریز کال کې د کابل ښار دوګرو شمیر درې سوه شپیتو زرو تنو ته او په ۱۳۵۸ کال کې نهه سوه یو دیرشو زرو تنو ته لوړ شو. د ۱۳٦۹ هجري لمریز کال په سرشمیرنه کې د کابل ښار دوګرو شمیر ۱,۵٦۲,٤۰۰ تنه او ۲۳,٦۰۰ کورنۍ محاسبه شوي وې، خو د ۱۳۷۵ هجري لمریز کال د احصایې له مخې د کابل ښار ۲,۰٤۲,۲۰۰ تنه اوسیدونکي لرل او د کورنیو شمیریې ۳۰,۸٤۹ ته رسیده. په داسې حال کې چې په جنوبي ساحو کې یې د ښار ناحیې یو څه ویجاړې شوي دي، خو د

وروستيو دوه نيمر لسيزو جګړو له املـه يوزيات شمير خلکو لـه ګاونډيو ولايتونو او د بنار له شاوخوا سيمو څخه کابل ته مخه کړې ده. او د بنار دوګړود شمير د زياتوالي سبب شوی دي، خو د کابل اصلي او بناري اوسيدونکو يوې برخې مهاجرت وکـړ اوله خـپلو اصـلي ټاټو بـو څخه ووتل، خو سره له دي هم له شاوخـوا سـيمو څخـه دوګـړو په راتـګ سره د بناري اوسيدونکو شمير لا پسې زيات شو.

ژبه: د هـيواد په مـرکـز او ولايـتونـو کـې د دولت رسمي ژبې پښتو او دري دي.

مذهب: د کابل خلک په غوڅ اکثريت سره مسلمان او حنفي مذهبه دي. خو د شيعه مذهب پيروان هم پکې شته. همدارنګه د هندوانو لږ کی هم په کابل کې ژوند کوي.

نژاد: د نژاد له پلوه د کابل خلک زياتره آريايان دي چې د هندوکش د جنوب په دروکی ميشت او ځای پر ځای ؤ او د کابل خلک هم همدوي وو.

دوګړو د شمير زياتوالی:

په زاړه بنار (چنداول، شوربازار او لاهوری دروازه) د ده افغانانو په ځورو له دهمزنګ څخه د مرغابيانو د ډنډ په امتداد ترقول آبچکان پورې په هر کور او حويلی کې له لسو څخه تر پنځلسو پورې، دغه راز په قلعه، موسی، قلعه، شاده، بره کې او شهرآرا کې له پنځو څخه ترلسو تنو پورې او يا کله نا کله له دې څخه زيات ژوند کوي.

دورځي په اوږدو کي له پل باغ عمومي څخه ترپل خشتي، سترپلورنځي، نادر پښتون واټ تر سپاهی ګمنام (نوم ورکي سرتیری)، د میوند واټ په اوږدو کي، د ابن سینا تر روغتون پورې او له دغه ځای څخه تر شاه دوشمشیره (ع) او ده افغانانو کي، د زرنګار پارک په شاوخوا، مرکزي منډوي، باغ قاضي او چنداول چې زیات وخت د تګ راتګ لاره پکی نه وي، آسمایي واټ، سالنګ واټ، د پارک سینما د دواړو غاړو بازار، تایمنی، دهن باغ، د پروان مینی دویمه څلور لارې، د پروان مینی عمومي مارکیټ، د مریم لیسې واټ او د نجارانو قلعه، ډیری ګڼ میشتې دي خو په نورو بناری ناحیو کي په متناسب او اندولیز ډول یعنې په هرکور کي په منځني ډول له پنځو تنو څخه تر شپږو تنو پورې ژوند کوي.

په کابل کي تلګراف:

کابل په افغانستان کي لومړنی بنار دی چې سیم لرونکی او بی سیم تلګراف پکي ځای پر ځای شو او د استفادې وړ وګرځید. د افغانستان د خپلواکۍ له تر لاسه کولو مخکی د امیر حبیب الله خان په وخت کي سفری بی سیم، تلګراف له مارکونی کمپنی څخه کابل ته راولیږدول شو چې د هغه په واسطه له کابل څخه پغمان او جبل السراج ته مخابره کیده. په ۱۲۹۹ هجري لمریز کال کي د اوږدې څپې لرونکی بي سیم، تلګراف دوه دستګاوې چې یوې یی پنځه کیلو واټه قدرت او بلی یې دوه کیلو واټه قدرت درلود، د عسکری مخابرې له پاره کابل ته راولیږدول شوې، وروسته په ۱۳۱٤ هجري لمریز کال کي د اووه سوه او پنځه سوه کیلو واټه قدرت د لنډې څپې اووه تلګرافي او

تیلفوني دستگاوې په افغانستان کې په کار واچول شوې چې هغه هم د مار کونې کمپنۍ له خوا برابرې شوې وې او په کابل، هرات، مزارشریف، میمنه، دایزنگی او خوست کې ودرول شوې. د کابل دستگاه په دریو ځایونو کې انتخاب شوه. مرکزی دفتر د پل باغ عمومي په مرکزي پسته خانه استوونکی یې په یکه توت او اخیستونکی یې په مهتاب قلعه کې چې دری واړه منابع ترځمکې لاندې کیبلونو په واسطه سره نښلول شوې وي.

په ۱۳۳۱ هجری لمریز کال کې فرانسوی کمپنی (S.F.R) ته د تلگراف د اوو دستگاو د برابرولو سپارښتنه وشوه چې دغه دستگاوې په ۱۳۳۵ هجري لمریز کال کې کابل ته راولیږدول شوې او د هغو له جملې څخه یوه دستگاه یې په کابل کې ودرول شوه او په ۱۳۳۷ هجري لمریز کال کې یې په عملي توګه په کار پیل وکړ. له بده مرغـــه دغه دســـتگاوی دوروســـتیو دوه نیمو لسیزو جګړو له امله زیانمنې شوې، فعالیتونه یې محدود شول او ټولې یې اوس بیا رغاونې ته اړتیا لري.

د کابل په بنار کې تیلفون:

په کابل کې لومړنی تیلفوني مخابره په ۱۳۱۷ هجری کال کې د سردار حبیب الله خان له کور څخه چې د پخواني مشرانو جرګی په ودانۍ کې میشت ؤ، په پخوانی زین العمارت کې د سردار نصرالله خان کورته وشوه. د سراجیه حکومت پـــه اووم او اتم کال کـــې د تیلـــفون یومـــزی له کابل څخه تر جلال آباده پورې وغزول شو اوله هغه وروسته د جـــلال آباد او پغـــمان ترمنځ د تیلفون یومزی وغزول شو.

وروسته د امان الله خان د حکومت په دوران کې یو پنځه ویشت لینه سوچبورد په ارګ کې ودرول شو. له هغه وروسته یو پنځوس لینه سوچبورد په شاه دوشمشیره (ع) کې ودرول شو او کرار کرار پراختیا ورته ورکړ شوه. په ۱۳۰۹ هجري لمریز کال کې پرمختیایي ګامونه واخستل شول او په ۱۳۱۲ هجري لمریز کال کې د یو سلو شلو مزو په ظرفیت یو کیبلی سوچبورد په کابل کې په کار پیل وکړ او نور مزي هم ورزیات شول. دغه مزي ټول ترځمکی لاندې کیبلونو په واسطه سره ننبلول شوي وو، د کیبلونو مرکز د پست د وزارت په مرکز، د بهرنیو چارو په وزارت، د حربیه چارو په وزارت او په ځینو نورو ادارو کې تنظیم شوی وو. او دهوایی سوچبورد مرکز د ښاري پسته خانې په مرکز، قوای مرکز، سیاسنګ او په ځینو نورو سیمو کې ځای کړای شوی ؤ. خو د ۱۳٤۰ او ۱۳٤٤ کلونو په بهیر کې په کابل کې د تیلفون شبکې پراختیا ومونده او د تیلفون نمرې له شلو څخه پیل او په یو او یا زره پای ته ورسیدې. که چیری د ښار مرکز د ګذر ګاه د ناحیې، زرنګار پارک او دارګ له شاوخوا څخه په پام کې ونیسو، په دغو ساحو کې ټولې نمرې په شل زري تنظیم شوي دي، د آسمایي واټ د شمال، شمال لویدیځ او شمال ختیځ په استقامت دیرش زری نمرې د آسمایی د جنوب، جنوب لویدیځ او جنوب خیځ په استقامت څلویښت زري نمرې، د څرخي پله د صنعتي پارک په ګډوون، مکروریانونو او دهغو په ګاونډیو ناحیو کې شپیته زري نمرې او په خیرخانه کې او یا زري نمرې تنظیم او تاکل شوې دي چې د دغه واقعیت پربنسټ ښاري چکشنونو کې هم مطالعه کولای شو.

لومړي چکشن په هار تن پله کې په شل زري نمرو سره.

دوهم جکشن په شیرپور کې په دوه ویشت زري نمرو سره.

دریم جکشن په دهمزنګ کې په څلویښت زري نمرو سره.

څلورم جکشن په ده بورنیو کې په څلویښت زري نمرو سره.

پنځم جکشن په کارته ء پروان کې په درې دیرش زري نمرو سره.

شپږم جکشن په دارالامان کې په څلویښت زری نمرو سره.

اووم جکشن په نندارتونو نو کې په شل زري نمرو سره.

اتم جکشن په خوشحال مینه کې په څلویښت زري نمرو سره.

د مکرور یانونو جکشن په یو شپیته زري نمرو سره.

د خیرخانې جګشن په یو اویازري نمرو سره.

د پلچرخي صنعتي پارکونو جکشن په شپیته زري نمرو سره.

په دې وروستیو وختو کې په کابل کې دیجیتل تیلفونونه ویشل شوي او په کار اچول شوي دي. دغه راز په ځینو غیر دولتي مؤسسو او د ملګرو ملتو په سازمان پورې په مربوطو دفترونو کې ماهواره یې (د سپوږمکیز تیلفونونه) او شخصي مخابروی تیلفونونه هم په فعالیت کې دي چې له بهرنیو هیوادونو سره په ښه توګه خپل ارتباط تأمینولای شي.

برسیره پُر دې، تپاکل شوي ده ؛ موبایل تیلفونونه چې له شخص سره ملګری دي او هر ځای ته د لیږدونې وړ دي او له هر ځایه څخه چې وغواړي د مقابل لوري له موبایل سره ارتباط ونیسي، په کابل کې مروج شي.

دا وسنې دولت په مرسته سره د انټرنټ Internet او e-mail د مخابروې شبکې د ځای پر ځای کولو امکان شته او هم د مخابرې او د هغې د اطلاعاتو لارې چارې هم په ښه توګه برابرولی شي، .چې باید په مخابراتي بیارغاونه کې په پام کې ونیول شي.

مشهور ځایونه (اماکن معروف):

مشهور جوماتونه: په کابـل کـــــي لومړنـی جـــومات د شاه دوشمشیره (ع) جومات دي. چې د شـــاه دوشمشـــیر (ع) (حضـــرت لیث علیه الرحمه) د مقبرې ترڅنګ دي چې د عبـــدالرحمن بن اشعب په امر په (۷۰۰) میلادي کال کې جوړ شوی دی.

- د پلخشتي جومات چې د شاه شجاع له خوا جوړ شو.
- سپین جامع جومات د تیمور شاه په لارښوونه ودان کړای شو.
- د بالاچوک د جومات د بنسټ ډبره د بابر شاه له خوا کیښودل شوه.
- حضوري چمن ته مخامخ ورزشي لوبغاړی د لویدیځ په استقامت د عیدګاه جامع جومات.
- نوي بنار کې د حاجي یعقوب جامع جومات.
- د شاه بو بوجاني جامع جومات.
- د لومړی مکرورۍان جامع جومات او د دریيم مکرویان جامع جومات.
- دوزیر محمد اکبر خان جامع جومات او د وزیر محمد اکبر خان روغتون ته څیرمه بل جومات.
- د شاه شهید (علیه الرحمه) جامع جومات او د اتفاق جومات.
- د دده بوریو او د لومړي سرک جامع جومات، د دریمی کارتي جامع جومات او د شیر شاه مېنې جامع جومات.
- د باغ بالا، پروان مینی او د بهارستان جامع جوماتونه.
- د خیرخانې مینی په لومړی، دوهمه او دریيمه برخه کې د حضرت علی (رض) او د سرور کائنات جامع جوماتونه.

په پارک زرنگار کې نوې جامع جومات

په کابل کې څه دپاسه دری سوه پنځوس جامع جوماتونه شته چې د صحابه کرامو او د خلفای راشدین په نومونو یاد کړای شوي دي.

برسیره پر دې یو لړ تکیه خانې او جماعت خانې هم شته:

- د چنداولو عمومي تکیه خانه.
- د اسماعیلیه جماعت خانه
- د حسینیې تکیه خانه
- د جعفریې تکیه خانه
- د فاطمیې تکیه خانه
- د افشارو د قایمیې تکیه خانه
- د افشارو عمومي تکیه خانه
- د قلعه ء شهادې تکیه خانه
- د محمدیه مدرسه

په جوماتونو او تکیه خانو کې د جماعت لمونځونه، د جمعې لمونځ، د اختر لمونځ د مذهبې شؤنو په رعایتولو سرته اډکیږي. د کابل په مرکز کې د پل خشتي جومات مرکزي اهمیت لري په خیرخانه کې د حضرت علي جومات زیاتره د جمعې په ورځو او اخترونو کې او یا د فاتحې اخیستلو په مراسمو کې ګڼ میشت دي او د استفادې وړ ګرځي.

د نوي بنار په پارک، سید نور محمد شاه مینه، څلورمه کارته او خیرخانه کې د بنځو له پاره هم د فاتحې اخیستلو کلو پونه په پام کې نیول شوی ؤ چې داستفادې وړ هم ګرځیدلی و ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیارتونه:

د کابل شاهانو او د بودیزم مذهب د له منځه تللو وروسته؛ افغانستان په مجموع کې او کابل په خاصه توګه د شهیدانو، صحابه کرامو او د مخورو مذهبي شخصیتونو درناوی کړی دی او زیارتونو ته یې د متبرکو زیارتونو په توګه د قـــدر په سترګه کتلي او درناوی یې کړی دی چې د ستروا او مهموزیارتونو نومونه اخلو:

ظهیرالدین بابر په تزک بابري کې لیکي: د خواجه صفا ساحې په ګاونډ کې د یوې چینې په سر د خواجه شمسو مزار او په بله چینه کې د خواجه خضر (ع) قدمګاه دی. یوه بله چینه د خواجه عبدالصمد په مقابل کې ده چې د خواجه صفا په نامه مقبرې په نږدې دری سوه متری لوړوالی کې د شیر دروازې د غره په شمال ختیځ لمن کې د خواجه روشنایی په نامه یوه مقبره شته چې د پسرلي په فصل کې ارغوان غوړیږي د شیدوچایو په میلې سره زیات شمیر مراجعین لري. یو شمیر کسان وایی چې خواجه صفا او خواجه وفا چې اوس د خواجه روشنایی په نوم شهرت لري د خواجه صفا د غره په لمن کې د خواجه صفا له مقبرې څخه د دوه سوه مترو په واټن ښکته په یوه کوچنۍ دبرینه ګونبزه کې دي او قبر یې لوحه نه لري دهغو صحابه وله لښکرو څخه دی چې د کابل د فتحې په وخت کې شهیدان شوی دی.

ځینې کسان وایی چې خواجه روشنایی (خواجه صفا او خواجه وفا) د هماغو اسلامي لښکرو ډیوې. ځني نور وایی چې دواړه شخصیتونه د جابر بن شیخ زید زامن دي.

ددغې ساحې ودانۍ په ۱۳۲۲ هجری قمری کال کې د امیر حبیب الله خان په زمانه کې جوړې شوې دي.

په شور بازار کې د بابای خودی علیه الرحمه او د موی مبارک زیارت هم متبرک اماکن معرفی کوي.

په کابل کې په همدې ساحه کې د تمیم انصار او د جابر انصار مقبرې هم شته. د بالاحصار د جنوب په لور شهدای صالحین، په شاه شهید کې د شاه شهید زیارت، په مراد خانیو کې د حضرت عباس زیارت، د عدلیی وزارت ته څیرمه د فروشگاه په سیمه کې د بابا کیدانی زیارت، د قلعه فتح الله د شهید په څلور لاری کې یو پخواني متبرک زیارت او دغه راز په کارتۀ پروان کې سرک ته څیرمه متبرک زیارت، د باغ بالا په غوندې کې د پیربلند زیارت، په جمال مینه کې د سخي زیارت، په ده بوریو کی د افغان او انگلیس د دویمې جگړی د شهیدانو زیارت، په اونچي باغبانانو کې د قطب حیدر زیارت، د قرغي په لویدیځ کې د خواجه جم زیارت، خواجه مسافر ولي، خواجه لکن، شاه نعمت الله ولی، خواجه عبدالواحد، حضرت چهلتن، په کلای قاضی کې د شاه آقا زیارت، خواجه دریا آباد، خواجه المائی او جوان مرد قصاب، په ارغندی کې زیات شهرت لري.

په همدې ترتیب په دارالامان کې د ابو الشاه دیوال سوار زیارت او د خواجه اسدالله شهید زیارت د کابل د شمال په ده یحیی کې، د یحیی صاحب مقبره، په پاچا صاحب مشهور شیخ زیور الدین، په حاجی صاحب کلا کې په شورعشق مشهور د شیخ سعد الدین انصاري مقبره او د خواجه چاشت ولي مرقد هر یو د زیات ارزښت او درناوي وړدي.

مهمی مقبرې:

۱ - د مرنجان غونډی لپاسه د اعلیحضرت محمد نادرشاه مقبره په ښکلې ډول جوړه شوې ده چې په وروستیو جګړو کې زیانمنه شوی ده او خپله لومړی ښکلا یې له لاسه ورکړې ده، هغې ته ځیرمه د شاهي کورنۍ او د عامه خلکو د یوزیات شمیر مړو مقبرې د هغې د شمال په استقامت کې شته.

۲ - د اعلیحضرت تیمور شاه مقبره چې ښکلي ګونبزه یې د شاه دوشمشیره (علیه الرحمه) په جنوب ختیځ کې تیمور شاهي پارک ته ځیرمه او د کابل د سیند په جنوب کې جوړه شوې ده.

۳ - د امیر عبدالرحمن مقبره، د زرنګار پارک په شمال ختیځه څنډه او د ارګ په جنوب لویدیځ کې موقعیت لري چې د کابل مرکزي زړی جوړوي.

تفریح ځایونه:

د شیر دروازې د غره په شمال کې د خواجه صفا سیمه، د ګذرګاه په جنوب کې د بابر بڼ او د کابل په جنوب لویدیځ کې د دارلامان بڼ، د تاج بیګ غونډی، د چهلستون مانۍ او د چهلستون بڼ د کابل د خلکو د ښکلو تفریح ځایونو له جملې څخه شمیرل کیږي.

پغمان په مجموع کې او په ځانګړې توګه د پغمان عمومي بڼ، د پغمان غونډی، د سردار محمد داود خان بڼ او د پغمان د پیر بلند سیمه، د دوبی په موسم کې ډیره معطره او زړه وړونکې ده.

د کابل په لویدیځ کې وچې درې ته نږدې د ژمنۍ سپورت په نامه د بهرنیو او کورنیو سکي لوبغاړو له پاره یو ځای برابر شوی ؤ چې په وروستیو دوه نیمو لسیزو کې له هغه څخه کار نه دی اخیستل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل په ختيځ کې د شيوه کيو او دبګرامیو سيمې د ميلې ځايونه او د توتانو د خوړلو له پاره د خلکو دويني تفريح ځايونـه دي چې د امنيت د تأمين په صورت کې له د غو سيمو و څخه په بنه توګه کار اخيستل کيدای شي.

د کابل په شمال کې کاريزمير بنکلی، شين او سمسور ځای دی چې د کابل او د هغه د شا و خوا سيمو د خلکو د وبني تفريح ځای دی. استالف پرتمين تورستيکي ځای او د دوبي په فصل کې د خلکو د ميلې سيمه بلل کيږي. برسيره پـــردې د ژمي په موســـم کـــې د ماهيـــپر دره او د نـــغلو او سروبي ساحې په زړه پـــورې او زړه وړو نـــکې طبيعی منظرې لري او هـــر کال په مليونونو تنه د غه بنکلې سيمې ګوري.

د کابل په بنار کې دو دونه او رواجونه:

د کابل بنار او ولايت خلکو تل هڅه او هاند کړی دی چې خپل کلتوري او تولنيز دودونه، عنعنات او رواجونه وساتي، د مثال په ډول د کابل په مربوطو کليو کې نوی کال دنيا لګيو په ايښودلو، د ځمکو په يوې کولو (قُلبه کولو)، دغوايانو په بنکلی کولو او د تويونو په وهلو سره نمانځل کيږي.

په نوی کال کې د سمنکو پخول د بنځو ستره ميله ده.

د نويو زيږيدلـــو ماشـــومانو د نومـــونو د ايښـــودلو له پاره شب شش، «شپږمه شپه» د ماشـــومانوسنتول، اووه خيشتي ميوی (هفت ميوه) هفت سين، د چهار شنبـــې د ورځـــو نذر او زيارتونو ته تلل د کابل بنار او کليو د خلکو له منل شويو دو دونو څخه دي بنځې له ستنی ګنډلو (سوزن دوزی) سره زياته مينه لري.

د کابل په بنار کې نوی کال د جُبی په میلې او په جمال مینه کې د سخی (کرم الله وجهه) زیارت او په سیاه سنګ کې زیارت ته په تللو سره نمانځي.

د کور پیغلې د هلک د أستازي (د هغه د مور، خور، او یا نورو خپلوانو) په غوښتنه د پیغلې پلار اویا نور خپلوان یې کوژدن کوي.

کوژده، په پښه ارته «پای وازی» او دواده په مراسمو کې خپلوانو او دوستانو ته د ډیرې لګښتې ډوډی برابرول، د کابل بنار او د مربوطو سیمو د خلکو له رواجونو څخه دي.

د کابل بنار په شاوخوا سیمو کې د ګډیانو فوج جنګول او کله نا کله د زرکانو او چرګانو جنګول هم د کلیوالي خلکو د ودونه دي. د کابل په بنار کې د کاغذ پران لویه په دودیز ډول د تنکو ځوانانو مشغولتیا ده.

د مړي په مراسمو کې دریمه ورځ، د جمعې شپه، څلویښتې او د کال تلین د مړي د خپلوانو له پاره یو لګښتی دود او رواج دی. د میراث موضوع چې شرعي حکم دی ځینې کسان یې د دود په توګه لونې (لورګانو) ته هم ورکوي. د میرمنو له خوا د کور د کارونو تر سره کول او د پلار له خوا د کورنۍ د لګښتونو برابرول، لرغونی او منل شوی دود دی. د کورنۍ یووالې د پلار په مشرۍ تامینیږي.

د زیاتو ماشومانو او په تیره بیا د زوی لرل د کورنیو هیله ده، خو په بنارونو کې د زده کړې خاوندانو ملاماتوونکې او خرافاتي رواجونه یو څه لرې کړي دي او په کلیو کې دغه شان دودیز چال چلندونه خوندي دي.

د ارغوان ترڅنګ د خواجه صفا میله او د سپرلې په لومړیو وختو کې د شیدو چایو برابرول او د مندوي د جنډې پورته کول بناریانو ته د نوي کال نیک فال بلل کیږي.

په کلیوالی د ودونو کې زوم په آس سپرېږی او له دهل او سورنای سره له خلکو سره یوځای د نا وې د راوستلو له پاره ځي او ناوې په ډولی او یاد آس په سپرلی، د زوم کورته بیا یي.

د کابل په بنار کې د ترافیکو دوران:

په کابل کې بناري ترافیک په تیرو وختونو کې داسی وو چې د بنار له پلان سره سم او دوګړو د شمیر له مخې د هماغې زمانې حکومتونو هلې ځلې وکړې چې د امریکا له متحده ایالاتو، هند، ایران او بلغاریا سره په تماس کې شي او د بناري سرویسونو د شمیر له پلوه له کابل بنار سره مرسته وکړي هماغه وو چې له ۱۳۲۵ کال وروسته یو شمیر امریکایي سرویسونه کابل ته راولیږدول شول او د دارالامان، مهتاب قلعه، کابل او د نوی بنار په تګ لور وکی یې کارنده وندې لرله او په ډیرې تیتې کرایې یعنی له پنځه ویشتو پولو څخه تر پنځو سو پولو پورې او وروسته په یوې افغانۍ بناریان له یوې سیمی څخه د بنارد مرکز پل باغ عمومی ته او له دغه ځای څخه د بنار شاوخوا سیمو ته لیږدول. البته دولت د کرایې په سبسایدي (تخفیف) کې د لیږدونو (ترانسپورت) ریاست له لاری هم وندې اخیستله.

شخصي او انفرادی سرویسونه هم موجود ؤ، البته په نامنظم ډول او په نسبی ډول په زیاتی کرایی سره د خلکو په لیږدونه کې همکاري کوله. کوچنی ګرندیی موټرونه دومره زیات نه وو، بلکې بګی «ګادۍ» هم د اشخاصو د لیږدونې په لاره کې د خلکو په خدمت کې وي چې وروسته د سرویسونو په زیاتوالې سره په بنار کې د ترافیکو له دوران څخه لرې کړای شوې. یوازې د

بنار په شاوخوا سیمو کې دغه دوه څرخه عرادې له آسونو سره د استفادې وړوي. له ۱۳٤۰ هجری لمریز کال وروسته د بناری ترافیکو دا صلاحاتو په لاره کې زیاتې هلې ځلې وشوې دولت هڅه وکړه چې بنار پراختیا ومومي او له دې سره جوخت ترافیکي وسایل بنه والي ومومی، هماغه وو چې یو شمیر بناری تکسیانو په کار پیل وکړ او هغه بناري سرویسونه چې له هند څخه پیرودل شوي وو په بیلا بیلو بناري استقامتونو او تګ لوروکې په کارواچول شول.

د محمد داود د جمهوري ریاست په دوران کې له بلغاریا سره د برقی سرویسونو قرار داد وشو او د لینونو د تمدید شبکی یې د میرویس میدان، پل باغ عمومي او له پل باغ عمومي څخه په حلقوي ډول د سالنګ واټ، آریانا کارتې او باغ بالا له لارې ترمیرویس میدانه پورې دوام ومونده چې د خلکو د تک راتګ له پاره ډیر مساعد او ګټوروء. یو عمومي تم ځای کې په خوشحال مینه کې سیلوته مخامخ، دوهم تم ځای یې په پل باغ عمومي کې او فرعي تم ځایونه یې د لارې په اوږدو کی و.

برقي سرویسونو له پامیر سینما څخه د میوند واټ په استقامت تر سید نور محمد شاه مینې او بګرامیو پورې هم تګ را تګ کاوه. د وروستیو دوه نیمو لسیزو جګړو له امله برقي سرویسونه له منځه لاړل او برقي شبکو او دهغو برقي مرکزونو ته زیات زیان ورسید او یوازې له منځه تللي اغیزي یې تر ستر ګو کیږي چې بیا جوړونه یې د زیاتې بودجي غوښتنه کوي.

بناری سرویسونو لوټ کراي شول او یو شمیر یې بهرته ولیږدول شول او یو محدود شمیر په ترمیم وړ حالت کې په ملې بس کې پاتې شول چې په دی وروستیو وختو کې له ترمیم وروسته له هغه څخه بیرنی بناري استفاده کیږي.

خو له ۱۳۵۷ هجري لمريز کال څخه مخکی د يرشو زرو شخصي او رسمی سرويسونو او څلور زره دوه سوه شلو تکسيانو په کابل کې فعاليت کاوه چې وروسته وروسته دغه شمير کم شو.

د کابل بنار ترافيکي شريانونه:

د ۱۳۵۷ هجري لمريز کال له ماستر پلان سره سم کابل بنار زياته پراختيا ومونډله له دې امله ترافيکي شريانونوهم د خلکو له اړتياو سره سم زياته پراختياو مونډله. شخصي ليږدوونکي وسايط ګرندي موټرونه، مينی بسونه او نيمه بسونه، په زيات شمير سره د بناري ترانسپورت د تګ را تګ له پاره د استفادې وړ وګرځيدل چې تګ لوری يې په دې ډول بيانوو:

۱ - د کابل بنار په لويديځ کې ترافيکي شريانونه:

- د پغمان په دوه سرکه کې له کمپنۍ څخه د عمومي سړک په استقامت تر ميرويس ميدان پورې اوله دغه ځای څخه د باغ بالا د غابنې، کارتۀ پروان، آريانا کارتې، مارکيټ او سالنګ واټ په استقامت تر ده افغانان پورې.

- د قمبر له څلور لارې او د قرغې له بلاکونو څخه د پوليتخنيک، د باغ بالا د غابنې، کارتۀ پروان او د سالنګ واټ په استقامت تر ده افغانانو پورې.

- د دشت برچي د پُل خشک له ساحې څخه تر مهتاب قلعه، پل سوخته، سراي غزني (غزنوی مېنه) د پل سرخ څلور لاری، خواجه ملا، د دارالامان سړک د دهمزنګ له لارې د هارتن تر پله او پامير سينما پورې.

- د چهاردهی له چهار قلعه، قلعهء شهاده، پل سوخته د غزنوي مينې

له لارې د پل سرخ ترڅلور لارې خواجه ملا - د دارالامان سړک، دهمزنګ د هارتن پل تر پامیر سینما پورې.

- له دارالامان څخه د دارالامان سړک په امتداد تر پامیر سینما پورې.

- لـــه ده افـــغانانـــو څـــخه، واصـــل آبـــاد، ګذرګاه، هـــارتل پـــول تر پامیر سینما پورې.

- له کابل پوهنتون څخه د جمال مینې په سړک، دهمزنګ، هارتن پول تر پل باغ عمومی پورې.

- له میروبس میدان څخه د شهر شاه مینې د سړک، بریکوټ (د همزنګ) او د هارتن پله په امتداد تر پل باغ عمومي پورې.

۲ - د کابل بنار دشمال ترافیکي شریانونه:

- د خیرخانې مینې له لومـــړی بـــرخې څـــخه د شـــمالي ســـرای له لارې د خشت هو ختیف تر څلـــور لارې پـــورې د دوهم پـــروان په تګ لـــورې کې تر ده افغانانو پورن.

- د خیر خانې مینې دوهمه برخه دده افغانانو او د خشت هو ختیف د څلور لارې ترمنځ د مریمې لیسې د سړک ترګولایي پورې.

- د خیر خانې مینې دریمه برخه د کارګری قصبې په ګډون له ده افغانانو څخه د لب جر د سړک له لارې تر قصبې پورې.

- د تایـــمنیو د پروژې پـــه تګ لـــوری کې له ده افغـانانو څخه د سالنـــګ واټ په امـــتداد د تایمنـــي واټ پـــه استقامت د سرور کاینات جومات تر ګولایي پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د بی بـــی مهرو په تګ لوری د هوایي ډګر د سړک له لارې د مراد خانیو له تم ځای څخه.

- د دوهـــم، درییم او څلـــورم مکروریان په تـــګ لوري کې د افغان ستر پلورنځي او بـــا د مراد خـــانیو لـــه تم ځایونو څخـــه تر څـــلورم مکروریان او بي بي مهرو پورې.

۳- د کابل په ختیځ کې ترافیکي شریانونه:

- د بنارد مرکز او د نوی کارتې ترمنځ: د نوم ورکی سرتیری (سپاهی گمنام) تم ځای څخه د شاه شهید (علیه الرحمه)، رحمن مینې او سید نور محمد شاه مینې په امتداد، تر یک لنگه غابنې «کوتل یک لنگه» پورې او کله نا کله هم تر بگرامیو او ارزان بیه پروژې پورې.

- د لومړي مکروریان په استقامت: د پلخشتی، فرووشگاه بزرگ افغان او د مراد خانیو د ساحی څخه تر لومړی مکروریان پورې په حلقوي ډول د شش درک له لارې د مکروریانو تر پله د مکروریانو نو تر شاوخوا سیمو اووروسته د جلال آباد د اډې او د پل محمود خان سړک په امتداد.

- د زمانخان کلا په استقامت د مرنـــجان غونـــډۍ د شمال له ځوړو څخه د قلعه ءزمانخان په استقـــامت د لومـــړي مکروریان او د زمانخان کلاد وروستی تم ځای ترمنځ.

- د هود خیلو او د صنعتي پارکونو په استقامت: د شش درک او مراد خانیو له سیمو څخه تر صنعتي پارکونو، عمومي گمرک او پلچرخي پورې.

٤-د کابل بنار په جنوب کې ترافیکي شریانونه:

- دغه تګ لوری د لاهوری دروازې او سیاه بیني ترمنځ امتداد لري او کلۀ نا کله د سهار او مازیګر له خوا تر موسهي پورې یې هم ترافیکي تګ لوری فعال وي. چهار آسیاب او ریشخور هم د سهار او مازیګر له خوا خپل ترافیکي تګ لوري لري چې له همدې لارې جلا کیږي. دغه راز د بنارد شمال ترافیک د خیرخانې د غاښې له لارې د پروان له ولایت سره د بنار ختیځ ترافیک د صنعتي پارکونو له لارې له ماهیپر او ننګرهار سره نښلول کیږي. د لویدیځ ترافیک د کمپنۍ له لارې د میدان ورد ګ ولایت له سړک سره او د جنوب لارد سیاه بینی د لارې په واسطه د لوګر له ولایت سره یوځای کیږي خو د کابل بنارد ترافیکی دوران مرکز پل باغ عمومي دي.

د تیلوتانکونه:

په بناري ترانسپورت کې د آسانتیاو د برابرولو په مقصد په بیلا بیلو سیمو کې د پترولو، ډیزلو او دخاورو د تیلو ثابت تانکونه جوړ شوي دي چې په ضروري وختونو کې ورڅخه کار اخستل کیږي لکه:

- د زرنګار پارک د تیلو تانک
- د نوي بنار پارک د تیلو تانک
- د شاه شهید د تیلو تانک
- د سیاه سنګ د تیلو تانک
- د شهرآرا د تیلو تانک
- د کارتهء پروان د تیلو تانک

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د آریانا کارتې د تیلو ټانک
- د د همزنګ د تیلو ټانک
- د میرویس میدان د تیلو ټانک
- د خوشحال مینې د تیلو ټانک
- د مکروریانونو د تیلو ټانک
- د خیرخانې د غاښې د تیلو ټانک
- د دیوان بیګي د تیلو ټانک
- د باغ بالا د تیلو ټانک

ترافیکي ستونزې:

څرنګه چې دولت په اوسنیو شرایطو کې په کافي اندازه بناری بسونه په واک کې نه لري او انفرادي اشخاص په شخصي ډول لیږدوونکي وسایط په بیلا بیلو ټګ لورو کې په کار اچوي او کرایه یې په خپله خوښه تثبیتوی، ترافیک نه شي کولای چې د کرایې د ټاکنې لایحه کنترول کړي، له دې امله باید دولتي سرویسونه زیات شي.

د مازیګر، مابنام او ماخستن له خوا بناري ترافیک، ټکسیان او بسونه د خلکو په واک کې نه وي.

- په ګڼ میشتو بناري ساحو، روغتونونو هوایي ډګر او د بنار په شاوخوا سیمو کې کرایې له انصاف څخه لرې دي.

- په سرویسونو، ټکسیانو او مېنې بسونو کې ګنه ګونه زیاته ده او د بسونو او ټکسیانو په څوکیو کې له بناري او ترافیکي نورم څخه زیات اشخاص کیښنوي او د بناربانو د تکلیف سبب کیږي.

په بنـاري سرويسـونو کې بـايد مـيرمنـو ، سپـين ږيرو او معـيوبـينـو تـه درناوی په پام کې ونيـول شي. ځوانان اخلاقي او ملي وجيبـه لري چې انسـاني کرامت په سربښندني سره رعايت کړي.

- د ترافيکي شريانونـو په تګ لوری کې د افرادو د مصئونيت په خاطر بايد د ترافيکو رياست لـه مؤظفينو څخه ګرځنده کنتـرولي ترافيـک جوړشي، چې مزاحم افراد او اشخاص سپرليو او چلوونکو ته زيان و نه رسوي.

- تم ځايونه وتپاکل شي او له ګرځنده پلورونکو څخه خلاص شي او په معياري ډول ترافيکی د سپلين تطبيق شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

په کابل کې د صنایعو او تخنیک پرمختیا

د صناعتي تولیداتو او معاصرې تکنالوژۍ د ور پیژندلو لپاره، دولت هڅه وکړه چې په کابل کورنۍ پانګې اچونې تر سره شي، په دې برخه کې هم دولت اوهم ملي سوداګرو همت وکړچې په تولیداتو سره د خلکو غبنې اړتیاوې لرې شي.

لومړنۍ صناعتي او تخنیکي دستګاه د کابل ماشینخانه وه چې د امیرشیر علي خان په وخت کې جوړه شوه او په هغې کې په محدوده توګه جنګي سامان آلات جوړیدل، خو د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې یې فعالیتونه او تولیدات زیات شول، ورپسې وړین تیوکران هم تولید شول چې د عسکري جامولپاره وړځه کار اخستل کیده. دغې ماشینخانې د سهار له اوو بجو څخه کارپیل کاوه او د مازیګر په څلور بجو یې کارپای ته رسیده چې تولو بنارپانو د خپل کار پیل او پای له هغه سره برابرا وه. دغه حربي ماشینخانه د علم ګنج په بن کې جوړه شوې وه.

امان الله خان غوښتل چې صناعتي ریفورم هم رامنځته کړي. خو برېالي نشو. مګر د محمدظاهر شاه د حکومت په لومړیو وختو کې په واصل آباد کې د شپږ دروازې په لویدیځه لمنه کې د جنګلک د فابریکې په جوړولو سره د صنعتي

مجتمع بو شمېر فابريکو په کار پيل وکړ چې د موټر وتخنيکي سامانونه، بايسکلونه لرګين صنايع او طباعت په کې تر لاس لاندې نېول شوي وو.

له هغه وروسته د کابل په لوبديځ کې داوسنۍ کمپنۍ په برخه کې د پغمان په دوه لارې کې د بوټانو د ګنډلو او د صابون جوړلو بو شمېر فابريکې په پام کې ونېول شوې چې له بده مرغه هغو هم ونه کړای شول پراختيا ومومي او وروسته بيا له هغونه د دولتي ګدامونو په توګه استفاده وشوه.

د کابل په انکشاف سره هغې ته ورته صناعتي دستګاه په کار پيل وکړ او ملي سوداګرو د دولت په مرسته ځينې دستګاوې جوړې کړې. د مثال په ډول په ۱۳۲۹ کال کې د (۹,۶۰۰,۰۰۰) افغانيو په پانګه د حجارۍ فابريکې په خواجه ملاکې په کار پيل وکړ چې په سهامي ډول يې سمنتي ډبرې پرمرمرو او رخامو هوارې شوې ډبرې او موبل فرنيچرې په لوړه سطحه تولېدولې.

د بوټانو د ګنډلو او د څرمنې فابريکې په ۱۳۳۰ کال کې د لس ملیونو افغانيو په پانګه او عمومي نساجي فابريکې په ۱۳۳۰ کال کې د ۴۶۲ ملیونو افغانيو په پانګه په کار پيل وکړ.

د کابل د بريښنا د تولید فابريکه په ۱۳۳۱ کال کې د (۲۴۰) ملیونو افغانيو په سهامي ډول په سروبي کې جوړه شوه.

د کابل د سرويس شرکت ورکشاپ په ۱۳۳۱ کال کې د (۴,۱۰۴,۰۰۰) افغانيو په پانګه په سهامي توګه.

د کابل ملي مطبعه په ۱۳۳۳هـ ش کال (۱۵۰,۰۰۰) افغانيو په پانګه د کتابونو د چاپ له پاره.

د شاکرد چېنۍ جوړولو فابريکه په ۱۳۳۵هـ ش کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۷,۷۰۰,۰۰۰) افغانیو په پانګه د چینې لو بنسټ تولید په مقصد په همدې
ډول په بیلابیلو برخو کې زیاتې صناعتي فابریکې جوړې شوې چې په
۱۳٤٦هـ ش کال کې د څرخي پله په سیمه کې د صناعتي پارک په فعالیت
د بنار دننه او د صناعتی پارک په برخه کې د فابریکو شمیر (۱۲۰) دستګاو
ته لوړ شو چې د جامو، جاکټ، بوټانو، کیمیاوي سامان، صابون، کوښو،
شړیو، تخنیکي او عمراني چارو، ګول سیخانو، د موزائیک خښتو او سمنټو،
درملو، د چاپ د چارو او نورو په شان د خلکو لومړنۍ اړتیاوې لرې کولې، دلته
یې څو نمونې وړاندې کوو:

مرکزی سیلو:

په ۱۳۳۳ هـ.ش، کال کې د علي آباد د غره په لوړ ځای کې د
مرکزي سیلو بنسټ کیښودل شو او له درې کالو وروسته بشپړ شوه، په
څلورویشتو ساعتو کې دغې سیلو د اوړو ظرفیت ۱۸۰ تنه غنمو، خو د
کابل د خلکو اړتیا یې نه شوای لرې کولای، نو دغې ترڅنګ بله سیلو جوړه
شوه. دغې دویمې دستګاه په ۲٤ ساعتو کې ۱۰۰ تنه لومړۍ درجه اوړه او ۷۵
تنه دویمه درجه اوړه تولیدول. د تهویې، بربنډنا او په ګودامونو کې د
غنمو د حرکت سیستم ټول په پام کې نیول شوی و د سیلو تولیدات بازارته
دوه ډوله وړاندې کیدل: د سیلو تولیدات بازارته دوه ډوله وړاندې کیدل:

لومړۍ داچې اوړه یې نانوایانو او کوپون لرونکو ته ورکول کیدل. دویم
پخې ډوډۍ او کلچې یې هم د سیلو په مربوطو پلورنځیو کې په بنارباتو او
عسکري قطعو وېشل کیدې. په دې فابریکه کې په هره شفت باندکار پرې او کې

٦٦٤ تنو کارکاوه او د ډوډی تولېداو د پخولو له پاره د مؤسسې د غوښتنې له مخې د شپې له خوا هم د کار پرا و وچې د ډوډی او کلچو په تولېد کې برخه درلوده. له بده مرغه په وروستیو جګړو کې دغې د ستګاه زبات زیان ولېداو ببا جورونې او تر مېم ته بې ضرورت پېداکړ .

د آهو بوټانو د تولېد فابریکه:

دغه فابریکه په ۱۳٤۰ هـ، ش کال کې د کورنۍ اویښې پانګې اچونې له مخې را منځته شوه او په ۱۳٤۲ کال کې بې دشش درک په سېمه کې په عملي توګه په کار پېل وکړ. هغه په یوولس جریبه ځمکه کې د ۱٤ ملیون افغانیو په پانګه پرانستل شوه وروسته ببا یوې سویسي کمپنۍ زر ډالره مرسته وکړه او د افغانیو پانګه بې د هرش ملیونو افغانیو ته لوړه کړای شوه ، د دولت شل ملیونه افغانیو پورهم پکې شـــامل وې مواد یې د غواښانو پسونو او وزو پوستکي وو. تولېدي برخه بې د څرمنـــو برابرولو په برخه کې هوازې د غویې له پوستکي څخه بې لس ډوله څرمنـــې تولېـــدولې. د بوټانو تولېداتو ته بې هوه ورځ کې له ۷۰۰ جوړو څخه زروجـــوړو ته پرمختېـــا ورکړی شوه او په ۱۳٤۳ کال کې بـــې د کلنیو تـــولېداتـــو ببه دوولـــس نېم ملیونه افغانۍ وه . خو په ۱۳٤۸ کال کې اووه دېرش نېم (۳۷ , ۵) ملیونه افغانیو ته لوړه شوه، په هغې کې ۱۲۲ ماشینونو او ٦۵۱ تنو کارکاوه تولېدات بې په کابل او ببلا ببلو ولایتونو کې پلورل کېدل. دغه فابریکه په وروستیو جګړو کې ببخې وسوځېده او له منځه لاړه .

د بګرامبو د نساجي فابریکه:

د بګرامبو د نساجي فابریکي د جوړولوچاري په ۱۳٤٦ هـ، ش کال کې پیل او په ۱۳٤۸ کال کې پای ته ورسیدې، دا فابریکه په شل جریبه ځمکه کې جوړه شوه. تولهپانګه یې ۲ ، ۳۵ ملیونه سترلنګ پونډه وه. چې په ۱۹٦٦ کال کې پنځه سوه ملیونو افغانیو لوړه شوه. ددغې فابریکې بنسټ د چین د دولت په مرسته کښښودل شو، تولیدي ظرفیت یې په کال کې ۱۲ ملیونه متره سپین اوچارخانه او ۸۰۰ تنه تار د هیواد د صنعت ګرانو او لګوونکو له پاره ؤ، د کار ګرانو شمیر یې ۱۷۰۰ تنو او د مامورینو شمیر یې (۱۵۰) تنو ته رسیده په لومړي وخت کې یې چې تایي ماهران ۱۸٦ تنه وو او وروسته بیا شمیر ۱۵ تنو ته را ټیټ شو، د کورنیو کار ګرانو له جملې څخه یې ٤۰۰ تنه ښځینه وې.

ورځنۍ تولیدات یې پنځوس زره متره توکان ؤ چې ٤۰ رنګه ؤ او په هغې کې ۸۰ ډوله بیلابیل ډیزاینونه په کار یدل. د تار تاوولو ۵۰ ماشینونه او د بیلابیلو توکانو له پاره د او بدلو ٦۱٦ ماشینونه ؤ چې ۵۰٤ یې د ساده توکانو له پاره او ۱۱۲ یې د رنګه توکانو له پاره په کار یدل. د پنبې خام مواد یې له کوهستان او ۳۰۰ کیلو متري واټن څخه برابریدل، پوره برېښنا او اوبه یې درلودې.

تولیدات یې کابل او د هیواد نورو ولایتونو ته وړاندې کیدل او زیات پیرودونکي یې درلودل، خو سامان آلات یې لوټ شوي دي.

د عقاب د بوټانو فابریکه :

دغه فابریکه د کابل د لوېدیځ په ۱۲ کیلومتری کې د پغمان په دوه

لاري کې جوړه شوي او په ۱۳٤٦ کال کې په خپل تولیدي کار پیل وکړ. لومړني پانګه یې یو ملیون افغاني وه، وروسته بیا څلورو ملیونو افغانیو ته لوړه شوه. په ۱۳٤۸ کال کې په دغې فابریکه کې د بوتیانو د ګنډلو ٦۳ ماشینونه ؤ او موادي یې زیاتره له ګاونډیو هیوادو څخه کله هم له انګلستان او جرمني څخه راوړل کیدل. د دغې فابریکې تولیدي ظرفیت په ورځ کې ٤۰۰ جوړو بوتیانو ته رسیده. د لومړنیو موادو د ګمرکي محصول ورکولو او له ګاونډیو هیوادو څخه د تیتې بیې د بوتیانو واردولو دهغې د تولید سطحه تر یوې اندازې را ټیټه کړه.

په ۱۳٤۸ کال کې د کار ګرانو شمیر ۱۳۰ تنه ؤ او په ۱۳٤۹ کال کې ۷۵ تنو ته راټیټ شو. څرنګه چې د بهرنیو بوتیانو په وړاندې یې سیالي نه شوای کولای، نو تولیدات یې د را ټیټیدلو په حال کې وو.

دغې فابریکه په ۱۳٤۷ کال کې ۲۳ زره جوړې بوتیان په ۷,۸۲۰,۰۰۰ افغانیو او په ۱۳٤۹ کال کې یې ۱۸,۵۰۰ جوړې بوتیان په ٦۲۹۰,۰۰۰ افغانیو په ټوله بیه تولید کړل. چې له بده مرغه له ټیټیدو سره مخامخ وه او اوس غیر فعاله ده.

د کابل صناعتي پارک:

د کابل صناعتي پارک له ۱۳٤۷ هـ ش کال څخه وروسته د کابل په ختیځ څرخي پله کې، د حربي پوهنتون د لویدیځ دیوال تر څنګ، په پراخه سیمه کې سروې او بنسټ یې کیښودل شو. په هغه کې د نساجي، وړې اوبدلو، جاکټ او بدلو جورابو او بدلو، د سمنټو تولیدول، ګول سیخانو، بوټ ګنډلو، د موزاییک دبرو، کیمیاوي موادو، درملو، پلاسکو، پلاستیکونو، د مېوې د

سمون، مکروني، ساختماني دستګاوې، مشروبات، نوشابې، بابسکل او داسې نور چې په بیلا بیلو تولیداتو او بیلا بیلو نومو سره څه د پاسه سل ډول ډول دستګاوو یې خپل فعالیت پېل کړ. دلته یې د بیلګې په ډول په لنډه توګه د ېوې فابریکې په باب لنډې خبرې کوو (دغه ټولې فابریکې وېجاړې او له خاورو سره خاورې شوي دي.)

د وطن پلاستیک:

دې فابریکې د (۳۰) ملیونو افغانیو په پانګه په ۱۲ جریبه ساحه کې په کار پېل وکړ او بیا بې پانګه پنځوس ملیونو افغانیو ته لوړه کړای شوه، په هغې کې ۲۰۰ تنه کارګران چې له هغې جملې څخه دوه تنه اېرانیان وو او ۳۵ ډول ډول ماشینونه په کې په کار واچول شول. د پلاستیکي بوتلانو تولیدیې په ورځ کې له لسونه تر ۱۲ زرو جوړو پورې و او د جنسیت له لحاظه یې د تولید بڼه نظر ګاونډیو هیوادو ته غوره او بهتره وه.

په صناعتي پارک کې د هوخست د درملو د تولید فابریکه له روغتیایی پلوه او هم درملتونو نو ته د درملو په وړاندې کولو کې زیاتره ډپاملرنې وړ ګرځېدلې وه. په هر حال دغه صناعتي پارک له ۱۳۷۲ نه تر ۱۳۷۵ کال پورې د خاورو په ډیرې بدل شو، پانګه، شتمنی او سامان آلات یې چور او تالان شول او کابل یو ځل بیا د پردیو د مالونو راتلو ته سترګې په لار شو.

چاپ او خپرونې:

د دې تولیدي دستګاو تر څنګ شخصي او دولتي مطبعې، رادیو او

تلویزیون او د هغه اړوند ورکشاپونه د کابل په ګوټ ګوټ کې رامنځ ته شول.
رادیو په ۱۳۰۲ کال په فعالیت پیل وکړ او تلویزیون په ۱۳۵۷هـ ش کال د شمشاد دستګاه له لارې په کار پیل وکړ.

نوټ: د لومړی ځل لپاره رادیو په ۱۳۰۲هـ ش کال کابل ته راوړل شوه، په ۱۳۰٤ ش کال پر یو شمیر خاصو کسانو دیرش ګوشکي رادیوګانی وویشل شوې، په ۱۳۰۷ش کال د ۲۰۰ کیلو واټو په ظرفیت په کابل کې یوه دستګاه په کار واچوله شوه.

د ۱۳۱۰-۱۳۱۲ هـ ش کلونو ترمنځ د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د کابل رادیو فعالیت کاوه. له ۱۳۱٦هـ ش کال وروسته کابل رادیو خپل پراختیایي پړاوونه وهل. په ۱۳۳۰ کال کې د کابل رادیو نوم په رادیو افغانستان واوښت او په منځنیو اولنډو څپویې خپرونې کولې چې تراوسه ادامه لري. په ۱۲۸۳ هـ ش کال د امیر شیر علیخان دواکمنۍ پرمهال د شمس النهار په نامه لومړنۍ جریده له چاپه راووتله او لومړنۍ سنګی مطبعه هم وکارول شوه. د امیر حبیب الله خان په وخت کې (۱۹۰٦م) د سراج الاخبار اوونیزه د سراج الاخبار په مطبعه کې چاپ شوه، په همدې مهال حروفي مطبعه هم کابل ته راوړل شوه. د عنایت په نامه یوه بله مطبعه هم د حروفي چاپ د وسایلو او د زنګو ګرافي دستګاه په لرلو، جوړه شوه. د امان الله خان په وخت کې د امان افغان جریدې د سراج الاخبار ځای ونیو. هغه وخت په کابل بنار کې ۲۹ ورځپاڼې، اوونیزې او مجلې چاپیدلې. انیس د یوې آزادې ورځپاڼې په توګه چاپ او خپور شو. اصلاح د محمد نادر شاه په وخت کې په خپرونو پیل وکړ او د خپرونو دېره ځلانده مرحله د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د مطبوعاتو روښانه

دورد دد چې له ۱۳۵۰ کال ۱٤ ورځپاڼې، ۲۹ اوونیزې (جریدې) او ۲۷ مجلې چاپ او خپریدلې چې له دې جملې څخه ٤ ورځپاڼې، ۸ جریدې او ۲٤ مجلې په رسمی ډول د کابل مربوطې وې هغه هم په لاندې توګه:

الف: د کابل ورځپاڼې

۱- د اصلاح ورځپانه، د تأسیس کال ۱۳۰۸ش

۲- د انیس ورځپانه، د تأسیس کال ۱۳۰٦ش

۳- د هیواد ورځپانه، د تأسیس کال ۱۳۲۸ش

٤- د کابل تایمز ورځپانه په انګلیسي، د تأسیس کال ۱۳٤۰ش

دغه ټولې ورځپاڼې او جریدې په ملي مطبعه، دولتي مطبعه، عسکري مطبعه او د پوهنې مطبعه کې چاپېدلې اوس په کابل بنار کې په کمپیوټر مجهزې زیاتې وړې مطبعې شته چې د مجلو، جریدو او ورځپاڼو اړتیاوې پوره کولی شي.

ب: هغه اوونیزې (جریدې) چې په اوونیزه توګه په مرکز کې خپریدې:

ګڼه	د اوونیزې نوم	مربوط ارګان	د تأسیس کال
۱-	د پامیر جریده	بنارواڼی	۱۳۳۰هـ.ش
۲-	د زیرې جریده	پښتو ټولنه	۱۳۱٦هـ.ش
۳-	د روغتیا زیری جریده	د روغتیا وزارت	۱۳۲۸هـ.ش
٤-	د اقتصاد جریده	د سوداګرۍ اتاقونه	۱۳۱۰هـ.ش
۵-	رسمي جریده	د عدلیې وزارت	۱۳٤۲هـ.ش
٦-	د ولسي جرګې جریده	ولسي جرګه	۱۳٤٤هـ.ش
۷-	د ګرځندوی جریده	په خپله ګرځندوی	۱۳٤۷هـ.ش
۸-	د خبرونو جریده	د پوهنې وزارت	۱۳۳۰هـ.ش

ج- هغه مجلې چې په مرکز کې خپریدې:

۱ - ژوندون مجله د ژوندون د خپرونو مؤسسه ۱۳۲۷ هـ.ش

۲ - پښتون بزغ رادیو افغانستان ۱۳۱۹ هـ.ش

۳ - پیام حق مجله د اطلاعاتو او کلتور وزارت ۱۳۳۱ هـ.ش

٤ - افغانستان مجله په انګلیسی ژبه، د تاریخ تولنه ۱۳۲۷ هـ.ش(۱)

٥ - د کابل کالنی د اطلاعاتو او کلتور وزارت ۱۳۱۱ هـ.ش

٦ - میرمن مجله د مېرمنو تولنې ریاست ۱۳۳۲ هـ.ش

۷ - عرفان مجله د پوهنې وزارت ۱۳۳۲ هـ.ش

۸ - ساینس مجله د علومو پوهنځي ۱۳٤۱ هـ.ش

۹ - قضا مجله ستره محکمه ۱۳٤٦هـ.ش

۱۰ - د کوچنیانو بزغ مجله د پوهنې وزارت ۱۳۳۸هـ.ش

۱۱ - د ادب مجله د ادبیاتو پوهنځی ۱۳۳۲هـ.ش

۱۲ - د کابل پوهنتون خپرونه (مجله) کابل پوهنتون ۱۳۳۸هـ.ش

۱۳ - د جغرافیه مجله د ادبیاتو پوهنځي ۱۳٤۱هـ.ش

۱٤ - وړمې مجله د ادبیاتو پوهنځي ۱۳۳٦هـ.ش

۱٥ - وېسا مجله تجارتي بانک ۱۳۲۸هـ.ش

۱٦ - اردو مجله د ملي دفاع وزارت ۱۲۹۲هـ.ش

۱۷ - طبي بولتن د طب پوهنځي ۱۳۳٥هـ.ش

۱۸ - د حربي پوهنتون مجله حربي پوهنتون ۱۳٤۳هـ.ش

۱۹ - د هوا مجله د ملکي هوایي چلند ریاست ۱۳۳٦هـ.ش

---

(۱) په ۱۳٥۷ کال کې د افغانستان د علومو اکادمي له تأسیس سره سم د افغانستان د تاریخ تولنه د علومو له اکادمي سره مدغم او دوارد مجلې یې افغانستان او آریانا اوس په دې اکادمی پورې اړه لري. (ژباړن)

۲۰ - د بدني روزنې مجله کابل پوهنتون ۱۳۳۸هـ.ش

۲۱ - د آرېانا مجله تاریخ تولنه ۱۳۲۱هـ.ش

۲۲ - د لمر مجله د اطلاعاتو او کلتور وزارت ۱۳٤۹هـ.ش

۲۳ - د کورچنانو انیس مجله د انیس خپرندویه موسسه ۱۳٤۸هـ.ش

په مرکز کې دملي جرید و فهرست: دا جریدې پخوا خپریدلې خو اوس نه چاپیږی:

گڼه	د جریدې نوم	د امتیاز خاوند
۱	کاروان ورځپانه	صباح الدین کشککی
۲	مساوات	عبدالشکور رشاد
۳	ترجمان	علی اصغر بشیر هروي
٤	سبا	غلام نبي خاطر
۵	خیبر	محب الرحمان هوسا
٦	گهیځ	منهاج الدین گهیځ
۷	پکتیکا	شادزمان وریځ
۸	اتحاد ملی	عبدالحکیم مژده
۹	پیام وجدان	عبدالرؤف ترکمنی
۱۰	روزگار	محمد یوسف فرید
۱۱	افکارنو	انجنیر نور الله نورزاده
۱۲	پیکار	غلام محمد الماسک
۱۳	ملت	فدا محمد فدائی
۱٤	افغان	محمد حسن ولس مل
۱۵	ندای حق	مولوی عبدالستار صدیقی
۱٦	شوخک	عبدالعزیز مختار
۱۷	صداي عوام	عبدالرحیم فوزان
۱۸	سپیده دم	سید محمد بامداد
۱۹	جبهه ملي	عبدالرب اخلاقی
۲۰	پروانه	امان الله پروانه
۲۱	شعله جاوید	عبدالرحیم محمودی

د کابل مشاهير:(۱)

د کابل په بنکلي اوبنه آب و هواکې پوهان، فضلا، عارفان، هنر مندان او بې شمېره اتلان (قهرمانان) روزل شوي او د تاريخ په پانوکې يې خپل نومونه د تل لپاره پرېښي دي. دهغو تولو له پېژندنې د زرمنه کاغذ مثنوي جوړېږي. مور ددې کتاب د حوصلې په پام کې نېولو له مخې په لنډه توګه د ځينو يادونه کوو:

۱- شېخ سعد الدين انصاري (۱۱۰۸-۱۱۹۸هـ ش):

زمور د هېواد نومبالی عارف، شاعر او صوفي چې په «حاجي صاحب پايمنار او «حاجي صاحب ده بحبې» مشهورو، آثارېې ۴۳ توکه ښوول شوي او د وخت د نومبالي، علمي او روحاني شخصيت مولانا عبدالقهار زوي و.

۲- استاد بېتاب (۱۲۷۰- ۱۳۴۷ هـ ش):

عالم، فاضل او د هېواد منلي ادېب استاد عبدالحق بېتاب د ملا عبد الاحد عطار زوی د کابل په قصاب کوڅه کې زېږېدلي او کلونه کلونه يې د ښوونکي، د کابل پوهنتون د استاد او د سناتور په توګه هېواد ته خدمت کړي او د کابل پوهنتون له خوا د پوهاند د افتخاري علمي رتبې په ترلاسه کولو برېالي شوی دی. له استاد نه په نظم او نثر کې ارزښتناک آثار را پاتي دي.

۳- عبدالهادي داوي پرېشان (۱۲۷۷- ۱۳۶۶هـ ش)

د افغانستان وتلی سياستپوه، فاضل، لېکوال او شاعر د عبد الاحد زوی چې د علېمردان بن کې زېږېدلي او د برتانېاله دولت سره د

---

(۱) دغه برخه د اريک د ايديتوري بورد له خوا برابر شويدي.

افغانستان د استقلال د مذاکراتـــو د هـــيأت غړي و ء. له هغه نه په نظم او نثر زيات شمير آثار پاتې دي.

٤- عبدالحسين توفيق (زيږيدنه ۱۲۹۷ هـ ش):

د دري ژبـــې لـــه وتلـــو شاعـــرانو او لـــيکوالو څـــخه دی، چې له شوروي څخه وروسته د کابل پوهنتون د شرقي ژبو پوهنځي د دري ژبې د څانګې مشر و. د ۱۳۵۸ کال د ثور د کودتا په لومړيو ورځو کې د ګوند د مرکزي کمېټې غړی شو. د ۱۳۵۹ کال د ډسمبر د ۲۷ نېټې وروسته د ګوند د مرکزي کمېټې د سياسي دفتر غړی او د ګوند د مرکزي کمېټې د منشي په توګه دنده (وظيفه) ترسره کوله او بو وخت يې د تکـــړه ژورنـــالېست په حيث خدمت کاوه. له هغه نه زيات شمير آثار پاتې دي.

٥- ميرزا محمد جاذبي (مړينه ۱۲٦۰ هـ ش):

په ملا بزرګ مشهور د ملا محمد اسماعيل زوی مشهور عارف چې د طريقت څلور طريقې يې رهبري کولې، نو موږ د چاردهي په قلعه ء واحد کې اوسېده. د چهل ستون د واصل اباد د غره په لمن کې د هغه جاذب مزار د زړونو د خاوندانو زيارتګاه دی.

٦- محمد ابراهيم خليل (۱۲۷۷ - ۱۳٦۷ هـ ش):

د هنرمند هغه مشهور خطاط، ليکوال او شاعر د ميرزا محمد افضل زوی و. څه موده يې د امان الله خـــان د دربار د منـــشي په توګه دنده (وظيفه) ترسره کوله او بو وخت يې د تکـــړه ژورنـــالېست په حيث خدمت کاوه. له هغه نه زيات شمير آثار پاتې دي.

۷- خليل الله خليلي (۱۲۷۸ - ۱۳٦٦ هـ ش):

د غه نومبالي شاعر او وتلي ليکوال د ميرزا محمد حسين زوی دی چې د کابل د باغ جهان آرا په سيمه کې يې سترګي پرانيستي دي. ده د پوهنتون د استاد، د شورا د وکيل او سفير په توګه دندې ترسره کړي. له زياتو خدمتونو وروسته د هجرت په تاتوبي کې وفات شو.

۸-غلام سرور دهقان (۱۲۹۸ - ۱۳۶۲ هـ ش):

شاعر او عارف، خطاط د مېرزا محمد اعظم زوی دی چې د کابل په ده بوري کې اوسېده. پراداري او دولتي چارو برسېره يې عرفان او تصوف ته هم پام اړولي و. د شعرونو ديوان يې د (مزرعهء دهقان) په نامه چاپ شوی دی.

۹- شاق جمال (مړينه: ۱۳۵۰ هـ.ش):

اروانباد مېر غلام حضرت شايق په شايق جمال مشهور د امېر حبيب الله خان د زمانې له شاعرانو څخه دی. هغه خورزبی، د سلېقې خاوند وېناوال، ظريف او حاضر ځواب و. پلار يې حافظ مېر جمال الدين نومېده.

۱۰- محمد ابراهيم صفا (۱۲۸۹ هـ ش):

محمد ابراهيم صفا د محمد صفر زوی، د هېواد مشهور وېناوال دی چې حساسې دولتي دندې يې تر سره کړي دي. له آثارو څخه يې نواي کهساران او مختصر منطق چاپ شوي دي.

۱۱- ضياء قاريزاده (زيږېدنه ۱۳۰۰ هـ ش):

دغه د لوړ مقام خاوند شاعر، لېکوال او هنرمند د تازه شعرونو په وېلو برسېره د موسېقي په هنر هم برلاسي (مسلط) و، د هغه ډېرو اشعارو دخپرونو پاڼې ښکلې کړې او مشهورو سندرغاړو هم وېلي دي.

۱۲- مېر محمد علي آزاد (۱۲۵۹ - ۱۳۲۳ هـ ش):

آزاد کابلي د کابل د بالاحصار په لمنه کې نړۍ ته سترګې پرانېستې او د حبيب الله خان د دورې د لـــومړۍ ډلې او نو مبالېو شاعرانو څخه دي چې له آثارو څخه يې: د ســـراج الاخـــلاق، د سعدي د ګلســـان نظم، نخلستان، د

غزلباتو دېوان، د شېخ محي الـــدېن بن عربـــي د وصابا و ترجمه او د آزاد ذخېره نومونه با د ولي شو.

۱۳- صوفي عشقري (۱۲۷۱- ۱۳۵۸ هـ ش):

صوفي غلام نبي عشقري د عبدالرحېم زوي دی چې د پغمان په چهلتن کې زېږېدلي او اولسي خوږ ژبی شاعرو. هغه د خپل عمر کلونه په هوائخېتوب، د نصوارو په پلورلو، صحافت او شعرويلو تېرکړل دی.

۱٤- مېر غلام محمد غبار (۱۲۷٦-۱۳٥٦ش)

مؤرخ، لیکوال، سیاست پوه، د خوځښت او حرکت غوښتونکی چې مشهور اثر يې (افغانستان در مسیر تاریخ) د هغه پیژندنه تلپاتې کړه. د پلار نوم يې سید محبوب و.

۱٥- قاری عبدالله (۱۲٥۲-۱۳۲۲هـ.ش)

د هیواد دغه نومیالی عالم، شاعر او لیکوال د حافظ قطب الدین زوی و. استاد د حبیبې لیسې له لومړینو بنونکو څخه وو. او د ملک الشعراء ویاړمن لقب يې ترلاسه کړی و. د اشعارو پر دیوان سربیره له استاد څخه نور بی شمېر آثار هم پاتی دی.

۱٦- عبدالعلی مستغنی (۱۲٥۷- ۱۳٥۷هـ.ش):

د ملا رمضان زوی او د امیر حبیب الله خان د وخت له زبردستو وناوالو څخه دی چې په پښتو او دري ژبو يې شعرونه ویل او دېر آثار تري پاتی دي.

۱۷- آمنه فدوی (۱۲٤۱-۱۳۰٤هـ.ش):

د هیواد نومیالی ادیبه شاعره، مفسره، محدثه او لیکواله، د سردار نور

محـــمد خان لـــور وه. له هغی نه ډيـــر منثـــور او مـــنظوم آثار راپاتی دي. آمنی فدوي حج ته د تگ په لاره کې د يوه مـــوتر د تـــکر له املهځان حق ته سپارلی دی. چې پـــه بيت المقـــدس کې د حضرت بـــلال (رض) د زيارت ترڅنگ خاوروته سپارل شوې ده.

۱۸- احمد علی کهزاد (۱۲۸۷-۱۳۶۲هـ.ش):

د هيواد پيژندل شوی تاريخ ليکونکی احمد علي کهزاد د ميرزا محمد علی زوی په مهمود ولتي اداروکې د دندو د اجرا ترڅنگ کې تر ډير شوزيات تاريخی آثار هم ليکلي دي او همدارنگه يې له شعر ويلو سره هم مينه درلوده.

۱۹- عبدالغفور بريښنا (۱۲۸۲-۱۳۵۲هـ.ش):

د هيواد هغه ممتاز ممثل، انځور گر او هنر مند دی چې هنري آثار يې له نړيوالو شاهکارونو څخه گڼل کيږي. استاد بريښنا لومړنی افغانی هنرمند دی چې د انځور گری او رسامی په څانگه کې يې لوړې زده کړې درلودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم څپرکی

د کابل نزولۍ حرکت او د ډنګیدو پراو

له ۱۳۵۷ هـ.ش کال څخه را په دیخوا د کابل ښار د شاته تګ پرلور روان وو او ورو ورو د توغندیو تخریبونو هغه تهدید اوده. خو له ۱۳۷۲ نه تر ۱۳۷۵ کاله کابل د وحشت، تخریب چوراوتالان په ډیر بد حالت کې واقع شو چې په پایله کې لاندینۍ سیمې ورانې اوله منځه لاړې:

لویدیځ او جنوب لویدیځ:

د افشار د غره جنوب ته له قرغې نه د مامورینو تر کارتې اوله خوشحال خان مینې او قلعهء واحد څخه د تاج بیګ تر غونډۍ او د دارالامان ترمانۍ او د چهلستون له مانۍ څخه تر واصل آباد، گذرگاه، بریکوټ، د کابل ژوبن د شیرشاه مینې د لوی واټ په اوږدو کې، دریمه کارته، جمال مینه او کابل پوهنتون، د سیلو، ترانسپورتی مرکزونو او برقي بسونو په شمول ځایونه ډنګ شول.

په دې لویدیځه او جنوب لویدیځه ساحه کې ټول صنعتي کلتوري، عرفاني، روغتیایی تأسیسات، فابریکې، شخصي کورونه، پارکونه، واټونه، د تیلفون ډاګې، سیلو، جوماتونه، لابراتوارونه، کتابتونونه، پولي تخنیک

کابل پوهنتون، روغتونونه، د جنګلک فابریکه، سینما ګاني، د نجاري او حجاري فابریکې، عالي لیسې، وړکتونونه، ژوبن او ددې همزنګ د محبس سیمه په خاورو او ایرو بدله شوه.

د ګذرګاه ختیځ:

د ګذرګاه له پله څخه د پامیر سینما پرلوړې، د ماشینخانې سیمه، د کابل سیند دواړه خواوې تر شاه دوشمشیره (علیه الرحمه). د میوند واټ په استقامت میوند واټ، زوړ ښار، چند اول، شوربازار، باغ علي مردان، د پل خشتي د جومات مخـــامخ سیمه، د مراد خانی او ملي بس تصدي منځنۍ سیمه، شش درک د مـــکروریان تر پله پورې د لومړی مکروریان په شمول، د مرنجان د غونډۍ دواړه خواوې د شاه شهید په شمول بالاحصار، سید نور محمد شاه مینه تر یک لنګه کوتله او د جشن سیمه له یوې مخې ړنګه اوبې درنګه په خاورو ایرو بدل شول.

د مکروریانو د لوی پله ختیځ:

له دې ساحې وروسته د کابل - څرخي پله د سرک په اوږدو کې ټول تأسیسات، شخصي او دولتي ودانۍ د پلچرخي ترتنګي د افسوتر، د کابل بریښنا اداره، ګمرک او د صناعتي پارک ټول تأسیسات، حربي پوهنتون، زغروالې قوا دا ټول له چته تر بنسټه له خاورو سره خاوري شول.

په همدې ترتیب د پغمان د دوه لارې له کمپنۍ څخه تر پلخرخي او تنګ غارو پورې ټولې صناعتي، تخنیکي او تولیدي دستګاه ګاني له منځه لاړې.

دغو ارادي ورانـهو کابل يو ځل بيا له صناعتي، کلتوري او بشري ځواک څخه بې برخې او ضعيف کړ.

په همدې توګه د (۵۰۰,۰۰۰) زرو په حدود کې د کابل او سيدونکي له خپلـه ځايه او خپل استوګنځي څخه يا مسافر او پردي وطن ته په مهاجرت مجبور شول يا څه نا څه شهيدان شول. مالونه يې چور، خپله بې کوره اواره، متواري او در په در شول. د ژړا او چيغو غږيې د چا غوږ ته ونه رسيد.

د کابل د بيا رغونې لپاره څه بايد وکړو؟

ددې پوښتنې په وړاندې د کابل بنار د بيا رغونې او ودانولو په باب بايد څرګنده کړو چې له وسله والو افرادونه يوې لنډ مهالې اداري ته دواک ليږدول او د هغې په دوام انتقالي حکومت د افغانستان د بيا رغونې په تيرد بيا د کابل بنار لپاره له ځان سره نوی زيری ډالی کوي.

بشپـــړ باور لرو چـــې د مؤقت حکومت د پروسې په عملي کيدو سره چـــې د کابـــل په بنـــار او د هيواد په نورو ســـيمو کې سوله، امنيت او د افغانانو مصؤنيـــت تأمين شوي او دهغـه په رڼا کې د بيا رغـونې پلانونـه او پروګرامونه عملي کيږي.

لکه څنګه چې د مخه ورته اشاره وشوه کابل د پغمان له دوه لارې نـه ته څرخي پله پورې د کابل سيند د غاړو په اوږدو کې رنګ او خراب شوی دي. د ۱۳۶۸هـ.ش کال د احصائيې له مخې د رنګو شوو ناحيو د نفوسو او کورنيو شمير په لاندې ډول وو:

د رنګي شوی ناحيې	نفوس	دکورنيو شمير	د رنګيدو سلمې
پنځمه ناحيه د قلعه واحد په شمول	۱٤۷,۰۰۰	۲۱۳۰٤	په سلوکې ۵۰
دريمه ناحيه	۹۸,۲۰۰	۱٤۸۷۹	په سلوکې ۱۰۰
دويمه ناحيه	۵٤,٦۰۰	۸۸۰٦	په سلوکې ۵۰
لومړی ناحيه	۹۷,۳۰۰	۱۸۸۵۰	په سلوکې ۱۰۰
اتمه ناحيه	۱۱۷,۹۰۰	۱۷۳۳۸	په سلوکې ۵۰
اوومه ناحيه	۱٦۹,۰۰۰	۲٤۸۵۲	په سلوکې ۵۰

په دې حساب د (۵۰۰,۰۰۰) زرو په شاوخوا کې کسانو په ۱۳۷۲-۱۳۷۵ کلونو کې کابل پرېښی دي. د کابل په لويديځ، د کابل په مرکز، په رحمان مينه، او شاه شهيد عليه الرحمه کې زياترد کورونه وران او چور شوي دي او په دې ترڅ کې ټولې صناعتي او تجارتي دستګاه ګانی، بنوونځي، د اوبو رسولو شبکې، د برېښنا شبکې، تيلفون، تعليمی مؤسسی، پوهنتون او نورې بيلګې يې په بشپړ توګه له منځه تللې دي، بناً د بيارغونې محترم وزارت دې پاملرنه وکړي څو په دې ډګر کې د لاندينيو وزارتونو د کار پوهانو په مرسته د تخريب ساحه، د تخريب بڼه او د هغه احتمالي بر آورد تعيين او تثبيت کړی:

- د پوهنې د وزارت کارپوهان دي د بنوونځيو او ليسو ورانی او تخريب وڅيړي.

- د لوړوزده کړو وزارت کارپوهان دې د پوهنتون او د لوړوزده کړو د مؤسسو تخريبات او ورانی وڅيړي.

د اوبو لګولواو د برېښنا د انرژي وزارتونو کار پوهان دې د اوبو رسولو او برېښنا د شبکو ورانی و څيړي.

- د مخابراتو وزارت کارپوهان دې د تیلفون د شبکو تخریبات وڅیړی.

- د صنایعو د وزارت کارپوهان دې صناعتي مرکز ونه او تخنیکی دستګاه ګانی وڅیړي.

د فوایدعامې او ساختماني وزارت دې لارې او سړکونه وڅیړي.

له هغه وروسته چې د کارپوهانو مقدماتی چارې ترسره شوې او یو تخمینی برآورد وړاندې شو، د بیارغونی محترم وزارت دې له ذیعلاقه هیوادو څخه د مالی وجوهاتو د برابرولو په لټه کې شي.

- د نړیوال وجهي صندوق، اسلامي هیوادونو، د امریکا متحده ایالاتو، انګلستان اروپایي ټولنې، چاپان او شمالي، ختیځو لویدیځو ګاونډیو په مرسته د کار پوهانو بشپړه توګه د پانګې اچونې او زیرمه کولو او سامان آلاتو د جلبولو لارې ولټوي.

- د بیارغاونې په برخه کې لومړیتو بونه، د لنډې مودې بیارغونه، د اوږدې مودې بیارغونه، فرهنګي او کلتوری بیارغونه، داټول په پام کې ونیول شي.

- د کورونو او استوګنځیو، روغتونونو، ښوونځیو او روز نیزو مؤسسو ټولې ودانی دې په ټاکلو تصنیفونو او کټګوریو کې مطالعه شي.

- هڅه دې وشي چې د بیارغاونې د هرې برخې په باب له تحویلوونکې مرجع سره توأمیت ورکړل شي. هغه ژر بشپړیدونکي ودانی چې هغو ته د لومړیتوب حق ورکول کیږي، ډیر ژر له تمویلوونکو سره په اړیکو کې د هغو درغاونې کار پیل شي. د اوږدې مودې او زیات لګښتي پروژې دې له لویو تمویلوونکو هیوادونو سره په دویمه مرحله کې په پام کې ونیسي، خو د هغو کار باید له همدا اوسه پیل او په دې اړه جدي تدابیرونیول شي، څو د کار پایله د

کابل د بیا رغونی په ګټه پای ته ورسیږي: په هره برخه کې کاري او فني ډلې (تیمونه) ضروري دي څو د چارو د پرمخبیولو او سرعت په باب د بیا رغاونې وزارت ته ډاډ ورکړي او غوره لارې چارې ولټول شي.

د کابل بنار د بیارغاونې په اړه باید هر وزارت، هره تصدي او لوی ریاستونه د بیا رغونې د ساحو د تثبیت واکمن کیمسیونونه ولري. څو په مستقیمه توګه په بیارغونې پورې اړوند مسایل تعیین، تثبیت او مربوطې اداري ته یې وړاندې کړي او ټول د بیا رغاونې په وزارت کې توحید شي.

لازمه بلل کیږي چې د بیا رغاونې لپاره یوه ځانګړې خپرونه رامنځ ته شي څو د بیا رغاونې ساحې، د بیارغاونې بڼه، څرنګوالی او له دې سترنزې نه دوتلو لارې پکې منعکس شي.

د کابل بنار د ماستر پلان په اړه:

د کابل بنار د ماستر پلان په اړه باید وویل شي چې د کابل بنار بیارغاونه دې په اوسني بنستیز جوړښت تر سره شي. ځکه چې په ماستر پلان کې په بشپړه توګه څوپوړیزې ودانۍ په نظر کې نیول شوي دي. شنې ساحې ته پراختیا ورکړه شوې او په پام کې وو چې په زیاترده ځایو کې یو پوړیزې ودانۍ ورانې شي، خو د دغه پلان عملي کول دوه لویې نیمګړتیاوي لري:

۱ - د کابل خلک مالي توان نه لري څو د دغه د روند بار او زیات لګښت و زغمي. ځکه چې د دوه نیمو لسیزو جنګ جګړو اوبې ځایه کیدو د خلکو توان او حوصله له منځه وړې ده.

۲ - په لوړ پوړیزو او څو پوړیزو ودانیو کې ژوند کول د شوروبانو د ژوند د اکثریت مجوزه ده او په هغه ماستر پلان کې د شوروی د کار پوهانو او

مهندسینو ذهنیت ته انعکاس ورکړل شوی و چې د کابل اوسیدونکي غوره ګڼي څو خپل ځانګړی (انفرادی) کورونه په خپلو ودیزو احاطو سره وساتي او په وړواولو یو محدودو کې له خپلې فامیلي آزادی څخه برخمن واوسي.

د کابل بنارد وضعې د بنه کولو بیارغاونه:

دا به غوره وي چې د سخي د غابنی په برخه کې یولوی تونل رامنځته شی څو د کابل لویدیځې ناحیی د کابل له شمال او مرکز سره وصل کاندي او د ګذرګاه او باغ بالا ترمنځ ترافیکي فشار له منځه یوسي.

کابل بناروالي او امنیتي اداري به دنده ولري تر څو د بنارد عمومی واټونو او پلیولارو مؤقت او سیار دوکانونه له مخې لرې کړي، ځکه چې دغه وضعه په بنار کې غیر عادي ګڼه ګونه را منځته کوي، په سرکونو او پلیولارو کې تګ راتګ اخلالوي او هم بناري ترافیک له خنډونو سره مخامخ کوي.

دویم دا چې د بنار نظافت او حفظ الصحه غیر مطمئنه او ملوثه کوي.

- ترافیکي څراغونه دې په کمپیوټري سیستم عیارشي، تاکلی ثابتې او سیاري کنټرولي نقطې دې ولري.

د مسکوني او رهایشي سیمو بیارغاونه:

- کابل بناروالي د کابل خلکو ته یوه عمومی بلنه په پام کې ولري څو دځنبټن په مستقبمه مراجعه او مشاهده اړوند کورونه او ناحیې، د خساړې او تخریب بڼه او اندازه تثبیت شي.

- د استفادې نه وړ خاورې دوړې او دورانو شوو کورونو پاتې شونې باید له کورونو او د بنار له ناحیو څخه لرې کړای شي.

- لږ ترلږه وران شوي کورونه پاک او د کار لپاره دې چمتو شي.
- د کابل زوړ بنار بايد د بيا رغاونې پراوتـه ورننوزي، اوله دې خراب حالت څخه په يوه معاصره بناري هسته بدل شي. د کابل دزاړه بنار د بيارغاونې په وخت کې دې د ګذرونو او تاريخي ځايونو نومونه وساتل شي.
- د کابل بالاحصار او د شير دروازې پرسر پراته ديوالونه دې د تاريخي ودانيو په توګه وساتل شي او د ګرځندويانو او سيلانيانو، لرغو نپوهانو د ليدلو اوکتنې لپاره دې چمتو شي او دهغو د لويدلو او زيات تخريب مخنيوی دې وشي او دهغو عايد دې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ورکړل شي.
- وړانديز کيږي چې د شير دروازې د غره له څوکې دې تر بالاحصار پورې د هوايی ترانسپورټ کيبلونه وغزول شي او هم دې د شير دروازې د غره له څوکې د آسمايی غره ترڅوکې د هوايی ترانسپورتي کوچنو بريښنا يې کيبلونه په پام کې ونيول شي. څو د شير دروازې د غره لپاسه د ديوالونه او د کابل بنکلې او توريستيکي منظره؛ سيلانيان، ګرځندويان او نور مراجعين له هوانه په مستقيمه توګه و ګوري په بشپړ باور سره ويلای شو چې د کابل لپاره به له دې درکه ديا دونی وړعايد ترلاسه شي.

په پای کې د لنډ مهاله حکومت د موجوديت او د انتقالي حکومت د زيـري، سـيـاسـی ثـبـات او امـنـيـت پـه پـام کـې نـيـولـو سـره دې رونې اندو (روښانفکرو)، کارپوهانو، سوداګرو او تکنوکراتانو ته د نړۍ په سطحه يوه عمومی بلنه ورکړه شي، څو ټول يو بل ته لاسونه سره ورکړي، د کابل او هيواد په بيارغاونه کې کار نده ونډه واخلي او په بيلا بيلو برخو کې يې له تجربو څخه استفاده وشي. په همدې هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF PACKU 10274

د مأخذونو لړليک

- آریانا دایرة المعارف، اطلاعات او کلتور، په شپږو ټوکونو کې، ۱۳٤٦هـ.ش.
- آهنگ، محمد کاظم. تاریخ مختصر وسایل رسانه های جمعی در افغانستان، توانا، اریک، د اکبر د اطلاعاتی او نشراتی منابعو مرکز، پیښور، ۱۳۸۰هـ.ش.
- حبیبی، عبدالحی. بالاحصار کابل، د کابل پوهنتون مجله، ۱۳٤۸هـ.ش.
- ذ هین، عبدالرسول. شهر کابل، د جغرافیې مجله، کابل پوهنتون، ۱۳٤۸هـ.ش.
- سالنامه ء احصائیه مرکزی. نفوس نواحی شهری، کابل، ۱۳۵۸هـ.ش.
- سالنامه ء احصائیه مرکزی. نفوس نواحی شهری، کابل، ۱۳۷۵هـ.ش.
- عارض، غلام جیلاني. جغرافیای شهري، درسي متن، کابل پوهنتون، ۱۳٦۱هـ.ش.
- عارض، غلام جیلانی. شهر کابل، د جغرافیې مجله، کابل پوهنتون، ۱۳٤٤هـ.ش.
- عارض، غلام جیلانی. کابل مجله، انګلیسی متن، پښتو ټولنه، ۱۳۵٤هـ.ش.
- عارض، غلام جیلانی. کابل دیروز... د پیښور چاپ، ۱۳۷۷هـ.ش.
- غبار، میر غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ، ۱۳٤٦هـ.ش.
- غرغښت. رهنمای کابل، کابل ښاروالي، ۱۳۵۰هـ.ش.
- فقیري، احمد فواد. نواحی شهری، شخصی یادداشت، ۱۳۸۰هـ.ش.
- فاولز. ل. گری سکونت در شهر، ژورنال جغرافیه نمره، المان، ۱۹۷۲م.
- ورکشاپ طرح پالیسی ملی مسکن در افغانستان، کابل، د ۱۳٦۹هـ.ش کال سنبله.
- یمین، محمد حسین. افغانستان تاریخی، د پیښور چاپ، ۱۳۸۰هـ.ش.


(c) ketabton.com: The Digital Library

د اریک د گرځنده کتابتونو د اداری خپاره شوی کتابونه

۱- د افغانستان عمومی جغرافیه
۲- جغرافیای عمومی افغانستان
۳- د افغانستان تاریخی ودانی
٤- بناهای تاریخی افغانستان
٥- د افغانستان محلی خواړه
٦- ورزشهای محلی افغانستان
۷- سپینه کوتره
۸- کمان طلایی
۹- زده کړو چی ورزده کړو!
۱۰- بیا موزیم تا بیاموزانیم!
۱۱- په افغانستان کی د چاپیریال ساتنه
۱۲- حفاظت محیط زیست در افغانستان
۱۳- په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
۱٤- تربیه و تهیه، برزق و باغها در افغانستان
۱٥- د تمدن سوغات
۱٦- ارمغان تمدن
۱۷- زلزله در افغانستان
۱۸- په افغانستان کې زلزلی
۱۹- معیوبین و جامعه
۲۰- معیوبین او ټولنه
۲۱- د افغانستان لنډکی تاریخ
۲۲- تاریخ فشرده، افغانستان
۲۳- د چرګانو ساتنه او پالنه
۲٤- مرغداری
۲٥- دنیای کودک
۲٦- د ماشوم نړی
۲۷- نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
۲۸- د افغانستان اقتصادی حالت ته یو کتنه
۲۹- د شاتو مچیو روزنه
۳۰- زنبور داری
۳۱- د افغانستان مشاهیر
۳۲- مشاهیر افغانستان
۳۳- د افغانستان کلک پوستي میوي
۳٤- میوه های سخت پوست افغانستان
۳٥- جغرافیای ولایات افغانستان
۳٦- د افغانستان د ولایتونو جغرافیه
۳۷- تکنالوژی بایوگاز
۳۸- د بایوگاز تکنالوژي
۳۹- پرخوری یا خود خوري
٤۰- ډیر خوراکی
٤۱- بازی های عامیانه اطفال
٤۲- د ماشومانو ولسي لوبي
٤۳-٤٤- لنډي ها
٤٥- رهنمای تشخیص وتداوی امراض چشم، گوش، گلو وبینی
٤٦- د ستر گو، غوږ، ستوني او پزی ناروغیو د تشخیص او درملنی لارښود.
٤۷- سرگرمی با تجربه های علمی
٤۸- په عملي تجربو سره وخت تیروئ
٤۹- په افغانستان کې کانی زیرمی
٥۰- ذخایر معدنی افغانستان
٥۱- اساسات ماهی پروری
٥۲- د کبانو د روزلو لارښونی
٥۳- اوبه د ژوند سرچینه
٥٤- آب سرچشمه، حیات
٥٥- تدبیر منزل
٥٦- د کور سبزیجات
٥۷- سبزی ها
٥۸- سابه
٥۹- د افغانستان مشاهیر (دویم ټوک)
٦۰- مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
٦۱- توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
٦۲- په افغانستان کې د باغونود پرمختګ په هکله ګټورې لارښوني
٦۳- شاهراه های افغانستان
٦٤- د افغانستان لوي لارې
٦٥- ورزش
٦٦- ورزش (پښتو)
٦۷- تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستان
٦۸- په افغانستان کې د ډله ایزو اړیکو وسایلو لنډ تاریخ
٦۹- سیمای محیط زیست افغانستان
۷۰- د افغانستان د چاپیریال بنه
۷۱- اقتصاد
۷۲- اقتصاد (پشتو)
۷۳- تخنیک ابتدایی رادیو
۷٤- د رادیو لومړنی تخنیک
۷٥- د افغانستان مشاهیر (دریم ټوک)
۷٦- مشاهیر افغانستان (جلد سوم)
۷۷- دانستی های مالداری و وترنری
۷۸- د وترنری او مالداری په هکله لارښوونې
۷۹- صنایع دستی افغانستان
۸۰- د افغانستان لاسي صنایع
۸۱- هرات در دوره، تیموری ها
۸۲- هرات د تیموریانو په دوره کې
۸۳- نباتات صنعتی
۸٤- صنعتي بوټي
۸٥- جهان نما
۸٦- نړی بنود
۸۷- گلدسته، اطفال
۸۸- د ماشومانو گل غونچه
۸۹- آب های تحت الارضی و معدنی افغانستان
۹۰- د افغانستان ترځمکې لاندې او کانی اوبه
۹۱- روغه ټولنه
۹۲- جامعه، صحصمد
۹۳- شهر کابل در طی قرون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
2.12601
ARE
10274
Cop. 1



پوهاند غلام جيلاني عارض د محمد اسمعيل ځوي د کابل ولايت دچهار دهي ولسوالي په قلعهء قاضي کي زيږيدلي.

لوړي زده کړي:

د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د تاريخ او جغرافيې له څانګې لسانس (۱۹۶۳ م کال)، دجغرافيې په څانګه کې د امريکا د متحده ايالاتو د کالورادو پوهنتون څخه ماستري (۱۹۶۶ م کال) د متحده ايالاتو د واريزونا پوهنتون فولبرايټ سکالرشپ او په تاريخ کې د دوکتورا کاندید (۱۹۹۳ م کال).

رسمي دندي او اداري کارونه:

برسيره پردي چه د جغرافيې دڅانګې استاد و، په ۱۳۵۵ هـ. ش کال يې دپوهاند (پروفيسور) علمي رتبې ته ترفيع کړې او مافوق دولتي رتبه لري. د جغرافيې د موسسې امر، د جغرافيې مجلې او جغرافيې بولتن مسئول مدير، دجغرافيې دڅانګې امر، دوه ځله دځمکپوهنې دپوهنځي رئيس، دوه ځله د پوهنتون علمي مرستيال او څو ځله د پوهنتون علمي شورا غړي.

په نړيوالو کنفرانسونو کې ګډون:

په هندوستان، امريکا، ايران، پاکستان او کابل کې يې په (۱۱) نړيوالو سيمينارونو کې ګډون کړي دي.

چاپ شوي علمي آثار:

جهان امروز، اقليم حياتي افغانستان، اقليم شناسي عمومي، جغرافيه فزيکي، جيومورفولوجي، کارتوګرافي وفوتو هاي هوايي، اساسات نقشه برداري، روش تحقيق جغرافيهء شهري، جغرافيه عمومي افغانستان، جغرافيه طبيعي افغانستان، جغرافيه فزيکي عمومي، خاکشناسي و جغرافيه عمومی، مطالعات مقايسوي درهء لوګر و غوربند، دافغانستان ولايتونو جغرافيهء دافغانستان جغرافيه (په انګليسي ژبه)، دمعارف داو ومو او لسمو ټولګيو جغرافيه، د افغانستان لويي لاري او هم دا اثر (کابل بنار د پيړيو په اوږدو کې)، همدا رنګه په دري پښتو او انګليسي ژبو يي د هيواد دننه او بهر په مطبوعاتو کې زياتو مقالې خپرې شويدي.

د اريک ګرځنده کتابتون
ځواکمن
د اکبر د اطلاعاتی او نشراتی منابعو مرکز

د اريک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړی
پرله پسې نومره ۹۴

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library